# د طنز لیکلو هنر

لیکوال: عبدالنافع همت

۱۳۹۵ ش کال

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# د طنز لیکلو هنر

لیکوال: **عبدالنافع همت**

برېښنالیک: **an_himmat@yahoo.com**

د موبایل شمېره: **۰۷۹۵۲۵۲۶۵۲**

خپرندوی: **اکسوس کتابپلورنځی**

کمپوز او ډیزاین: **حسیب الرحمن**

تصحیح: **خلیل احمد ثارن**

د چاپ کال: **۱۳۹۵ ش**

چاپځی: **وایګل چاپ**

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

۰۲۰۲۵۰٤٦٥۲ – ۰۷۹۸۹۸۹٦۹٦

aksosbookstore@gmail.com

aksosbookstore.af

aksos book store

aksosbookstore

ددغه کتاب د چاپ او هر ډول خپرولو حق له خپرندوی سره خوندي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

دا کتاب هغه چاته ډالۍ کوم چې په هنري وسله پر
اجتماعي فساد برید کوي.

(عبدالنافع همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړلیک

د طنز  لیکلو هنر ........................................................................ ۵
د ښاغلي سر محقق زلمي هېوادمل یاداښت: .................................... ۵
زه څه وایم؟.................................................................................... ۷
د پوهاند پښتون آقا شېرزاد یاداښت: ............................................... ۷
د خندا زرین کاڼي ......................................................................... ۱۰
دخېړنوال عبدالغفور لېوال یاداښت:............................................... ۱۰
د طنز  لیکلو هنر  ولې او د څه لپاره؟ .......................................... ۱۵
د لیکوال خپل یاداښت: .................................................................. ۱۵
په پښتو ژبه کې د طنز لیکلو لنډ تاریخ ........................................... ۲۰
د طنز پېژندګلوي............................................................................ ۲۷
بلکې په ټولو ژبو کې یو پېچلی هنر بلل کېږي. .................................. ۲۸
د طنز هدف..................................................................................... ۳۸
د طنز  ارزښت................................................................................. ٤٥
طنز  ادبي ژانر  که ادبي سبک؟ ........................................................ ۵۳
د طنز  سبکونه................................................................................ ٦٤
د طنز بنسټونه ................................................................................ ٦۸
د خندا لاملونه ................................................................................ ۷٦
د خندا په اړه  بېلابېلې تیورۍ ........................................................ ۷۹
په ټولنه  کې ځانګړی  تناسب او انساني تصور ................................... ۸٤
د انسان په ذهن کې د جوړ شوي تناسب ړولونه ................................. ۸٦
طنز ته ورته خپلونه ......................................................................... ۹٦
د طنز بڼې.................................................................................... ۱۰۸
د  طنز  قالبونه.............................................................................. ۱۱۷
د طنز  لیکلو تخنیکونه.................................................................. ۱۳٤
د طنز ژبه..................................................................................... ۱٦۱
د طنز لیکلو عملي پړاوونه ............................................................ ۱٦٦
ماخذونه: ...................................................................................... ۱۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طنز لیکلو هنر

## د ښاغلي سر محقق زلمي هېوادمل یاداښت:

کله چې د شلمې پېړۍ په دوران کې پښتنو ادبي مطالعات پیل کړل، نو د پښتو ادبیاتو د ژانر شناسۍ په مباحثو کې یو و نیم ځای د طنز و مزاح په باب خبرې شوي او ورسره یې د معاصر دوران د طنز لیکونکیو یادونې هم کړي دي. مرحوم اجمل خټک، مرحوم ایوب صابر، محقق حبیب الله رفیع، سر محقق دوکتور سید محی الدین هاشمي او ځینې نور لیکوال دي ، چې مو ږ د دوی په ځینو آثارو کې د طنز پر اهمیت، ضرورت او جوړښت په باب یادونې مومو، خو د طنز لیکنې د هنر، تاریخچې، هدف، اهمیت ،جوړښتونو او ارزښتونو د ښوولو په باب تر اوسه په پښتو کې زما تر نظر بل اثر نه دی تېر شوی .

د خوښۍ ځای دی چې دا تشه ښاغلي عبدالنافع همت ډکه کړه او ( د طنز لیکلو هنر) تر سرلیک لاندې یې دا مستقل اثر ولیکه او تر کومه ځایه چې ورته ممکنه وه د موضوع پر بېلابېلو اړخونو یې بحثونه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. د طنز لیکنــې د تــاریخ تــر څنــګ یــې د طنــز پــه پېژندنــه، هــدف، ارزښت او د طنز لیکنې پر اصولو او سبک ښه بحثونه کړي دي. د دې اثر له لیکلو سره زموږ په ادبي مطالعاتو کې یوه ښه اضافه وشـوه او د پښتو د ادبي مطالعاتو د پرمختګ په لاره کې یو مفید ګام اوچت شو. په کار ده چې زموږ هغه ځوانان او نور ښاغلې چې له پښتو مطالعاتو سره شوق لري، په مطالعاتو کې دي هغو موضوعاتو ته توجه وکړي ، چې تر اوسه هیڅ نه دي څېړل شوي، لږ څېړل شوي او یا زیات تحقیق ته یې ضرورت لیدل کېږي، لکه ښاغلي همت چې دا کار کـړی دی. زه همـت صاحب ته د دې کار له امله مبارکي وایم او د دې لیکنــې لـه لارې لـه خپلـو نـورو ښـاغلیو څخـه هـم غـواړم چـې د پښـتو د ادبي مطالعـاتو د پرمختګ لپاره د ډېرو موضوعاتو مطالعې ته متوجـه شي او پـر تکـراري، زړو او ژوولیو مضامینو باندې له شـخوند وهلـو ځانونـه وژغـوري. مـوږ د مضامینو او موضوعاتو له فقر سره نه یو مخامخ، بلکې د خپلـو مطالعـاتو لپاره وسیع میدان لرو، یوازې زموږ کار، شوق، ذوق او له سهل انګارۍ نه پرهېز موږ خپل هدف ته نژدې کوي او په دې توګه بـه مـوږ د خپلـو ځوانو څېړونکیو په همت، د خپلو مطالعاتو نویو کولـو او بشـپړتیا خواتـه پرمخ ولاړشو او ورو ورو به هغه هدف ته نژدې شو، چې زموږ هېوادوال د پښتو آثارو د مطالعې ضرورت احساس کړي.

همت دې زموږ د ځوانانو مل وي.

په درناوي

سر محقق زلمی هېوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زه څه وایم؟

## د پوهاند پښتون آقا شېرزاد یاداښت:

پخوا به پښتنو د مړو قدر کاوه، مړه به یې یادول، مړه به یې لمانځل، د مړو پاتې اثار به یې چاپول چې دا هم ښه کار و او که اوس هم څوک دا کار کوي، ښه کار کوي، خو له نېکه مرغه اوس د مړو تر څنګ ژوندي هم لمانځل کېږي، د هڅو او مثبتو کارونو قدردانی یې کېږي چې له دې قدرمنو نه یو هم تکړه ژورنالیست، شاعر او لیکوال عبدالنافع همت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همت صاحب ډېر کمالونه لري، خو زما یې طنزونه تر ټولو ډېر خوښېږي. زما په اند چې د شعر، لنډو کیسو او نورو هنري اثارو په پرتله د طنز لیکل ستونزمن کار دی، ځکه که چېري طنز لیکل اسانه کار وای، نو موږ به په پښتو ژبه کې د ګوتو په شمېر طنز لیکوال نه درلودای. طنز لیکوال عبدالنافع همت پنځه کاله زما محصل و، زه یې په ټوله مانا پېژنم، د درنو خصوصیاتو لرونکی انسان و، برده بار و، تر ټولو ټولګیوالو په ادبي مسایلو ښه پوهېده، خو کله چې به په ټولګي کې د طنز خبره رایاده شوه، نو همت به همت وکړ، د طنز په اړه به یې دومره دقیق معلومات ورکول تا به ویل چې د طنز په اړه یې ځانګړې فاکولته لوستې ده.

همت صاحب د ټولګي د هڅاندو ټولګیوالو له ډلې څخه و، زما هم هغه محصل تر نورو ډېر خوښېږي چې خوځښت ولري، په ټولګي کې غلی ناست وي، پر ځای پوښتنې وکړي او استادان پر خوځښت او حرکت راولي چې دغه کمال همت صاحب درلود او تل به یې له استادانو څخه د اړوندو درسي موضوعاتو په اړه پوښتنې کولې او خپله هم په ډېرو مسایلو پوهېده، ځیرک او با استعداده شخص و.

ما چې کله دا اثر ولوست، نو راته څرګنده شوه چې همت صاحب په رښتیا د طنز د تیورۍ په اړه ډېر ښه مواد ترتیب کړي او په دې اړه یې ډېر زیار ګاللی دی. د طنز په اړه یې جامع او هر اړخیزه څېړنه کړې، د طنز په مختلفو اړخونه یې بحث کړی او په ځینو ځایونو کې یې له اړتیا سره سم د طنز نثري او منظومي بېلګې هم راوړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په اند دا یو غنیمت اثر دی او فکر کوم چې تر اوسه به په پښتو ژبه کې بل چا د طنز د تیوری په اړه تر همت صاحب پورته کار نه وي کړی. زه په پای کې همت صاحب ته د دې گټور اثر د چاپ مبارکي وایم او هیله لرم چې نور اثار هم وپنځوي او د پښتو ژبې مینه والو ته یې وړاندې کړي.

د عبدالنافع همت د بریاوو په هیله

پوهاند پښتون آقا شېرزاد

ښوونې او روزنې پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خندا زرین کاڼي

## دڅېړنوال عبدالغفور لېوال یاداښت:

یو ولس چې ځلوېښت کاله د غم په بټۍ کې نیني شوی، اوښکې یې وچې شوي او سپېرو شونډو یې خندا هېره کړې وي، د هغه ولس رواني حالت به څنګه څېړل کېږي؟ اوس دې نو اوتریشي زېګموند فروید او د هغه شاګردان کارل ګوستاو یونګ یا الفرد ادلر، اریک برن یا کوم بل یو د نوي زمانې ارواپوه راشي چې د دې مخلوق په سوځېدلو ارواوو کې څه موندلای شي؟

ارواپوهان له یوه اړخه د خوبونو پربنسټ اروا څېړنه کوي، هغه ملت چې ځلوېښت کاله کېږي، خوبونه نه شي لیدلای څنګه یې ارزوئ؟ هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت چې ښايي ديوې موسکا لپار ه هـم نـړۍ تـه د سـوال لاسـونه لپـه کوي او خوبونه په خيرات کې غواړي.

ما با يد د ښاغلی عبدالنافع همـت پـر جالـب او خـورا ابتکـاري کتـاب خپله ليکنه له جدي مسايلو راپيل کړې وای، ښايي کره کتونکي به راته ووايي چې تا خو له پيله په غمجنو او شاعرانه ځگېرويو او سـاندو خـبره راپيل کړه، د دې ساندو له طنز او ( د طنز ليکلو هنر) سره څه کار؟ رښتيا به وي، خو ما ولوستل چـې تنـاقض ( Incongruity) ، تضـاد ( Ambiguity) د طنز ځانگړنې دي او که يو څه ستاسو د تمې پرخلاف راپيل شول او تاسو ته يې د سرچپه پيل و پای پوښتنه پيدا نـه کـړه، پـه دې کې د طنز جوهر مه لټوئ. زه پوهېږم چې طنز نه ليکم، بلکې د طنز پوهنې پر يو داسې څېړنيز کتاب د څه ليکلو تکل لرم چـې مـا پـه خپله هم دېر څه ورڅخه زده کړل.

طنز او د طنزي پېښو له امله د خندا جـوهر زمـوږ پـه اروا کـې نغښـتی دی او کوم بهرنی عيني وجود نه لري. په طبيعت کې اشيا او پـه ټولنـه کې انسانان زموږ له تصوراتو بهـر او خپلـواک دي، طنـز زمـوږ پـه اروا کې د واقعيتونو انعکاس دی، هر کله چې دا انعکـاس د منطقـي تمـې پر خلاف د تضاد، تناقض يا هم سرچپه هِرم په توگه راڅرگنـد شي، مـوږ خاندو او طنز زېږي.

بېرته ورگرځم د خپلې ليکنې د پيل کرښـو تـه. افغانـانو د تـاريخ پـه تـر ټولو ترخو شپو ورځو کې طنزونه توليد کړل. زما يادېږي چې د کابـل کوڅه کوڅه ، يوه له بلې سره جنگېـده او د يـوه کـور بـام د بـل کـور پـر وړاندې سنگر گرځېدلی و، کابليانو به سـياسي طنزونـه پـه کوڅـو کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولیدول، طنزي نظمونه، طنزي پېښې، ټوکې ، هزل، هجو او آن د ماشومانو طنزي سندرې :

قوقو قو برگ چنار

رهبرا شیشته قطار ....

او دا هماغه ورځې وې چې د کابل وچ لښتي په وینو لانده و او کوڅه ډېبو سپیو یوازې د مړو شویوکابلیانو غوښې خوړلې او بس. دا په دې مانا چې طنز و، طنز شته او طنز به وي. په هغو شپو او ورځو کې چې طنز ورک نه شو، هېڅکله به هم ورک نه شي.

څو ورځې مخکې مې د استاد شاعر واصف باختري شهکار شعر ( بیان نامه وارثان زمین) یوځل بیا ولوست. استاد ورته بل نوم هم ایښی دی: ( شکرخند درمتن یک گریۀ تلخ ) :

((گوش فرا دارید

ای عوام کاالانعام!

مارا زبانی خاص است ...))

له کلونو کلونو مې په خپلو افغاني ادبیاتو کې د طنز برخلیک ته سودا وه، ما ویل دا ادبي ځېل لکه چې هېر شو؟ خو د استاد په دې شهکار منظوم طنز کې د دري ادبیاتو له اړخه او د ښاغلي همت په څېر د ګڼو پښتنو طنز لیکونکیو د طنزونو په لوستلو سره چې ګڼ یې د فیسبو ک په مجازي دنیا کې خپرېږي ، ببرته ډاډه شوم چې طنز په خپل ټول قوت سره لا ژوندی دی.

تر دې لا بل ښه زېری دا وګڼئ چې نه یوازې طنز، بلکې طنزڅېړنه هم ژوندۍ او ګرځندۍ ده، بیا هم په دري کې زما د مشر- دوست ښاغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال نوراني (هنرطنزپردازی) او په پښتو کې د محمود نظري (طنز څه شی دی؟) او دا دی تر ټولو نوی یې همدغه ستاسو په لاس کې کتاب (د طنز لیکلو هنر) زېری راکوي چې په تیوریک او څېړنیز ډګر کې هم طنز تر نورو ادبي ځېلونو وروسته نه دی پاتې.

د ښاغلي همت کار، زما لپاره ځو داسې ځانګړنې لري چې تر نورو یې توپیرونه او نوښتونه را په ګوته کولای شي. ښاغلي همت په خپل کتاب کې د طنز اړیکه له خندا سره او په انساني اورګانیزم کې د خندا عوامل هم څېړلي دي. دا کټ مټ د شعر په اړه څېړنې ته ورته دی چې شعر له کوم ځایه راهستېږی او چېرته زغمل کېږي ( جذبیږي) ؟ د طنز په اړه له دې لیدلوري، بحث ما ته په مخه نه و راغلی.

مورږ ولې خاندو؟ که د دې ځواب مو وموندہ، نو د طنز هغه ځانګړنې چې په انساني اروا کې ښه ترا زغمل کېدلای شي، په اسانی سره موندلای شو. د هنر په اړه انتزاعي بحثونه د اوسنیو انسانانو لپا ره قناعت ببنونکي نه دي. تجربي (Empirical) میتود دلته هم د تطبیق وړ دی، اوس باید په دې پسې وګرځو چې د انساني اروا کومې ځانګړنې هنر را جذبوي، دا څه ډول اړیکه ده؟

د ښاغلي همت کار له دې اړخه په زړه پورې دی چې طنز یې له ادبیاتو څخه ور پورته د هنر په پراخه زمینه کې څېړلی دی، ځکه د ده په نظر طنز یوازې یو ادبي ځېل ( ژانر Genre) نه، بلکې داسې یوه هنري تومنه ده چې په ګڼو ځېلونو او خپلونو کې ځان راښرګندوي. که یوازې ادبي لیکنې طنز وبولو، نو په تمثیلي، تصویري، غږیزو او ترسیمي هنرونو کې طنز څه وبولو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ځېړونکی په خپله استقرايي ( Inductive) شېوه دې پوښتنې ته ځواب وايي، له همدې کبله موږ گورو چې د هنر او ادبیاتو ترمنځ د طنز لپاره یو نوی ځای پرانیستل کېږي. د دې کتاب لیکوال پخپله یو پیاوړی طنز لیکونکی دی، له همدې کبله په دې کتاب کې هره نظریه د خپلو تجربو په زرینو کاڼو تلي او که کومه نظریه یې له تجربو سره جوړه نه وي، خپل نظر وايي. په څېړنه کې پر تجربو اتکا د دې ترڅنگ چې د څېړونکي ځانباوري ښيي، څېړنه د متعددو نظرونو ترمنځ د سرگردانۍ له ابهام څخه ژغوري او که بله لاره نه وي، څېړونکی د خپلې تجربې له لیدلوري، څخه پایلې ته نږدې کېږي.

که یو مهال د جگړې د اوږده دوران ادبیات روانکاوي کېږي، نو د تخلیقي - هنري اثارو تر څنگ د هماغې زماني تحقیقي- تحلیلي اثار هم ورسره کتل کېږي، زه باور لرم چې زموږ د غمجنې زمانې د طنز لیکنې د تحلیل پرمهال به د ښاغلي همت دغه غنیمت کتاب هم د یوه په زړه پورې لاسوند په توگه د پښتو طنزلیکنې په برخه کې له مهمو سرچینو څخه وگڼل شي. د ټولو هېواد والو پرشوندو د یوې تلپاتې موسکا په دعا او ښاغلي عبدالنافع همت ته د تخلیق او تحقیق په برخه کې د نورو زړورو گامونو د پورته کولو په هیله او تمه .

درنښت

څېړنوال عبدالغفور لېوال

د تلې لومړۍ نېټه، ۱۳۹۵ لمریز کال

کرغه، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز لیکلو هنر ولې او د څه لپاره؟

## د لیکوال خپل یاداښت:

ادبي اثار لومړی زېږي او بیا یې تیوري لیکل کېږي. د ادبي تیورۍ یوه برخه د ادبپوهانو، ادیبانو، کره کتونکو او ټولنیزو علومو کارپوهانو نظریات په خپله لمنه کې رانغاړي او بله برخه یې خپله له ادبي اثارو څخه را ایستل کېږي. په پښتو ژبه کې که څه هم د ادبي تیورۍ په اړه کتابونه لیکل شوي، خو د هر ادبي ژانر، سبک او هر اړخ په اړه لیکل شویو کتابونه شمېر خورا لږ دی.

د ادبي اثارو په لړ کې یو هم طنز دی چې پښتو ژبې ته نوی راغلی دی. طنز که څه هم ډېر مینه وال لري او ډېری لیکوال غواړي طنز ولیکي، خو څرنګه چې د طنز په اړه تیوریک اثار لږ لرو، نو له همدې امله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول پوره طنزونو شمېر هم لږ دی. هغه څه چې دا مهال په لاس کې لرو، ډېری يې ژباړې او يا دبهرنيو تيوريو په رڼا کې ليکل شوي دي. په دې اثارو کې د افغاني ټولنې ټولنيز او فرهنګي جوړښت له پامه غورځول شوی او يوازې د بهرنيو پوهانو پر نظرياتو تکيه شوې ده. بله نيمګړتيا يې دا ده چې پښتو طنز د تيورۍ په کاڼي تلل شوی، خو د طنز تيوري د طنزي اثارو په تله نه ده تلل شوې، همدا لامل دی چې په پښتو ژبه ليکل شوي تيوريک اثار له طنز سره منطقي تړاو نه لري او ځوانو ليکوالو ته په عملي ډګر کې لاره نه شي ورښوولای. ډېری ځوان ليکوال نه يوازې دا چې غواړي طنز وليکي، بلکې له دې سره هم مينه لري چې د طنز په تيورۍ ځانونه پوه کړي.

لکه څنګه چې طنزي سبک په پښتو ادبياتو کې نوی دود شوی، دغسې د طنز تيوري هم نوی بحث دی او ډېری ليکوال څه چې آن ځينې طنزليکوال هم د طنز د تيورۍ په اړه کره معلومات نه لري. ځينې ځوان ليکوال د طنز په نوم يو څه ليکي او بيا يې په يوه ادبي غونډه کې لولي او يا يې په ټولنيزو رسنيو کې خپروي چې خورا تود هرکلی يې کېږي، خو وروسته خبرېږي چې ليکنه يې طنز نه، بلکې کوميډي، هزل يا هجوه ده، آن دا چې داسې کتابونه هم چاپ شوي چې پر پښتۍ يې طنز ليکلی، خو که د طنز په تله يې وتلو، نو طنز نه شو ورته ويلای.

زه له شلو کالو راهيسې طنز ليکم، د کره کتنې ډېرو باندارونو ته تللی يم، له ډېرو ليکوالو او کره کتونکو سره مې د طنز د تيورۍ په اړه بحثونه کړي، خو داسې څه مې نه دي موندلي چې د معاصر طنز ليکنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه کې دي د ځوانو ليکوالو لاسنيوی وکړی، ځکه نو ما هوډ وکړ چې ( د طنز ليکلو هنر) کتاب وليکم.

دا کار په لومړي سر کې اسانه راته ښکاره شو، خو کله چې مې عملي څېړنه پيل کړه، نو پوه شوم چې يو ډېر گران کار ته مې لاس وراچولی دی، ځکه په نړيوالو ژبو زه نه پوهېدم او د افغانستان په ملي ژبو کې د طنز په اړه معلومات خورا لږ وو. د ماخذونو په پيدا کولو پسې مې ډېرې منډې وکړې او ډېرې ستړياوې مې وگاللې. په لومړي پړاو کې مې په دې برخه کې پښتو او بيا مې دري او اردو اثار ولوستل. بيا مې د ځينو دوستانو په مرسته له ځينو عربي او انگليسي کتابونو څخه معلومات تر لاسه کړل او په پای کې مې له طنز ليکوالو، کره کتونکو او ادبپوهانو سره مرکې وکړې.

ما په دې کتاب کې هڅه کړې چې پښتو طنز لومړی د افغاني ټولنې په دننه کې مطالعه کړم او بيا يې د تيورۍ په تله وتلم. د طنز هغه اړخونه مې هم څېړلي چې تر ما مخکې لږ څېړل شوي او يا خو بيخي پام نه دی ورته شوی. په دې لړ کې د طنز په اړه يو نسبتاً جامع تعريف يو اساسي اړتيا ده چې ما په دې اړه پوره هڅه کړې ده. طنز ته ورته خېلونه څېړل او هغه ډلبندي کول يو ډېر ضروري کار دی چې تر دې مهاله دومره پام نه و ورته شوی. د نوي ټيکنالوژۍ په راتلو سره د طنز په تصويري برخه کې د طنز کورته نوي مېلمانه راغلې او له دې تنې څخه نوي ځانگې هم رازرغونې شوي چې بايد وڅېړل شي. ډېری ليکوال اوس هم د پخوا په شان تصوري طنز يوازې کارټون او کاريکاټور بولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال دا چې دا ساحه اوس ډېره پرخه شوې او باید ټولي څانګې يې وڅېړل شي چې ما دې برخې ته ډېر پام کړی دی.

دغه ډول نژدې ټولو لیکوالو داسې انګېرله چې ګواکې طنز یو خپلواک ادبي ژانر دی، په داسې حال کې چې طنز ژانر نه، بلکې ادبي سبک دی. ما هڅه کړې چې په دې برخه کې ډېر دلایل وړاندې او دا موضوع پوره وڅېړم. د طنزي سبکونو په اړه هم تر دې مهاله چا څه نه وه لیکلي چې زما په اند یوه تشه بلل کېده. د طنز لیکلو تخنیکونه یوه ډېره مهمه موضوع ده، خو چا په تفصیل بحث نه و وړاندې کړی. په طنز کې خندوونکی انځور یو مهم بحث دی چې د طنز له دوو بنسټونو څخه بلل کېږي، خو دومره نه و څېړل شوی. دغه ډول د طنز قالبونه هم یوه اساسي موضوع ده چې تر دې مهاله پوره پام نه و ورته شوی. دغه ډول د طنز ژبه هم یو ضروري بحث دی، خو له پامه غورځېدلې و. د طنز لیکلو عملي پړاوونه هم یوه ارزښتاکه موضوع ده، څکه ځوان لیکوال غواړي پوه شي چې طنز لیکل څنګه پیل او څنګه يې پای ته ورسوي؟ دا ټول هغه موضوعات دي چې ما په دې څېړنه کې پوره پام ورته کړی دی.

څرنګه چې ما د خپل ادبي ژوند ډېره برخه طنز ته ځانګړې کړې، نو په دې څېړنه کې مې خپلو تجربو ته هم پوره ځای ورکړی دی. زه دا ادعا نه کوم چې په دې څېړنه کې ټولې خبرې نوې دي، خو د نویو خبرو تر څنګ هرې موضوع ته لږ تر لږه له نوي زاویې کتل شوي دي، هیله ده چې زما کتاب به د طنز په تیورۍ کې یو نوی رنګ وځلوي، د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوالو به دې موضوع ته پام شي او په دې برخه کې به نور اثار هم ولیکي.

په پای کې لازمه ګڼم چې له ځینو دوستانو او استادانو څخه د زړه له کومي مننه وکړم. په دې لړ کې د دري ژبې تکړه طنز لیکوال ښاغلي استاد جلال نوراني د احسان خورا ډېر پوروړی یم. د دې کتاب په لیکلو کې مې هم د ده له کتابونو او هم مشورو څخه پوره ګټه اخیستې ده.

دغه ډول د استاد سرمحقق زلمي هېوادمل، پوهاند پښتون آقا شېرزاد او څېړنوال عبدالغفور لېوال یې هم ډېر ډېر کور ودان چې پر دې کتاب یې یاداښتونه ولیکل او له دې لارې یې خپل نظریات هم زما او هم د دې کتاب له لوستونکو سره شریک کړل.

ورپسې یې د تکړه ډیزاینر او مخلص دوست رضا پارسا هم کور ودان چې زما د نورو کتابونو په شان یې د دې کتاب پښتۍ هم راته ډیزاین کړه او په دې برخه کې یې ډېر زیار وکیښ. دغه ډول خپل بل انډیوال لیکوال او شاعر خلیل احمد څارن ته هم کوروداني وایم چې د دې کتاب پروف یې وکتل او د کتاب په ډیزاین او ترتیب کې یې مرسته راسره وکړه. هیله لرم چې زما او دې دوستانو زیار به نتیجه ورکړي او دا کتاب به لوستونکیو ته ګټور تمام شي.

په درنښت

عبدالنافع همت

د جدي دوهمه، ۱۳۹۵ش کال

خوشال خان مېنه، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په پښتو ژبه کې د طنز ليکلو لنډ تاريخ

د طنز تر ټولو پخوانۍ بېلګې د ژويو کيسې بلل شوي چې تر ميلاد شپږ پېړۍ مخکې په يونان کې ايزوپ (Aesop) ليکلي دي. تر هغه راوروسته د نامتو ډرامه ليکوال (اريستوفان) آثار د يادولو وړ دي چې له (۲۴) ډرامو څخه يې يوازې (۱۱) ډرامې تر موږ پورې رارسېدلي دي. دا ډرامې که څه هم هغه مهال کوميډي بلل کېدې او اوس يې ځينې ادبپوهان طنزي کوميډي بولي، خو د نوي وېش له مخې کوميډي جلا او طنز جلا سبکونه دي. د نوي نوېش او تعريف له مخې طنزي کوميډي هغه طنز ته ويل کېږي چې انتقاد يې لږ او د خندا پله يې درنه وي. (۳۴: ۲۵مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د معاصر طنز یا معاصر طنزته ورته سبک خبره کوو، نو لومړی مو د لرغوني روم دوه نومیالي طنزي شاعران (جووينال) او (هوراس) نومونه ذهن ته راځي. دې دوو شاعرانو تر نن پورې ګڼ شمېر لارویان درلودلي او اوس هم هر طنز لیکوال په یو ډول نه یو ډول د دوی د سبک لاروی بلل کېږي. د هوراس کتاب تر میلاد (۳۵) کاله مخکې لیکل شوی چې لومړني سیاسي طنزونه ورته ویلای شو. دا آثار که څه هم تر ډېره حده پورې هجوې ته ورته دي، خو هغه مهال ټولو طنزونو هجویه رنګ درلود او ورو ورو یې وده وکړه چې اوسنی طنز ځنې راوزېږېد. (۴۶: ۸ مخ)

ادبپوهان باور لري چې طنز له یوناني ژبې څخه عربي او له عربي څخه پښتو ته د ژباړې له لارې راغلی دی. د دې خبرې د وضاحت لپاره به د عربي ادبیاتو شپږ دورې یادې کړو:

۱: د جاهلیت دوره چې تر بعثت یونیم سل کاله مخکې کلونه بلل کېږي.

۲: د صدر اسلام دوره چې تر څلوېښتم هجري کال پورې دوام کوي.

۳: اموي دوره چې تر (۱۳۲ه ق) پورې کلونه بلل شوي دي.

۴: عباسي دوره چې (٦٥٦ه ق) پورې کلونه ورته ویلای شو.

۵: فترت یا ترکي دوره چې تر (۱۲۱۳ ه ق) کال پورې دوام کوي.

٦: نهضت یا معاصره دوره چې تر اوسه پورې ادامه لري.

عرب ادبپوهان باور لري چې تر عباسي دورې مخکې په عربي ادب کې له ځینو ټوکو، هجویه او هزلیه اثارو پرته د طنز څرک نه لیدل کېږي، خو په عباسي دوره کې وینو چې طنز ته څه ناڅه پاملرنه شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. ځرنګه چې په عباسي دوره کې د یونان اکثره ادبي اثار عـربي ژبـې ته ژباړل شوي ، نو اټکل کولای شو چې طنز به هم لـه لـه یونـاني څخـه عربي ژبې ته د ژباړې له لارې راغلـی وي. پـه دې دوره کـې د نومیـالي شاعر (ابن خلاد) یا (ابوالعیناء) نوم د یادونې وړ دی چې په بغداد کې اوسېده او په ظرافت کې یې ډېر شهرت درلود. (۱۱: ۴۵۳ مخ)

په دریمه هجري پېړۍ کې نامتو افغان عالم ابومحمد هاشم سرواني د خپل استاد (ابن خلاد) یو طنزي ډوله نظم پښتو تـه راوژبـاړه. اروابښـاد سرواني په (۲۲۳ه ق) کال د هلمند په سروان سیمه کې زېږېدلی او بیا د دیني زده کړو لپاره بغداد ته تللی دی. هلته یې له ابن خـلاد څخـه د عربي ژبې د فصاحت او بلاغـت پـه برخـه کـې زده کـړې کـړي او بیرتـه خپل وطن ته راستون شوی دی. (۴۹: ۵۸ مخ)

دا چې د اروابښاد سرواني یا بل لیکوال او شاعر لیکلې طنزي بېلګـه پـه لاس کې نه لرو، نو همدا ژباړه په پښتو کې لومړنی طنز ګڼلای شـو. دا ژباړه که څه هـم د معـاصر طنـز ټـول خصوصـیات نـه لـري، هـنري او خندوونکی اړخ یې کمزوری دی، خو که د خپل وخت په تول یې وتلو، نو د طنز ابتدایي بڼه ورته ویلای شو.

د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره له دوهمې هجري پېړۍ څخه پیل او بیا تر یوولسمې هجري پېړۍ، یـاني روښـانیانو پـورې دوام کـوي. د دې دورې موضوعات لمانځنې، قومي ویاړنې، ویرنـې، مینـه، بېلتـون او اخلاقـي تعلیمات دي چې چندان لـوړ تخیـل او ادبي صـنعتونه نـه لـری. د دې دورې اثار که څه هم ښکلا لري، خو اکثره یې تش نظمونه او پـه وچـو الفاظو سره هدف بیان شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸۲:۵۰ - ۸۳ مخونه)

د دې دورې ځينې شاعران او ليکوال په دربارونو کې اوسېدلي دي. د هغه مهال درباري شاعرانو معمولاً د پاچاهانو په ستاينه کې قصيدې ويلې او درباري امتيازات به يې تر لاسه کول، خو کوم شاعر چې به تش لاس پاته شو، نو په هجوه او بدو ويلو به يې خوله پورې کړه، نو له دې امله درباري اديبانو طنز ته پام نه دی کړی. که له دربارونو څخه دباندې نورو پښتنو شاعرانو او ليکوالو ته راشو، نو اکثره يې صوفيان او عارفان تېر شوي دي. څرنگه چې صوفيان اکثره بشري ټولنې ته دومره پام نه کوي، له خلکو گوښه اوسېږي او په خپل رياضت او عبادت بوخت وي، نو له دې امله يې طنزونه نه دي ليکلي.

بله خبره دا ده چې د هرې ژبې ادبيات د خپلو گاونډيو ژبو سره يو ځای پر مخ ځي. هغه مهال د پښتو په گاونډيو ژبو کې طنز دومره چا نه پېژانده او هزليه اثارو ډېر رواج درلود. په اتمه هجري پېړۍ کې د ايران مشهور ليکوال او شاعر عبيد زاکاني څو منظوم او منثور هزليه اثار وليکل چې د فارسي ژبې ادبپوهان يې د اوسني طنز معادل گڼي او زاکاني ته د طنز پلار وايي، نو ويلای شو چې په لرغونې دوره کې تر ښاغلي سرواني راوروسته په پښتو ژبه کې د طنز څرک نه ليدل کېږي او دا بهير په ټپه ولاړ ښکاري.

د پښتو ادبياتو منځنۍ دوره له شپاړسمې ميلادي پېړۍ څخه پيل او تر شلمې پېړۍ پورې دوام کوي چې په روښاني ادبياتو پيل کېږي. د دې دورې ادبيات په عمده ډول تبليغ ته ځانگړي شوي او عرفاني ادبيات د وسيلې په توگه کارول شوي دي. په دې دوره کې د هنريت پر ځای پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيغام ټينګار شوى او پيغام هم په عرفاني رنګ کې وړاندې شوى چې اصلي هدف يې د خلکو يو موټى کېدل و.

په منځنۍ دوره کې تر روښانيانو وروسته د خوشال بابا ادبي عصر راځي. په دې عصر کې پښتو ادبيات د مضمون او شکل له پلوه تر پخوا ډېر غني شول. د فارسي ژبې ټول قالبونه او ادبي صنعتونه په پښتو ادب کې تجربه شول. د نظامي مبارزې تاکتيک هم بدلون ومونډ. د پښتنو د راويښولو او يو موټى کېدلو لپاره د تصوف پر ځاى قومي ارزښتونو ته پام وشو. د پښتنو اجتماعي نيمګړتياوو ته ګوته ونيول شوه، انتقادي تفکر وده وکړه او د پخوا په پرتله هنريت ته ډېره پاملرنه وشوه. څرنګه چې انتقادي تفکر، ظرافت او اصلاح غوښتنه د طنز رغنده توکي بلل کېږي او خوشال بابا په دې دريو واړو ډګرونو کې مخکښ و، نو هغه دى چې په اثارو کې يې طنز هم تېغونه ووهل.

که د خوشال بابا په اثارو کې طنزونه ولولو، ځينې يې د معاصر طنز په تول پوره خېژي، نو ويلاى شو چې د طنز بنسټ د خوشال با با په وخت کې ايښودل شوى دى. څرنګه چې هغه مهال د پښتو ژبې په ټولو ګاونډيو ژبو کې طنز له هجوې او هزل څخه پوره لاره نه وه جلا کړې، نو د خوشال بابا اکثره طنزي شعرونه هم هجويه او هزليه رنګ لري. له خوشال بابا څخه رانيولې بيا د شلمې پېړۍ تر وروستۍ نيمايي پورې د بېلابېلو ليکوالو او شاعرانو په اثارو کې طنزي څرک ليدل کېږي، خو د نوي طنز په تول پوره او مستقل طنزي اثار نه دي ليکل شوي او که ليکل شوي هم وي، نو زموږ لاس ته نه دي راغلي. کله چې د شلمې ميلادي پېړۍ په وروستۍ نيمايي کې د پښتو ادبياتو نوې دوره پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، نـور ورسره سـم طنـز هـم بیرتـه نـوې سـا اخـلي او د اجتماعـي رسالت لپاره د یوې موثرې وسلې په توگه غوره کېږي.

د معاصرې دورې په ادبیاتو کې نوي فکري او سیاسي تمایلات رامنځ ته شول لکه بشري ارزښتونه، وطنپالنـه، ملتپالنـه، ولسـواکي، خپلـواکي او داسې نور. په دې دوره کې له لویدیځ ادب څخه پښتو ژبې ته نوي ادبي ژانرونه، میتودونه او سبکونه هم راغلل چې په دې بهیر کـې پښـتو طنـز هم بلوغ ته ورسېد. (۱٦: ۳۸ - ۴۲ مخونه)

پخواني طنزونه اکثره د نظم په بڼه لیکل شوي، خو په دې دوره کې یـې نثر ته هم لاره وموندله. په لسگونو شاعرانو او لیکوالو په تول پوره طنزونه ولیکـل او یـا یـې وژبـاړل لکـه اسـتاد الفـت، استاد بېنـوا، غنـي خـان، عبدالاحد وحید، ډاکټر اسرار، سعدالله جان برق، منـان ملگـری، کاتـب پاځون، عبدالباري جهاني او داسې نور یادولای شو. په دې وختونو کې نه یوازې دا چې پښتنو لیکوالو او شـاعرانو د خپـل وخـت پـه تـول پـوره طنزي اثار ولیکل، بلکې نړیوال شاهکار طنزونه یې هم پښتو ته راوژباړل چې یوه بېلگه یې د ترکي شـاعر او لیکـوال عزیـز نسـین اثـار دي.د دې دورې طنزونه نه یوازې دا چې د تخیل، هنریـت او اجتماعـي پیغـام لـه پلوه ډېـر پیـاوړي دي، بلکـې پـه ډېـره زړه ورتیـا سره د ټـولنې لویـو بـې عدالتیو ته د انتقاد گوته پکې نیول شوې ده.

د دې دورې طنزونـو یـوه نیمگړتیـا هـم درلـوده چـې هغـه د متعهـدو او گوندي لیکوالو سیاسي تمـایلات وو. گونـدي لیکوالـو طنـز د سـیاسي مفکورې لپاره د آلې په توگه کارولی دی. اجتماعـي نـاخوالي یـې یـوې خوا ته پرې ایښې او یوازې یې خپل سـیاسي مخـالفین د طنـز پـه ژبـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځپلي دي، خو کله چې د ډاکټر نجيب الله حکومت ونړېد او ورسره سم په افغانستان کې د جهادي تنظيمونو تر منځ جګړې پيل شوې، نو د آيډيالوژيکي سيالۍ ميدان هم تش پاته شو او ټولو ليکوالو په ګډه ملي ارزښتونو ته پام وکړ. بې له دې چې د خپل ګوندي سيال د ځپلو په فکر کې شي، هر هغه ټوک او هر هغه عمل يې په نښه کړ چې د ملي ګټو په لار کې خنډ و. اوس پښتو ژبه نه يوازې دا چې په لسګونو طنزي اثار لري، بلکې د طنز د تيورۍ اړخ هم پوره بډای شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز پېژندګلوي

په دې بحث کې غواړو طنز تعریف کړو، خو دا کار خورا ګران دی، ځکه چې طنز هنر او د هنر تعریف او اندازه کول اسانه کار نـه دی او ځینــې ادبپوهان خو باور لري چې هنر ګردسره تعریف کېـدای نـه شي. د دوی اســتدلال دا دی چــې هــنري کیفیــت درک کېــدای شي، خــو تعریــف کېدای نه شي.

د هنرمند کار د ساینسپوه له کار سره توپیر لري. یو ساینس پـوه کـولای شي چې د یوې تابلو مساحت معلوم او هغه په ارقـامو او شـمېرو واړوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ښکلا معلوملو لپاره داسي دقیق مقیاسي واحد نه لرو. (۱۷: ۱۰مخ)

په هر صورت د طنز پېژندګلوۍ ته راځو. طنز د عربي ژبې کلمه ده چې لغوي مانا يې ناز، نخره، پېغور، مسخره کول او ترټل دي. په پښتو کې عام او مناسب نوم نه ورته لرو او په همدې نوم يې يادوو. په فارسي کې هم طنز ورته وايي. په نوې عربي ژبه کې يې (الأدب الساخر)، اردو ژبه کې (طنز و مزاح) او په انګلېسي ژبه کې يې (Satire) بولي. په پښتو ژبه کې لکه څنګه چې طنز لږ لیکل شوی دغه ډول يې په اړه معلومات هم لږ دي. که یو څوک په کوڅه، بازار او ولسي- بانډار کې یو خندوونکی حرکت وکړي یا یوه خندوونکې جمله ووايي، نو خلک يې هڅوي او وايي چې واه واه! ډېر ښکلی طنز و. د دې غیر علمي قضاوتونو اصلي لامل دا دی چې ډېری ادیبان، آن دا چې ځینې طنز لیکوال هم د طنز په اړه کافي معلومات نه لري. طنز یوازې په پښتو کې نه، بلکې په ټولو ژبو کې یو پېچلی هنر بلل کېږي.

طنز پوه (لینارډفین برګ) په خپل کتاب (طنز پېژندنه) کې وايي چې طنز یو داسي ظریف او بدلېدونکی هنر دی چې د دوو پوهانو تعریفونه هم په سلو کې سل سره ورته نه دي. د ایټالیا وتلی لیکوال (لیونارډو شاشا) وايي چې په طنز باندې پوهېدل تر ټولو ګران کار دی. دی وايي چې طنز یوازینی هنر دی چې تر اوسه پوره نه دی کشف شوی او نورو څېړنو ته هم اړتیا لري.(۴۷: ٦٦- ۷۰ مخونه)

دلته به د طنز څو تعریفونه وړاندې کړو او بیا به هر تعریف په لنډ ډول وڅېړو، وروسته به وګورو چې د تعریفونو تر منځ کوم مشترک ټکي لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي؟ بیا د همدې مشترکو ټکیو په رڼا کې کولای شو چې یو نسبتاً جامع او د قناعت وړ تعریف وړاندې کړو. ( ۴:۲۱ مخ)

۱: طنز په واقعیت کې له کرکې او نفرت څخه ډکه خندا ده، دا خندا که له یوې خوا مقابل لوری

( لیدونکی، لوستونکی، اورېدونکی) خندوي، نو په عین وخت کې د بدو او ناوړو کارونو په مقابل کې د هغه قهر او کرکه هم راپاروي. (۵۲: ۱۰۰ مخ)

۲: روسی لیکوال نیکلای ګوګول: طنز د نامریي اوښکو په منځ کې خندا ده.

۳: انګرېز ادبپوه جانسن: طنز هغه وینا ده چې پر اجتماعي فساد او نادودو باندې نیوکه کوي. (۱۹: ۱۵۷- ۱۵۸ مخونه)

۴: سیمون کریچلي: د طنز وظیفه یوازې د خلکو مسخره کول او شخصي عقدې پالل نه، بلکې په ټولنه کې له عمومي فساد سره کرکه ښوول دي. ( ۳۵: ۲۵ مخ)

۵: دیان جک: طنز د انتقاد محصول دی، هغه انتقاد چې په هنر بدل شوی دی.

٦: ډاکټر علي شریعتي: طنز یو واقعي هنر دی. که څه هم موږ بل ډول هم خندېدلای شو، خو دا ډول خندا د انساني معنویت محصول ده. طنز د خندوونکو شیانو بیان نه کوي، بلکې په خندا کې غمجنې خبرې کوي.

۷: ایرانی لیکوال او شاعر ډاکټر شفیع کدکنی: طنز د ټولنې د نیمګړتیاوو هنري انځور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸:  ایرانی عالم فریدون تنکابنی د طنز پر هنریت او ښکلا ټینګار کوي او وايي: طنز د هنري اړخ په پام کې نیولو سره په رمز او کنایه سره  پر اجتماعي نیمګړتیاوو  انتقاد کوي.

۹: طنز په خپل ذات کې یو اجتماعي فعالیت دی چې په ځان کې د اعتراض او بغاوت تومنه لري

۱۰: نومیالی رومي طنز لیکوال او شاعر هوراس: غواړم چې حقیقت په خندا ووایم.

۱۱: میشل ریګن: طنز ځانګړي روشنفکرانه مسخرې دي.

۱۲: آرتورډ پولارډ: طنز اخلاقي او اجتماعي رسالت ادا کوي، ځکه خو نړیوال اعتبار لري.

(۹:  ۷ مخ)

۱۳: چارلي چاپلین: طنز په ټولنه کې د وېرې او نفرت له منځه وړلو لپاره تر ټولو غوره زهر دي.

۱۴: پاکستانی طنزپوه ډاکټر ظفر عالم ظفري: طنز باید خامخا څه ناڅه د ملنډو او تریخوالي عنصر ولري. (۲۷:  ۲۱ مخ)

۱۵: یوری، ب، بوریف: طنز ډیموکراټیک خوی لري، ځکه د خندا برخه یې له ټولنې څخه سرچینه اخلي.

۱۶: د. ایچ، لارنس: طنز هغه خواخوږي ده چې زموږ  په ذهن  کې ګرځي راګرځي او باالاخره د طنز په بڼه بیانېږي.

۱۷: جانتن سویفټ: طنز هغه هینداره ده چې هر څوک له ځانه پرته د هر چا څېره پکې لیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸: الکساندر پوپ: طنز د اعتراض له غريزې څخه زېږېدلی او په هنر تبدیل شوی دی.

۱۹: هوګارټ: په ځمکه کې د انسان ژوند له خورا ډېرو خوښیو، غمونو او کړکېچونو څخه ډک دی. دې ژوند ته له ډول ډول زاویو کتلای او په بېلا بېلو لارو یې بیانولای شو. په دې لړ کې تر ټولو مهم او په زړه پورې لاره دا ده چې انسان ته د طنزي عینکو له لارې وګورو. که د انسان کړه وړه په ځیر سره وګورو، نو خامخا د خندا وړ دي.

۲۰: جورج تست: طنز هغه ادبي اثر دی چې د ټولنې بداخلاقي، بد کړه وړه او اشتباهات په غیر مستقیم ډول مسخره کوي.

۲۱: طنز هغه اثر دی چې په هغه کې د آیروني یا پېغور له تخنیک څخه کار اخیستل شوی او د خلکو پر ځینو کړنو برید شوی وي.

۲۲: افغان طنز پوه استاد جلال نوراني د طنز لپاره دوه اساسي ارکان په ګوته کوي چې یو خندا او بل انتقاد دی.

۲۳: سرمحقق دوست شینواری: طنز هغه هنري اثر دی چې په هغه کې د ژوند ناوړه او منفي اړخونه انځور شوي او د لوستونکو د کرکې وړ ګرځېدلی وي. (۲۲: ۲۱۱ مخ)

۲۴: د انګلستان رومان لیکوال دانیال دفو وایي چې د طنز هدف اصلاح ده. (۴۲: ۴۹- ۹۳ مخونه)

۲۵: ډاکټر سیروس شمیسا وایي چې طنز اجتماعي او اصلاح طلبانه هدفونه لري. (۲۳: ۲۳۸ مخ)

په لومړي تعریف کې له قهره ډکه خندا وینو چې په ټولنه کې د ناخوالو له امله راپیدا شوې ده. د نیکولای ګوګول په تعریف کې د قهر تر څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوښکو ته هم اشاره شوې ده، خو دا اوښکې نه لیدل کېږي، بلکې یوازې یې حالت احساس کېږي. د جانسن په تعریف کې لـه فسـاد سره کرکـه کول اساسي توکی بلل شوی دی، هغه فساد چې خلک یې پـر وړانـدې خپله کرکه د ژړا پر ځای د خندا په بڼه څرګنـدوي. ګوګـول خنـدا او ژړا سره تړلې ګڼي. ربښتیا هم لیدلي به مو وي چې یو څـوک لـه ډېـر درد او قهر څخه خاندې او موږ یې ترخه خندا بولو. سیمون کریچلي هم د طنز وظیفه پر فساد نیوکه ګڼي، خو ټینګار کوي چې باید په دې نیوکـه کـې شخصي عقدې و نه پالل شي او عمومي فساد په نښه شي. که پـه طنـز کې شخصي عقدو ته ځای ورکړو، نو طنز بـې لارې کېـږي او پـه هجـوه اوړي.

دیان جک هم ښه په تول پور ه خبره کوي او وایـي چـې انتقـاد بایـد پـه هنري بڼه وي، ځکه چې طنز له ادبیاتو سره اړه لـري او ادب هـنر دی. ډاکټر علي شریعتي په طنز کې خندا یو مهم عنصر ګڼي او طنزي خندا د انسان لـه معنـوي نـړۍ سره تړلـې بـولي. ډاکتـر شـفیع کـدکني هـم جانسن ته ورته نظر لـري او د طنـز موضـوع پـه ټولنـه کـې پـر فسـاد او ناخوالو باندې انتقاد کول ګڼي.

فریدون تنکابنی هم د دیان جک غوندې د طنز پر هنریت ټینګار کـوي او په انتقاد کې د رمز او کنایې خـبره مطـرح کـوي. پـه دې نظـر کـې د هنري اثر یوه مهمه ځانګړتیا وینو، ځکه د هنري اثر یوه نښـه دا ده چـې خبره په رمز او اشاره کوي.

د ښاغلي تنکابنی تر تعریف وروسـته پـه بـل تعریـف کـې انقـلابي رنـګ وینو. دی وایي چې په طنز کې باید د اجتماعي ناخوالو او اسـتبداد پـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړانـدې اعـتراض او بغـاوت نغښـتی وي. نوميـالی رومـي طنـز ليکـوال هوراس هم په طنز کې خنـدا تـه تـرجيح ورکـوي، خـو هغـه خنـدا چـې حقيقتونه بيانوي.

ميشل ريګن هم په طنز کې انتقاد تـه اشـاره کـوي، خـو د انتقـاد لپـاره اخلاقي، مسئولانه او روښنفکرانه حدود وضع کـوي. د ريګـن نظـر هغـه اساس دی چې طنز له شخصي عقدو او کرکې څخـه جـلا او لـه ټـولنې سره يې تړي. که په طنز کې اخلاق او اجتماعي مسئوليت نـه وي، نـو طنز له هجوې سره ګډېږي. چارلي چاپلين هـم پـه طنـز کـې د انتقـاد خبره کوي، خو د بريد او سزا خبره هم ورسره غوټه کوي. دی بـاور لـري چې بايد زهر په خوږو کې ونغښتل شي او بيا په ټولنه کې پـه مفسـدينو باندې وخوړل شي. ډاکټر ظفـري هـم پـه طنـز کـې د تريخـوالي عنصر- ضروري ګڼي، خو د زهرو غوندې وژونکو ترخو توکو خبره نه کوي.

يوري، ب، بوريف هم پر خندا ټينګار کوي، خو له نورو سره يې تـوپير دا دی چې خندا ډيموکراټيک ارزښت بولي. دی وايي چې د ډيموکراسـۍ بنسټ پر اکثريت ولاړ دی، ځکه چې په ټولنه کې هر څـوک خانـدي، نو دا يو هنري اکثريت دی او بايـد چـې هـر طنـز خنـدا ولـري. د. ايـچ، لارنس بيا په طنز کې د کرکې تر څنګ د خواخوږۍ خبره هم کوي چې دا خبره ډېره پر ځای ده. يو خو دا چې پـه طنـز کـې د هجـوې غونـدې شخصي عقده ځای نه لـري او بـل دا چـې مـوږ پـه ټولنـه کـې هـره بـې عدالتۍ له دې امله غندو چې د يو چا حق تر پښو لاندې شوی دی. پـه ټولنـه کـې د نـاخوالو غنـدل پـه دې مانـا دی چـې لـه هغـو خلکـو سره خواخوږي ښيو چې د بې عدالتۍ قرباني شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانتن سويفټ هم د انتقاد خبره کوي، خو يوه نوې خبره هم ورسره غوټه کوي. دی وايي چې په طنز کې پر ځان انتقاد نه شي کېدای، ځکه چې طنز انفرادي نه، بلکې اجتماعي ناخوالو ته نغوته کول دي. الکساندړ پوپ هم په طنز کې هغه انتقاد او اعتراض ته اشاره کوي چې په هنري انداز کې وړاندې شوی وي. هوګارټ په طنز کې خورا مهمه موضوع مطرح کوي چې هغه ظرافت دی. ظرافت ځکه مهم دی چې په وينا او ليکنه کې اکثره وخت د خندا لامل ګرځي. د هوګارټ په اند طنز ليکوال په انتقادي بڼه د انسان کړه وړه خورا په دقت څاري او ولس ته هغه څه ورښيي چې عادي خلک يې نه ويني.

جورج تست هم د نورو طنزپوهانو غوندې باور لري چې بايد د ټولنې ناخوالي په غير مستقيم ډول مسخره شي. په غير مستقيم ډول يو شي ته اشاره کول په ليکنه کې هنري رنګ پيدا کوي چې دا ډول تخنيک يوه مهمه ادبي ځانګړنه بلل کېږي. تر جورتست وروسته نظر کې د انتقاد يوه خاصه بڼه ياده شوې چې هغه پېغور دی. پيغور د انتقاد تر ټولو زيږه او ترخه بڼه ده. د پېغور له لارې يو څوک ډېر ژر غبرګون ښيي او ځان ته متوجه کېږي. استاد جلال نوراني بيا په دې باور دی چې طنز له دوو اساسي توکو څخه جوړ دی چې يو ظرافت يا خندا او بل انتقاد دی. سرمحقق دوست شينواری په طنز کې د منفي اړخونو د ځلولو هدف دا ښيي چې خلک کرکه ځنې وکړي. د انګلستان رومان ليکوال (دانيال دفو) بيا د طنز ليکلو هدف د ټولنې اصلاح ګڼي. ډاکټر سيروس شميسا هم د طنز هدف عمومي اصلاح ګڼي. د ډاکټر شميسا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دفـو غونـدې لسـګونه لیکـوال او طنزپوهـان د طنـز هـدف د ټـولنې اصلاح بولي.

په پورتني بحث کې مو د طنز بېلابېل تعریفونه ولوستل او وموليدل چې په هر تعریف کې د طنز یو اساسي یا فرعي رکن یاد شـوی دی، خـو پـه دې تعریفونو کې لس ټکي خورا مهـم دي او لـه مـوږ سره مرسـته کـوي چې یو نسبتاً جامع تعریـف ولـرو، هغـه ټکـي دا دي: (( کرکـه، انتقـاد، فساد، ظرافت، خندا، قهر، ټولنه، هنري ډول، اجتماعي اخلاق یـا مـلي فرهنګ او اصلاح)). په دې لړ کې لومړی تـوکی کرکـه ده چـې انسـاني هیجان بلل کېږي او له هنر سره ډېـرې نـژدې اړیکـې لـري. د علمـي او ادبي ژبې تر منځ یو عمده توپیر دا دی چې علمي ژبـه تعلیمـي او ادبي ژبه پاروونکې وي. د علمي ژبې په مرسته له یـو شي خبرېـږو، خـو ادبي ژبه اغېز راباندې کوي او عواطف مو راپاروي، نو ویلای شو چـې ادبي او هنري اثار تر ډېره بریـده د عقـل پـر ځـای د انسـان لـه عواطفـو سره اړه لري.

انساني عواطف د هنر بنسټ بلل کېږي او د ادبیاتو ستره وظیفه هـم د عواطفو انتقال دی، همدا عواطف دي چې انسـان هڅـو او کوښـښ تـه چمتو کوي. د انساني عواطفوپه لړ کې کرکه، مینه، خوشالي، خندا، ژړا او داسې نور یادولای شو. کله چې انسان خوشـاله یـا خفـه شي، نـو دا حالت په بېلابېلو بڼو او شکلونو سره څرګنـدېږي چـې عـاطفي غبرګـون بلل کېږي. عاطفي عکس العملونـه درې عمـده ځانګړتیـاوې لـري لکـه ذهني او ضمیري فعالیت، په جسمي حرکاتو کې بـدلون او د وجـود پـه ځینو برخو کې تغیرات. د بېلګـې پـه ډول خوشـالي پـه بېلابېلـو نښـو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



علایمو سره ښوول کېږي چې یوه یې هم خندا ده. دغسې خفګان هم په رنګارنګ علایمو سره څرګندېږي چې یوه نښه یې ژړا ده، خو کله کله بیا د خوښۍ او خواشینۍ علایم سره ګډېږي، مثلا یو ځوک د خوښۍ پر مهال ژاړي او د خواشینۍ یا قهر پر مهال خاندي چې موږ یې ترخه خندا بولو.

هغه توکي چې موږ له بېلابېلو تعریفونو راوایستل لومړی عنصر یې کرکه ده چې انساني هیجان بلل کېږي او د انتقاد په بڼه څرګندېږي. د طنز دوهم عنصر خندا ده. خندا هم ځان ته عوامل لري. اساسي عامل یې دا دی چې موږ په ټولنه کې د هر موجود په اړه په خپل ذهن کې یو تصویر لرو، دا تصویر د وخت په تېرېدو سره په یو تناسب اوړي او موږ ورسره عادت کېږو. کله چې موږ د دې تناسب خلاف یو څه وینو، نو خندا راځي، خو دا چې د دې ناانډولۍ یا عدم تناسب شا ته فساد وینو، نو خندا مو له قهر سره ګډه او د فساد پر ضد مو کرکه راپارېږي.

په طنز کې بل مهم توکی ظرافت دی چې د خندا سبب کېږي. طنز لیکوال موږ ته په ټولنه کې یو فوق العاده او زموږ د تصور خلاف حالت راښیي چې په نتیجه کې موږ ته خندا راځي. که د دې حالت شاته فساد نه وي، نو خندا تر پایه یوازې خندا پاته کېږي او که یې شاته بې عدالتي او د هغه عامل وینو، نو خندا مو په قهرجن او ژړغوني حالت بدلېږي. د کرکې او قهر تر منځ توپیر دا دی چې قهر د کرکې غبرګون او نښه بلل کېږي. په کومیډي کې هم خندا لرو، خو هلته خندا هدف او په طنز کې وسیله ده. بل توپیر یې دا دی چې په طنز کې د خندا هدف خندول او خوشالي کول نه، بلکې د فساد مسخره کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طنزي خبره په کنایه، رمز او غیر مستقیم ډول وي. دغه ډول سېمبولیک او خیـالي کرکټرونـه هغـه څـه دي چـې طنـز تـه هـنري او ادبي رنـګ ورکوي. څرنګه چې طنز له هنر او ادبیـاتو سره اړه لـري، نـو بایـد انتقـاد هنري بڼه ولري.

د انتقاد وړ لوری هم ډېر مهم دی. باید د انتقاد ګوته ځـانګړي شـخص ته نه، بلکې د ټولنې عمومي فساد تـه ونیـول شي، ځکـه چـې د واقعـي شخص تورنول قضایي او عدلي بڼه غوره کوي. که موږ پر واقعي شـخص باندې تور پورې کوو، نو باید د خپل تور د اثبـات لپـاره واقعـي اسـناد او شواهد پیدا کړو. کله چې مو په طنز کې نومونه، ځایونه، نېټې، پېښــې، اسناد او د موضوع ټول اړخونه په واقعي بڼه بیان کـړل لیکنـه هـنري او ادبي ارزښت له لاسه ورکوي او ژورنالستیکه بڼه غوره کوي.

بل مهم توکی اجتماعي اخلاق یا د ټولنې اصیل ارزښتونه دي. کله چې په ټولنه کې فسـاد او بـې عـدالتي غنـدو، نـو بایـد د ټـولنې اخلاقــي او فرهنګي ارزښتونه په تېره بیا د ژبې عفت مراعت کړو. د طنز وروسـتی او اساسي توکی هدف دی. کله چې فساد غندو او عدالت غواړو، نو ښکاره خبره ده چې د ټولنې اصلاح غواړو او یا مو نیت دا وي چې په ټولنه کې د خلکو پام فساد او بې عدالتۍ ته راوګرځوو.

تر دې ځایه مو په بېلابېلو تعریفونو کې د طنز اساسي تـوکي وپېژنـدل، اوس کولای شو چې دا توکي سره یو ځای او د طنز لپـاره داسي تعریـف وړاندې کړو: طنز هغه ادبي سبک دی چې په هغه کې د اصـلاح لپـاره په هنري، ظریفانه او خندوونکي ډول د تـولنې د اخلاقــي معیـارونو پـه پام کې نیولو سره پر اجتماعي فساد انتقاد شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز هدف

طنز له ادب او ادب له هنر سره اړه لري. د طنز تر هدف مخکې ضروري ده چې د هنر هدف هم څه ناڅه وپېژنو. کله چې په هنر کې د هدف خبره کوو، نو دوې مشهورې تيورۍ مو مخ ته راځي. يو دا چې ( هنر د ژوند لپاره ) او بل ( هنر د هنر لپاره). اپلاتون به شاعران له دې امله محکومول چې اجتماعي مکلفيتونو او اخلاقي ارزښتونو ته پام نه کوي، خو د اپلاتون شاګرد ارستو بيا په هنر کې پر ښکلا ټينګار کوي او التزام له پامه غورځوي. تر ارستو وروسته په دې اړه ډېرو پوهانو بحثونه کړي، خو الماني عالم (ايمانويل کانت) لومړنی فيلسوف دی چې د نګه يا سوچه هنر لپاره يې تيوريکي بنسټ کښېښود. دی وايي چې هنر په خپله هدف دی، بايد د هيڅ ډول هدف لپاره د وسيلې په توګه استخدام نه شي. دا شعار تر ډېره حده د نامتو فرانسوي ليکوال (ويکټور هوګو) له خوا دود شو. تر هوګو وروسته بل فرانسوي عالم ( تيوفيل ګوتيه) هم په هنر کې د التزام او مکلفيت موضوع رد کړه. دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي مهمه نه ده چې هنر دي ګټه ولري. ايا دا کفايت نه کوي چې يو ادبي اثر ښکلی دی؟ د ګلانو، عطرونو، مرغيو او ټولو هغو شيانو په ډول ښکلی هنر چې انسان له خپلې خوښې سره سم بدلون نه شي ورکولای. (۱۷: ۳۳ - ۸۱ مخونه)

( هنر د ژوند لپاره) پلويان بيا د ګټور هنر او رياليزم موضوع مطرح کوي. د دې نظريې سرلاری فرانسوي نامتو ليکوال (بالزاک) او د انګلستان مشهور ليکوال (چارلس ډيکنز) دی. دوی وايي چې د ژوند پېښې په مجرد ډول نه مطالعه کېږي، بايد ټول هغه عوامل وڅېړل شي چې د پېښو پر کميت او کيفيت اغېز لري. د دې تيورۍ تر ټولو مشهور پلوی سن سيمون (Saint Simon) دی.

دی وايي چې د هنري اثارو هدف د ټولنې د افرادو تر منځ د همکارۍ او خواخوږۍ د احساس پيدا کول دي، نو بايد هنر د ټولنې خدمت ته وقف شي. نامتو ارواپوه ( زيګمونډ فرويډ) هم د هنر لپاره هدف ټاکي. دی وايي چې انساني غريزې بايد صيقل شي چې هنر په دې برخه کې ښه خدمت کولای شي. (۲۲: ۳۹ مخ)

تر دې ځايه مو د هنر پر هدفونو خبرې وکړې اوس د طنز هدف ته راځو. طنز يو داسې هنر دی چې د دواړو تيوريو پلويان ورسره موافق دي، ځکه چې طنز هم خوند او تفريح لري او هم په هنري بڼه اجتماعي پيغام رسوي. البته دا د لوستونکو په اړتيا او سليقه پورې اړه لري چې کوم اړخ يې خوښوي يا کوم اړخ ته يې ډېره اړتيا لري، لکه د غره په لمنه کې يوه ښکلې او مېوه لرونکې ونه چې يو سيلاني يې ښکلا ستايي، يو ستړی شپونکی يې په ټکنده غرمه کې سيوري ته دمه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يو وړى لاروى يې خوږه مېوه خوري. موږ په دې بحث کې د طنز د هدف په اړه د بېلابېلو طنز ليکوالو او ادبپوهانو نظريات راوړو او بيا د دوى تر منځ مشترک ټکي راباسو، وروسته به څرګنده شي چې د طنز هدف څه دى؟

په طنز کې معمولاً اصلاح غوښتونکى هدف نغښتى وي. په پيل کې داسې برېښي چې طنز يوازې د خندا او شوخۍ لپاره دى، خو وروسته څرګندېږي چې ليکوال د ټولنې له نادودو او بدمرغيو څخه ځورېږي او د دې پر ځاى چې خپل دغه درد  د ګيلې يا نصيحت په ژبه ووايي د خندا په قالب کې يې وړاندې کوي او په دې ډول  ظالمان او  مفسدين د ريشخند په نښښ وهي. ( ۱۵: ۱۳ مخ)

انګرېز شاعر درايدن وايي: د طنز اصلي هدف دا دى چې رذالتونه اصلاح او ترميم شي. (۴۷: ٦٧ مخ)

د انګلستان رومان ليکوال دانيال دفو وايي: د طنز هدف اصلاح ده. ښاغلى دفو بل ځاى وايي چې د طنز هدف له حق څخه دفاع او ناولتيا اصطلاح ده. نوميالى رومي طنز ليکوال (هوراس ) د طنز لپاره دوه عمده هدفونه ټاکي چې يو تعليم او بل تفريح ده. (۹:۷۸- ۷۹ مخونه)

د طنز هدف شخص نه، بلکي پر عمومي فساد او عيبونو بريد کول او اصلاح کول دي. (۳۵: ۲۵مخ)

د طنز هدف د ملنډو له لارې د ټولنې اصلاح کول دي. (۲۷: ۲۰ مخ)

جانتن سويفټ وايي: څرنګه چې زما هدف د بشري ټولنې اصلاح ده، نو بايد لږ تر لږه ډاډه واوسم چې زما کار د عدلي او قضايي ادارو په ګټه دى او بايد زما د انتقادونو درناوى وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر خسرو فرشید وايي: طنز هغه لطیف او زهر لرونکی اعتراض دی چې هدف يې د ټولنې اصلاح ده.

د. ايچ، لارنس وايي: طنز د سیاسي او اجتماعي وضعیت د اصلاح کولو وسیله ده.

یوري، ب، بوریف وايي: طنز یو اجتماعي نقد دی چې هدف يې د عمومي افکارو تنظیمول او ښکلا پېژندل دي. میخائیل سالتیکوف شیدرین وايي: د طنز هدف د عیبونو له منځه وړل دي. (۴۲: ۴٦۸- ۴۸۱ مخونه)

د طنز هدف اجتماعي ناخوالو ته د خلکو پام واړول دي. (۴: ۲۵ مخ)

په پورتنیو نظریاتو کې د طنز لس هدفونه یاد شول چې په دې ډول دي:

- د اجتماعي ناخوالو اصلاح کول.
- له حق څخه دفاع کول.
- تعلیم ورکول
- د فساد او اجتماعي ناخوالو مشخص کول
- د مفسدینو او ریاکارو خلکو رسوا کول
- د عامه افکارو تنظیمول
- ښکلا پېژندل او له بدرنګۍ څخه جلا کول
- د فساد مسخره کول
- اجتماعي ناخوالو ته د خلکو پام ور اړول
- تفریح.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اجتماعي ناخوالو او مفسدينو مشخص کول، مسخره کول او رسوا کول، اجتماعي ناخوالو ته د خلکو پام ور اړول، د عامه افکارو تنظيمول، خلکو ته تعليم ورکول او له حق څخه دفاع کول، ټول اصلاح غوښتنه ده، په دې مانا چې د طنز ليکلو اساسي هدف د اجتماعي ناخوالو اصلاح ده، خو طنز د دې تر څنګ دوه نور فرعي هدفونه هم لري چې يو ښکلا او بل تفريح ده.

ښکلا نه يوازې دا چې په عمومي ډول د هنر روح بلل کېږي، بلکې په طنز کې هم خاص ځای لري. په دې مانا چې طنز معنوي او ظاهري بدرنګي غندي چې په نتيجه کې يې ښکلا سوچه او د خلکو پام ور اړوي. لکه يو باغوان چې د ګل له بوټي څخه وچې پاڼې او اضافي څانګې پرې کوي، له شاوخوا څخه يې هم اضافي بوټي او هغه څه ليري کوي چې پر ګل سيوري غوړوي او تاوان ورته رسوي. د دې کار په نتيجه کې ګل وده کوي او ښکلا يې سوچه کېږي.

د ښکلا په اړه خورا ډېر تعريفونه وړاندې شوي، خو هغه تعريف چې له طنز سره نږدې اړيکې لري په دې ډول دی: په کايناتو کې هماهنګي، ترتيب او تنظيم ته ښکلا وايي. ښکلا زماني، مکاني او فرهنګي پولې لري. يو شی نن بدرنګه، خو پرون ښکلی بلل کېده، يو شی يو ځای ښکلی او بل ځای بدرنګه بلل کېږي، په يوه فرهنګ کې ښکلی او بل کې بدرنګه ګڼل کېږي. هغه ښکلا چې د يوې ځانګړې ټولنې د قضاوتونو محصول وي، اجتماعي ښکلا بلل کېږي. دا ښکلا د يوې ټولنې د ملي ارزښتونو، ملي فرهنګ، اخلاقو او عقايدو په تله تلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. کله چې په یوه ټولنه کې دغه تناسب او نظم ګډوډ شي، نو د نوموړي ټولنې ټولنې له نظره بدرنګي بلل. (۲۵: ۷۸- ۷۹ مخونه)

په بشري ټولنه کې ظلم، بې عدالتي او فساد هغه تیارې دي چې پر انساني ارزښتونو یې سیوری غوړولی دی. د طنز هدف له همدغو تیارو او ناخوالو سره مبارزه ده. که اجتماعي ناخوالي ر سوا شي، خلک کرکه ځنې وکړي او په نتیجه کې کرکه محوه شي، نو بشري ارزښتونه سوچه او ځلېږي. کله چې انسان سوچه او ښکلي ارزښتونه خپل کړل، نو خپل معراج ته رسېږي. دا فطري خبره ده چې کله انسان خپل هدف ته ورسېږي، نو دا کار د تفریح او خوشالۍ سبب ګرځي.

په طنز کې دوه ډوله تفریح او خوشالۍ وي چې یو وسیله او بل یې هدف دی. یو دا چې کله انسان په ټولنه کې له طبیعي تناسب ځخه وتلی شی یا وضعیتویني، نو خندا ورځي. د وخت په تېرېدو سره انسان په خپل چاپېریال کې له دې تناسب سره عادت شوی وي چې انسان پر دوو او حیوان پر ځلورو پښو ځي، که انسان په عام محضر کې پر ځلورو پښو روان وي، نو دا حالت د خندا سبب ګرځي. دا خندا لنډ مهاله، بې هدفه او له هجوې او کومیډي سره مشترکه خندا ده. خو که یو انسان له کوم جسمي معلولیت پرته پر ځلورو پښو روان وي او د دې کار شاته د هغه ناپوهي، بې پروایي او بشري ارزښتونو له پامه غورځېدل وښودل شي، نو تر خندا وروسته د لیدونکي قهر راپارېږي، خندا یې په ژیړغوني حالت اوړي، د انتقاد بڼه غوره کوي او په دې ډول پر اجتماعي ناخوالو برید کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله کله په طنز کې خندوونکی حالت طبيعي نه وي، بلکې طنز ليکوال يې د معنوي او لفظي صنايعو په مرسته انځوروي. دا حالت لوستونکی خندوي او د تفريح سبب هم گرځي، خو د طنز اصلي تفريح تر کسات اخيستلو وروسته راځي. هر انسان خامخا په ټولنه کې له يو ډول ظلم او بې عدالتۍ ځخه ځوربږي. کله چې په کوم طنز کې هماغه ډول بې عدالتي غندل شوې وي، نو لوستونکی طنز ليکوال د ځان ملگری او خواخوږی گڼي، ډېر خوشاله کېږي چې يو څوک ده ته ورته خبره کوي يا د ده پر دښمن بريد کوي.

په طنز کې تفريح پر دوه ډوله ده: يو لنډ مهاله تفريح ده چې د انسان په ظاهري بڼه کې ځرگندېږي او بله هم اوږدمهاله او پټه تفريح ده چې د انسان وجدان او روح اراموي. هغه لوستونکی چې ارام ژوند لري، د ظلم قرباني شوی نه وي، په طنز کې ظرافتونه او هنري پوښونو کې پټ پيغامونه نه شي ليدای يا يوازې د تفريح په لټه کې وي، په طنز کې گډوډ حالت ته خاندي او د تفريح له لارې د لنډ وخت لپاره ذهني سکون پيدا کوي. دوهم هغه حساس او خوږمن لوستونکي دي چې د خندا په بهير کې ډېر ژر په نښه شوي بشري ناخواليويني. دلته وينو چې دواړه ډلې لوستونکي خوشاله کېږي. لومړی لوستونکی په ټولنه کې د خپل انتظار خلاف حالت ويني او خوشاله کېږي، خو دوهم لوستونکی ځکه خوشاله دی چې ليکوال ده ته ورته دريځ لري، نو د دې بحث په نتيجه کې ويلای شو چې طنز يو اساسي او دوه فرعي هدفونه لري: اساسي هدف يې د ټولنې اصلاح او فرعي هدفونه يې ښکلا ځلول او د لوستونکو تفريح ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز ارزښت

له کومې ورځې راهیسې چې انسان د ځمکې پر مخ پل ایښی، نو ورسره سم د بېلابېلو ناخوالو او ظلمونو لړۍ هم پیل شوې، خو د دغو ناخوالو او فساد پر وړاندې د مبارزې ډګر هم تش نه دی پاتې شوی. چا یې پر وړاندې توره چلولې، چا مال ښندلی، چا قلم پورته کړی او چا بیا په ژبه مبارزه کړې ده، خو طنزي مبارزه تر ټولو موثره او اوږده سابقه لري چې له بابا آدمه تر دې دمه دوام لري. په بشري تاریخ کې به داسي دیکتاتور، فاسد او ظالم نه وي تېر شوی چې د طنز په ژبه دي نه وي ټکول شوی. (۴۲: ٦٥ مخ)

فاسدو او ظالمو کړیو تل هڅه کړې چې توریالیان تر ستوني ونیسي-، خو د طنز مخه هیچا هم نه ده نیولې. که لیکوال ډېر تنګ شوی، قلم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاغذ ځنې اخیستل شوی او یا په مرگ تهدید شوی، نو بیا هم لاس تـر زنه نه دی کښېناستلی، خپل انتقاد یې د خندا په پوښ کـې نغښـتی او په ولسي بانډارونو کې یې ویلی چې په دې ډول یـې فساد تـه د خلکـو پام ور اړولی، ملنډې یې په وهلي او په نهایت کې یې خپله کرکه ورسره ښوولې ده، په نتیجه کې همدا طنز په شفاهي ډول په ولسي- بانـډارونو کې لاس پر لاس شوی، د طنزي ټوکې ښـه یـې غـوره کـړې، د ظالمـانو غوړونو او دربارونو ته رسېدلی او هغوی یې ناارامه کـړي دي، نـو ویـلای شو چې د طنز بهیر د فساد پر وړاندې له مبارزې سره پر یوه وخت پیل شوی، اوږد واټن یې وهلی او تر موږ پورې رارسېدلی دی.

د طنز بل ارزښت تلوسه ده. پـه هـره ادبي لیکنـه کـې لـومړی لیکـې او پاراگراف خورا مهـم وي. کـه پـه لومړیـو کرښـو کـې د لوسـتونکي ذهـن ښکار نـه شي او پـام یـې لیکنـې تـه ور وا نـه وړي، نـو سـتړی کېـږي او کېـدای شي چـې لیکنـه بـې ارزښـته ورتـه ښـکاره شي او لوسـتل یـې پرېږدي، ځکه نو اکثره لیکوال هڅه کوي چـې لیکنـه یـې تلوسـه ولـري چې لوستونکی تر پایه له ځان سره وساتي. د لیکنې په پیل کـې داسي پوښتنې پیدا کړي چې لوستونکی یې پـه ځوابونـو پسـې تـر پایـه پـورې لیکنه ولولي. طنزي لیکنې هم تلوسه لري او هم د خنـدا خـواږه. طنـز لیکوال په همدې لومړیو کرښو کې د لوستونکو خوله ورخـوږوي او هغـه مجبوروي چې لیکنه په نیمایي کې پـرې نـه ږدي او تـر پایـه پـورې یـې ولولي.

طنز د اروایي سکون یوه ښه وسیله گڼل کېږي. په هغه ټولنه کـې چـې جگړه تېره شوې یا اوس هم روانه وي، د بې کارۍ او بې وزلۍ کچه لوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، هلته خلک په ډول ډول ارواییي ناروغیو اخته وي. اکثره وخت اروا‌پوهان دوی ته مشوره ورکوي چې وخاندي او ځان خوشاله وساتي. د دې هېوادونو خلک د ځان خوشاله ساتلو لپاره مېلو ته مخه کوي، کومیډي فلمونه او ډرامې ګوري، خو څرنګه چې انسان اجتماعي موجود دی او د اکثره ناروغیو لاملونه یې هم اجتماعي ریښې لري، نو یوازې خندا د هغوی درملنه نه شي کولای او ضروري ده چې د خندا تر څنګ د ټولنې لوړې ژورې هم ووینې. طنز د خفګان یو ډېر ښه درمل ګڼل کېږي، ځکه طنز د ځان په وژلو سره یو داسې درمل جوړوي چې ناروغ په خپل وجود کې ناروغۍ ته متوجه کوي، نو له همدې کبله طنزي فلمونه، ډرامې او لیکنې د هغوی لپاره ډېر ښه درمل دي. (۳۵: ۱۲۱ مخ)

هغه هیوادونه چې هلته خلک ډېر کار کوي، تفریح ته لږ وخت لري، ځوک د اوونۍ په اخیر کې او ځوک بیا خپله کلنۍ رخصتۍ داسې تنظیموي چې یوه برخه یې تفریح ته ځانګړې شوې وي. دغه ډول خلک چې له یوې خوا له ذهني پلوه ستړي او له بلې خوا مطالعې ته اړتیا لري د دوی لپاره طنزي لیکنې لوستل ګټوره لاره ده، ځکه چې طنزي لیکنې په خپله لمن کې هم تفریح او هم د ټولنې د لوړو ژورو انځورونه لري. هغه خلک چې د تفریح لپاره هیڅ وخت نه لري کولای شي چې په خپل دفتر او کار کې طنزي فضا جوړه کړي، څرنګه چې طنز انسان کار ته چمتو کوي، نو باید طنز له ځان سره خپل دفتر او کارځای ته یووړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طنز بل ارزښت په تفریحي بڼه زده کړه ده. طنزي لیکنې تر ډېره حده اصلاحي او تعلیمي پیغامونه لري. په نوې پیداګوژۍ کې د زده کوونکي یا لوستونکي خپلواکي یو مهم اصل ګڼل کېږي. د زده کړې په بهیر کې خپلواکې بېلابېل ډولونه لري چې یو ډول یې هم تفریح ده چې معمولا خندا ورسره مل وي. د ښوونې او روزنې کارپوهان هڅه کوي چې تعلیم او تربیه د وچ نصیحت او خبرو پر ځای د تفریح بڼه ولري. څرنګه چې له تفریح سره تل خندا مل وي، نو ویلای شو چې خندا نه یوازې دا چې په خپلواک ډول انساني اړتیا ده، بلکې د زده کړې بهیر هم ګړندی کوي.

ارواپوه (زیګمونډ فروید) په دې اند دی چې د خندا له لارې د انسان له وجود څخه ګڼ شمېر اندېښنې او ګرومونه (غمونه) وزي چې په نتیجه کې یې د انسان ذهن سپک او فعالیت ته چمتو کېږي. ددې عملیې فزیکي دلیل دا دی چې انسان د خندا پر مهال ډېر اکسېجن جذبوي او په نتیجه کي ډېره انرژي اخلي، نو په همدې اساس نن تعلیمي ارواپوهان تفریح او خندا د زده کړې لپاره یوه ښه وسیله ګڼي.

طنز د دیکتاتورۍ او تشدد په وخت کې د ځان خوندیتوب یوه غوره لاره ده. په هغو ټولنو کې چې د بیان ازادي نه وي او د لیکوال ژوند ته خطر متوجه وي یا نه شي کولای چې په مستقیمه توګه اجتماعي ناخوالو په تېره بیا لوړپوړو فاسدو چارواکو او زورواکانو ته ګوته ونیسي، نو په دې ډول وضعیت کې طنز یوه ډېره موثره وسله ده، ځکه چې طنز د صراحت پر ځای د رمزونو، کنایو، اشارو او سمبولونو په بڼه خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، په دې ډول طنز ليکوال هم خپل لوستونکی پوهوي، هم فاسد ته درد رسوي او هم ځان له خطر څخه ژغوري.

د طنز بله ښېگڼه دا ده چې پر مقابل لوری ژر اغېز کوي. ځينې انسانان به مو ليدلي وي چې څوک زر نصيحتونه هم ورته وکړي، نو سر نه خلاصوي او ځان ته هيڅ نه متوجه کېږي، خو که تربور يا بل سيال پيغور ورکړي، نو ډېر ژر خپلو نيمگړتياوو ته پام کوي او په ځان کې د بدلون راوستلو پرېکړه کوي، نو د طنز له لارې هغه خلک ډېر ژر اصلاح کېږي چې دغه ډول خوی او خصلت لري.

طنزي ليکنې ليکوال خلاق او نوښتگر روزي. ځينې خلک يوازې په يوه قالب يا لوښي کې ليکنې کوي. د وخت په تېرېدو سره يې له همدې قالب څخه زړه تور شي او غواړي چې په بل قالب کې ليکنې وکړي. کله نا کله يوه موضوع په يوه قالب کې نه ځايېږي يا له هماغه قالب سره سمه نه لگېږي او ضروري برېښي چې بايد د موضوع له ډول او حجم سره سم قالب غوره شي، خو دا چې ليکوال تر دې مهاله په يوه قالب کې تمرين کړی او يوازې په دې ډگر کې تجربه لري، نو ورته گرانه وي چې د قالب له امله تر پايه پوري د هماغه يوې موضوع لمنه ونيسي۔ پايله يې دا راووزي چې موضوعات يې سولېدلي کليشه يي او ستړي کوونکي ښکاري، خو طنزليکوال په بېلابېلو قالبونو کې ليکنې کوي او په دې ډول نوښتگر روزل کېږي.

د طنز بل ارزښت دا دی چې مينه وال يې ډېر دي. لوستونکي بېلابېل ذوقونه لري، څوک شعر، څوک نثر، څوک لنډه کيسه، ناول، سفرنامه او څوک بيا ادبي ټوټې او نور فورمونه خوښوي. دغه ډول خلک د هنر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کولو د بڼې او شکل له مخې هم سره وېشل شوي دي. څوک چاپي، څوک تصويري او څوک بيا تمثيلي هنري اثار خوښوي. د طنز ښېګڼه دا ده چې هم ليکلې، هم شفاهي، هم تصويري او هم تمثيلي بڼه لري، په هر هنري فورم او شکل کې راتلای شي، نو په دې ډول ويلای شو چې د طنز لمن د نورو هنرونو په پرتله پراخه او ډېر مينه وال لري.

د طنز بله ګټه دا ده چې په ټولنه کې د اصلاح غوښتنې روحيه پياوړې کوي. د طنز اساسي هدف د ټولنې اصلاح او روغتيا ده. طنز د اجتماعي طبيب حيثيت لري چې د ټولنې ډېرې کوچنۍ نيمګړتياوې هم پېژني او درملنه يې کولای شي. د سياست تر څنګ په ادبياتو کې هم د محافظه کار، انقلابي او اصلاح غوښتنې مبارزې موضوع د بحث وړ ده او ټول ادبيات له همدې دريو رنګونو څخه خامخا يو رنګ لري. محافظه کار ادبيات هر څه پر خپل حال پرېږدي او نيمګړتياوو ته ګوته نه نيسي. انقلابي ادبيات بيا د يوې شېبې لپاره ټول پوستين اور ته اچوي، وچ او لانده ټول يو ځای سوځوي، لکه توپان د ټولنې ټول بنسټونه له بېخه باسي، خو دا تضمين نه شي ورکولای چې دا بنسټونه بيرته جوړولای شي او يا يې تر پخواني حالت ښه جوړوي. سمون پالان بيا معتدله لاره غوره کوي، نه د ټولنې پر ټولو ناخوالو سترګې پټوي او نه هم هر څه له سره جوړوي، د ټولنې جوړ ځايونه پر خپل پخواني حالت پرېږدي او يوازې يې نيمګړې او تخريب شوي برخې اصلاح کوي. څرنګه چې د طنز هدف د ټولنې اصلاح ده، نو ويلای شو چې طنز د اصلاحي ادبياتو سرلاری ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طنز بل اهميت په دې کې دی چې ښکلا له بدرنګيو راجلا او سوچه کوي. طنز ښکلا ته د لوستونکو پام ور اړوي، د دې لپاره چې ښکلا نوره هم وځلېږي، سوچه شي، نور هم ارزښت پيدا کړي، نو بايد له بدرنګۍ څخه بېله شي. طنز له يوې خوا انتقاد په ښکلي او هنري انداز کې وړاندې کوي او له بلې خوا بدرنګي غندي او له ښکلا څخه يې جلا کوي، چې په نتيجه کې يې ښکلا سوچه او د خلکو پام ور اوړي.

د طنز له لارې په ټولنه کې انتقادي تفکر وده کوي او اجتماعي ناخوالې مشخص کېدای شي. طنزي انتقاد د درملو حيثيت لري. هغه درمل چې په لومړي سر کې درد لري، خو نتيجه يې روغتيا ده. که څه هم انتقاد کول او منفي ليد لوری کوم درد نه شي دوا کولای، خو نيمګړتياوې ښه ترا مشخص کولای شي. تر هغو چې په ټولنه کې نيمګړتياوې مشخص نه شي، نو د اصلاح لپاره يې هيڅ ډول ستراتيژي او پلان نه شي جوړېدای. که انتقاد نه وي، نو ګڼ شمېر اجتماعي نيمګړتياوې، ناخوالې او ظلمونه به پټ پاته وي، ظالم به څکه سرې سترګې ګرځي چې نه به ولس او نه به دولت خبر وي، خو په هره اندازه چې د ټولنې ډېرې نيمګړتياوې رسوا او مشخص شي، نو په هماغه کچه يې د اصلاح لارې چارې اسانه کېږي. (۴: ۸۲ مخ)

د طنز بله ګټه دا ده چې لوستونکي خندوي او خندا د انسان اړتيا ده. په طنز کې د انتقاد تر څنګ ظرافت او خندوونکی انځور هم يو مهم عنصر ګڼل کېږي او دا هم يو حقيقت دی چې خندا تل له سولې سره تړلې وي. په کومه ټولنه کې چې د انتقاد کولو زړه ورتوب او انتقاد زغملو کلتور حاکم وي، هلته د اصلاح لپاره هڅې کېږي او چېرې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک خاندې هلته جګړه نه وي. د ترکیـې نومیـالی طنـز لیکـوال عزیـز نسین وایي چې طنز لږ تر لږه انسان خندوي او هغه څوک چې خاندې هیڅکله هم جګړه نه کوي، نو افغاني ټولنه چې خورا ډېرې ناخوالې یې ګاللي او اوس هم له ګڼ شمېر بدمرغیو سره لاس او ګرېوان ده، دا اړتیا لیدل کېږي چې د اصلاح په نیت دې ناخوالو ته د انتقـاد ګوتـه ونیـول شي، خو که دا انتقاد د خندا پـه بڼـه وي، نـو لا بـه ښـه وي، ځکـه چـې افغاني ټولنه هم اصلاح او هم خندا ته اړتیا لري. څېړنـو ښـوولې چـې د تراژیدي فیلم کتل یا لیکنې لوستل د طنزي او کومیډي اثـر پـه پرتلـه د وینې جریان چټک کوي او انسان خوشاله ساتي. (۹: ۵ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طنز ادبي ژانر که ادبي سبک؟

ځینې لیکوال په دې اند دي چې طنز ځان ته ادبي فورم، صنف یا ژانر (Genre) دی او نور یې بیا سبک (Style) بولي. همدا گروهه او باور د دې لامل شوی چې اوس ډېری ادبپوهان د ادبي اثارو په ډلبندۍ او وېش کې د طنز ځای سم نه شي مشخص کولای. لومړۍ عقیده ډېره مشهوره ده ، ځکه نو ډېر پلویان هم لري. موږ په دې بحث کې لومړی ادبي ژانر او بیا سبک په لنډ ډول څېړو، تر دې وروسته به وگورو چې طنز له کومې ادعا سره سم لگېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ادبي ژانرونو د ډلبندۍ هدف د شکل او محتوا بېلول دي. که غواړو چې یو ادبي اثر وڅېړو، نو باید لومړی مشابه ادبي اثار په یوه ډله او کورنۍ پورې وتړو او بیا یې تحلیل کړو. د هر ادبي ژانر په اړه ځینې قراردادونه او معیارونه موجود دي. که ادبي اثار ډلبندي نه کړو، نو په هغه تله او کاڼي یې نه شو تللای چې په ادبي تیورۍ کې د هغه لپاره وضع شوي وي. له بلې خوا د علم یوه مهمه ځانګړنه دا هم ده چې باید ډلبندي شي او دا وېش په ټولو علومو کې دود دی. (۵۳: ۱۸۳ مخ)

نومیالي فیلسوف ارسطو د لومړي ځل لپاره ادبي اثار پر دریو عمده برخو ووېشل لکه حماسي یا داستاني، تغزلي یا سندریز او ډراماټیک یا تمثیلي ادبیات. د وخت په تېرېدو سره ادب وده وکړه، ادبپوهانو د ارسطو پر وېش بحثونه وکړل او په نتیجه کې نوي ډلبندۍ جوړې شوې. دا وېش په لوېدیځه او ختیځه نړۍ کې سره جلا دی. په ختیځ او لوېدیځ کې هم هره ژبه داسې ولسي ژانرونه لري چې په هغه کې دا وېش نه مراعت کېږي او هر ژانر جلا قراردادونه او معیارونه لري او د هغه له مخې یو اثر ښه یا کمزوری ګڼل کېږي. د نوي وېش له مخې د ارسطو ژانرونه لوی ګروپونه بلل کېږي چې هر ګروپ یې پر څو ژانرونو وېشل شوی او هر ژانر بیا په خپل ځان کې کوچنۍ څانګې لري چې کوچنی ژانر یا (Sub Genre) یې بولي. د بېلګې په ډول چاربیته د پښتو ولسي‐ ادب یو ډول دی چې په غنایي یا سندریز ګروپ پورې اړه لري، خو په دې کورنۍ کې ځنځیري چاربیته هم لرو چې کوچنۍ څانګه ورته ویلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ارستو رانیولې بیا تر اوسه پورې نه یوازې دا چې پر پخوانیو ډولونو نوي ژانرونه ورزیات شوي، بلکې له پخوانۍ زړې تنې څخه نوي څانگې هم راټوکېدلي او یا دوې څانگې سره یو ځای او نوی ژانر ځنې جوړ شوی دی، مثلا له قصیدې څخه غزل جوړه شوه، له پخوانیو جنایي رومانونو څخه د داستایوفسکي رومانونه وزېږېدل، روسي شاعر الیکساندر بلوک له لرغونو کلیوالي ترانو څخه الهام واخیست او په خپلو شعرونو کې یې پخوانۍ محتوا په نوې بڼه وړاندې کړه.

پخوا په لویدیځ کې کومیډي او تراژیدي جلا محتوا بلل کېده، خو اوس په یوه قالب کې هم راتلای شي او کومیډي - تراژیدي یې بولي. دغه ډول په پښتو کې ځوان فورم ټپییزه دروا‌خله چې د پښتو تر ټولو قوي او مشهور شعري فورم (لنډۍ یا ټپې) پر بنسټ روغه شوه.

که څه هم د ارستو وېش او د هغه وخت له زړې تنې څخه رازرغونې شوي څانگې اوس هم گڼ شمېر لارویان او پلویان لري، خو ځینې ادبپوهان په تېره بیا ښکلا پېژندونکي وایي چې دا ډلبندي اوس زړه او تر وخت تېره ده. دوی وایي چې دې طبقه بندۍ د ادبیاتو د نوي تاریخ فضا مسمومه کړې او د ښکلا پېژندنې په برخه کې یې له موږ څخه گڼ شمېر حقایق پټ کړي دي. دوی استدلال کوي چې ډېر ځله یو نابغه هنرمند له دې امله د کره کتونکو له نیوکو سره مخ او شاهکار اثر یې له پامه غورځول کېږي چې ولې یې د ادبي ډولونو وېش نه دی مراعت کړی. (۲۳: ۲۹- ۳۰ مخونه)

د ادبي ډولونو تر وېش وروسته د ادبي ژانر د شکل او محتوا موضوع ته راځو. د هر ادبي اثر شکل او محتوا تر خپل منځ نه بېلېدونکي اړیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. یو ادبي ژانر چې شکل یې له محتوا سره سمون و نه لري یا یو شکل خپله محتوا تشریح نه کړای شي، ګردسره هنري ارزښت نه لري. د هند د نیمې وچې نابغه لیکوال او شاعر رابند ناتٙ ټاګور په خپله مقاله (د ادب مضمون) کې په دې اړه داسې وایي: (( بهرنۍ نړۍ زموږ په احساساتو او خیالاتو کې بله نړۍ جوړوي. دغه نړۍ نه یوازې له هغو رنګونو، کرکټرونو، غږونو او هغو شیانو څخه ډکه ده چې له دباندې نړۍ څخه ورته راځي، بلکې د ښو او بدو په اړه زموږ ډار، زړه ورتوب، تعجب، خوښۍ او خواشینۍ سره هم ژورې اړیکې لري)).

د هرې موضوع د بیان لپاره ځانګړی قالب موجود دی، مثلا د تغزلي یا سندریز ادب لپاره قصیده، غزل، څلوریزه، لنډۍ، چاربیته او داسې نور شعري قالبونه مناسب دي. دغه ډول د داستاني موضوعاتو لپاره مثنوي، لنډه کیسه، ناول او رومان مناسب قالبونه دي. دلته ګورو چې محتوا او شکل تر خپل منځ یو تناسب لري، یوه اوږده کیسه د لنډۍ یا غزل په فورم کې نه شو وړاندې کولای، خو مثنوي بیا د اوږدو کیسو لپاره ډېر ښه قالب دی. که غواړو چې همدا اوږده کیسه په نثر کې ولیکو، نو لنډه کیسه، ناول او رومان غوره قالبونه دي.

کله کله خو مضمون او شکل داسې سره غوټه شوي وي چې ګردسره نه سره بېلېږي. د تخلیقي اثر قالب باید داسې و نه ګڼل شي لکه لوښی او اوبه. اوبه د لوښي له جنس څخه نه دي، ځکه نو کولای شو چې د یوه لوښي اوبه په بل لوښي کې واچوو، خو که له یوه مضمون څخه د هغه د افادې شکل لیرې کړو امکان لري چې بل شی ځنې جوړ شي. مثلا غواړو یوه محتوا د رومان په قالب کې وړاندې کړو. که وغواړو همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



محتوا د ژورنالیستکي مقالې یا ډرامې په بڼه وړاندې کړو، نو نه یوازې دا چې د تخلیقي مضمون د افادې فورم مو بدل کړ، بلکې یو نوی مضمون مو په نوي شکل کې ځای کړ او آن دا چې د هنر له ډګره ووتو. (۲۲: ۸۳ - ۸۵ مخونه)

زموږ فرهنګي دود داسې دی چې ټول ادبي اثار په لومړي سر کې د بڼې له مخې پر دوو برخو وېشل کېږي چې یو یې نظم او بل یې نثر دی. په دې وېش کې هم نظم او هم نثر خپل تخنیکي جوړښت او قراردادونه لري، مثلا د پښتو ژبې لنډۍ باید دوې مسرې وي، د څپو شمېر یې باید (۲۲) وي چې لومړۍ مسره یې نهه او دوهمه یې دیارلس څپې وي. باید قافیه و نه لري او دوهمه مسره یې په
(نه) یا (مه) پای ته رسېدلې وي. که دا خصوصیات و نه لري، نو لنډۍ نه شو ورته ویلای. (۳: ۱۰۷ مخ)

ګورو چې طنز نه د ارستو په دریو لویو ګروپونو کې یاد شوی او نه هم په هغه لړ کې د خپلواک ادبي ژانر په توګه راتلای شي چې دې لویو ډلو ته منسوب شوی دی، خو که ورته ځیر شو، نو له هر ګروپ سره اړه لري او په ټولو هغو ادبي ژانرونو کې راتلای شي چې له دې لویو ګروپونو سره اړه لري. لنډه دا چې طنز په هره بڼه راتلای شي لکه د وینا، لیکنې، رسم، تیاتر، راډیویي او ټلویزیوني ډرامو په بڼه.

ځینې ادبپوهان ادبي ژانرونه د موضوع او محتوا په نوم هم یادوي، لکه انتقادي ادبیات، عرفاني ادبیات، تعلیمي ادبیات او داسې نور. موږ مخکې وویل چې د ادبي ژانرونو هدف د شکل او محتوا بېلول دي، خو په موضوعي وېش کې نه یوازې دا چې د شکلونو او قالبونو وېش له پامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غورځول کېږي، بلکې محتوا هم په روښانه ډول نه سره جلا کوي. د بېلګې په توګه انتقادي ادبیات به راواخلو چې له طنز سره نژدې خپلوي لري. د انتقاد ساحه تر ادبي ژانر لویه ده، انتقاد هم په ادبي او هم ژورنالستیکو ژانرونو کې راتلای شي، آن دا چې د ادبیاتو تر پولو هم اوړي، انتقاد کېدای شي چې د کارټون په بڼه وي چې کارټون ته بیا ادبیات نه شو ویلای.

ځینې لیکوال طنز له انتقادي ادبیاتو سره تړي. که دا فرضیه ومنو، نو په ډېرو ادبي او ژورنالستیکو لیکنو کې به د ټولنې ناخوالو ته د انتقاد ګوته نیول شوې وي، خو هر انتقاد ته طنز نه شو ویلای. طنز د انتقاد او ظرافت هغه مخلوط دی چې هنري ځلا او ښکلا لري، دا ځلا او رڼا په هر ادبي قالب کې لوېدای شي او دې قالب ته د هغې هینداري بڼه ورکوي چې په هغه کې د ټولنې نیمګړتیاوي خورا واضح ښکاري. په پورتنۍ فرضیه کې وینو چې په انتقادي ادبیاتو کې د طنز له دوو اساسي ارکانو څخه یوازې یو رکن یاني انتقاد لیدل کېږي، خو د طنز بل رکن چې ظرافت دی له پامه غورځول شوی دی، نو په دې اساس ویلای شو چې د ادبي اثارو موضوعي وېش یوازې ادبي موضوعات اوډلای شي، خو د ادبي ژانرونو د شکل او محتوا په وېش کې مرسته نه شي کولای.

مخکې مو وویل چې ادبیات د بڼې له مخې پر دوو عمده برخو وېشل کېږي چې یو نظم او بل یې نثر دی. ګورو چې طنز هم په نظم او هم نثري بڼه لیکل کېدای شي. دغه ډول مو د هر ادبي ژانر لپاره د بهرني موجودیت یاني قالب خبره وکړه. څرنګه چې طنز د هر ژانر په قالب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلای شي، نو ويلای شو چې طنز بهرنی وجود او قالب نه لري او يوازې محتوا ده.

د طنزساحه تر ادبي ژانر لويه ده، ځکه چې ادبي اثار يوازې د خپل قالب په بڼه وړاندې کېږي، خو طنزي اثار پر شفاهي او ليکلې بڼه سربېره په تصويري او تمثيلي بڼه هم وړاندې کېدای شي. مثلا کارټون طنز دی، خو ادبيات نه شو ورته ويلای. طنزي رومان ادبي اثر دی، خو د ټلويزيوني سريال تمثيل شوې بڼه يې ادبيات نه شو ګڼلای. دلته وينو چې رومان تمثيل شوی او د الفاظو پر ځای يې د تصوير بڼه غوره کړې او د ادب له دايرې وتلی، خو په نوې بڼه کې بيا هم طنز بلل کېږي. اوس که همدا طنزي رومان کارټوني بڼې ته واړوو، نو له ادبياتو څخه وزي، خو له طنز سره خپلوي نه پرې کوي او په نوې بڼه بيا هم طنز يادېږي.

د ادبي ژانر يوه ځانګړنه دا ده چې کله يې يو ملت له بل څخه په پور اخلي او تقليد يې کوي، نو په شکل يا محتوا کې يې خامخا څه ناڅه بدلون راځي. د بېلګې په ډول جاپانۍ هايکو به راواخلو چې نوې پښتو شاعرۍ ته راغلې ده. هايکو په جاپانۍ شاعرۍ کې درې مسرې لري چې لومړۍ او دوهمه مسره يې پنځه او دوهمه يې اووه څپې لري، خو په پښتو شاعرۍ کې يې د مسريو تر منځ د څپو شمېر مهم نه دی، بس يوازې يې بايد د مسريو شمېر درې وي . هايکو د تخنيکي اړخ تر څنګ د محتوا له مخې هم خوراډېرې باريکۍ او نزاکتونه لري. په جاپانۍ شاعرۍ کې تر ډېره بريده د طبيعت ښکلا انځوروي، خو په پښتو کې چې تر دې مهاله څومره هايکوګاني ليکل شوي، نو هر ډول محتوا پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدل کېږي.د هایکو غوندې طنز هم له نورو ژبو څخه پښتو ته راغلی دی، نو که چېري طنز ادبي ژانر وای او یا یې بهرنی وجود درلودای، خامخا یې څه ناڅه بدلون کاوه، خو ګورو چې د طنز دوه اساسي رکنونه یاني انتقاد او خندوونکی انځور پر ځای پاته او په هره ټولنه کې یې همدا رنګ ساتلی دی. که څه هم په ځینو بهرنیو طنزونو کې داسې خبرې راغلي وي چې زموږ له فرهنګ سره سمون نه لري، خو د هغه اصلي علت د طنز جوړښت نه، بلکې اجتماعي ارزښتونه دي، طبعاً چې د یوې ټولنې ارزښتونه له بلې سره توپیر لري. په ژانر کې شکل اساسي عنصر دی، آن دا چې ادبي ژانر له شکل پرته بیخي زېږېدلای نه شي، خو په طنز کې قالب د طنز برخه نه ګڼل کېږي.

په ادبي ژانر کې وینو چې قالب د موضوع او محتوا د کمیت دواړو له مخې مهم دی، خو طنز په هر ژانر کې راتلای شي، آن دا چې پر ادب سربېره په ژورنالیستیکو ژانرونو کې هم وړاندې کېدای شي او قالب یې یوازې د محتوا د کمیت له مخې غوره کېږي. مثلا د شپاړسمې میلادي پېړۍ د نومیالي اسپانوي طنز لیکوال سروانتیس ( دون کیشوت) رومان به یاد کړو. دا اثر هم رومان او هم طنز دی. سروانتیس غوښتل چې د شپاړسمې پېړۍ پر رومانتیکو ادبیاتو، نکلونو، افسانوي پهلوانانو، درواغجنو کیسو او خرافاتي عقایدو باندې په ادبي بڼه انتقاد وکړي. څرنګه چې هدف یې د ادبیاتو او تاریخ یوه لویه برخه نقد کول او محتوا یې ډېره لویه وه، نو سروانتیس لازمه وګڼله چې د دې محتوا لپاره لوی لوښی یاني د رومان ژانر غوره کړي. دون کیشوت رومان په دوه ټوکه کې لیکل شوی چې هر ټوک یې تقریبا شپږ سوه مخه لري. د دې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کتاب ژبه وچه او ستړې کوونکې نه شي لیکوال غوره ګڼلې چې خپل فکر په طنزي ډول بیان کړي. دلته ګورو چې اثر د ادبي ژانر له مخې رومان دی، خو سبک یې طنزي دی. دغه ډول د چارلس ډیکنز اثار د ژانر له مخې رومانونه، خو د محتوا او سبک له مخې طنزونه دي. (۲: ۴۰ مخ)

د طنز په اړه وروستۍ خبره د سبک ده. سبک په لغت کې سره یا سپین زر ویلي کول او په قالب کې اچول دي او په ادبي اصطلاح د بیان خاص طرز ته وایي. سبک د ادبي نقد او ادبي تیورۍ لپاره بنسټونه ګڼل کېږي، ځکه یو خود ادبیاتو د ماهیت په پېژندلو کې مرسته راسره کوي او بل د یوه شاعر یا لیکوال کمزورۍ هم رابښيي.په سبک کې د لغتونو د انتخاب طرز، د جملو د جوړښت ډول، خیال انځورول، وزن، د بدیعي صنایعو راوړلو طریقه او نورو ژبني خصوصیاتو تکرار او یا یوه اړخ ته ډېر ارزښت ورکول یې عمده ځانګړتیاوي دي. (۱: ۵۲ مخ)

څرنګه چې په سبک کې د ژبنیو توکو تکرار د ملاتیر ګڼل کېږي، نو په طنز کې هم تل انتقاد او خندا په خپل ځانګړي تناسب او هنرمندانه انداز غاړه په غاړه او بېلابېلو بڼو تکرارېږي. هر لیکوال د خپلې عقیدې له مخې یو شی رد او یا تائیدوي. د یوې ستونزې د حل لپاره یوه ځانګړې لاره غوره کوي او بیاهمدا مفکوره د لیکوال په اثارو کې په یوه او بله بڼه تکرارېږي، نو د هغو خصوصیاتو مجموعه چې له یوې خوا د یوه لیکوال اثار له نورو څخه جلا او له بلې خوا د ده په اثارو کې تکرارېږي، سبک بلل کېږي. که څه هم ټول سبکي خصوصیات په طنز

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې اړه نه لري، خو ځینې سبکي ځانګړنې شته چې ادبي لیکنه طنزي کولای شي. (۳۱: ۲۲-۵۴ مخونه)

سبک اووه ډولونه لري چې یو ډول یې د هدف او مقصد په نوم یادېږي. په احساساتي سبک کې لیکوال غواړي چې د لوستونکو احساسات او هیجانات راوپاروي چې طنز هم په دې ډول سبک پورې اړه لري. طنز لیکوال غواړي چې د لوستونکي احساسات راوپاروي، هغوی وخندوي، خو په دې خندا کې هغوی ته دټولنې ځینې ناخوالي او نیمګړتیاوې هم وروښیي. سبک د کمي او کیفي اړخونو له پلوه هم د بحث وړ دی چې طنز یې په کیفي ځانګړتیاوو کې راځي. (۱۷: ۹۹ مخ)

ځینې ادبي سبکونه د لویو لیکوالو او شاعرانو په نوم هم یادېږي او نور یې تقلید کوي لکه د خوشال بابا سبک، د روښانیانو سبک او داسې نور. دغسي په طنز کې هم دوه مشهور سبکونه شته چې یو (هوراسي) او بل (جووینالي) سبک نومېږي. هوراس او جووینال د لرغوني روم دوه مشهور شاعران ول چې هر یوه یې ځان ته طنزي سبک درلود. جووینالي سبک ته تور یا تریخ سبک هم وایي. په دې سبک کې ظرافت یا خندا لږ او انتقاد ډېر وي، خو برعکس په هوراسي طنزونو کې بیا خندا ډېره او انتقاد لږ وي، ځکه یې سپین یا خواږه طنزونه هم بولي. (۲٦: ۵۱ مخ)

د طنز لیکوالو تر منځ هم د سبک موضوع د بحث وړ ده چې انفرادي سبک بلل کېږي. د بېلګې په توګه یو شاعر یا لیکوال د طنز لپاره سیاسي او بل یو فرهنګي موضوع غوره کوي. یو لیکوال د ټولنې لوړپوړې چارواکې په نښه کوي او بل بیا ټیټ رتبه مامورینو ته ګوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیسي. یو لیکوال د خپلي لیکنې لپاره د لنډې کیسې او بل بیا د راپـور فورم غوره کوي. یو لیکوال د الفاظو په مرسته طنز جوړوي، خـو بـل بیـا معنوي صنعتونو ته ترجیح ورکوي. یو لیکوال اوږدې او بل لنډې جملې لیکي. یو لیکوال یو ډول قضاوت کوي او د بل لیکوال قضـاوت بیـا بېـل وي، نو تر دې بحث وروسته دې نتیجـې تـه رسـېږو چـې طنـز خپلـواک ادبي ژانر نه، بلکې ادبي سبک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز سبکونه

سبک (Style) عربي کلمه ده چې په لغت کې د سرو او سپینو زرو ویلي کولو او قالب کې اچولو ته وایي، خو په ادبي اصطلاح د یوه فکر بیانولو طرز ته سبک ویل کېږي چې بنسټ یې تکرار دی لکه د موضوع، قالب، جملو جوړښت، خیال انځورول،لفظي او معنوي صنایعو او نورو ژبنیو خصوصیاتو تکرار یا یوه اړخ ته ډېر ارزښت ورکول د سبک عمده ځانګړتیاوي بلل کېږي. یو لیکوال که هر څومره د یو چا د سبک تر اغېز لاندې راشي یا په شعوري ډول وغواړي چې د بل لیکوال پر سبک برابره لیکنه وکړي، په نتیجه کې به یې یو سبک بل ته ورته شي، خو کټ مټ یو سبک نه بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبک د ليکوال له فکر سره نه بېلېدونکي اړيکې لري او هر ليکوال جلا فکر لري مثلا يو ليکوال انتقادي تفکر (Critical thinking) لري، خو بل بيا محافظه کار وي، يو ليکوال باغي او بل محتاط وي. که فرض کړو چې دوه ليکوالان يو ډول فکر کوي، نو د موضوعاتو انتخاب يې توپير سره کوي. په افغانستان کې پخوانيو طنز ليکوالو ډېر عادي موضوعات مطرح کول، د ټولنې ډېرو کوچنيو نيمګړتياوو ته يې ګوته نيول، د نظام يا واکمن پوړ ډېر کوچني چارواکي يې په نښه کول، مثلا پر ټرافيکي پوليس، کاتب، ميرزا، چوکيدار او داسې نورو په اړه به يې طنزونه ليکل، حال دا چې که د ټولنې دا پوړ اصلاح شوی هم وای، د خلکو پر ژوند يې چندان اغېز نه درلود، خو نن اکثره طنز ليکوال له رئيسانو او وزيرانو نيولې بيا تر ولسمشر پورې کرکټرونه په نښه کوي او په خپلو طنزونو کې د ټولنې ډېر اساسي موضوعات رانغاړي.

که فرض کړو دوه ليکوالان هم يو ډول فکر کوي او هم زړه ور دي، دواړه غواړي چې په ټولنه کې پر اداري فساد طنز وليکي او دواړه غواړي چې يو فاسد وزير په نښه کړي. ايا دواړه به وکولای شي چې د خپل طنز لپاره يو ډول قالب غوره کړي؟ که فرض کړو چې دواړه طنز ليکونکي پر لنډه کيسه لاسبري دي او دا قالب يې غوره کړ، دوی به په دې قالب کې فکر يو ډول ځای پر ځای کړي؟ ايا دوی به وکولای شي چې يو ډول الفاظ غوره کړي؟ د دوی د جملو سکښت او جوړښت به يو ډول وي؟ ايا يو ډول طنزي تخنيکونه به وکاروي؟ طنز د انتقاد او خندوونکي وضعيت يا ظرافت څخه جوړ دی، د ځينو ليکوالو په طنز کې د انتقاد او د ځينو ليکوالو په طنز کې بيا د ظرافت پله درنه وي، ايا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه لیکوالان به وکولای شي چې خپل طنـز تـه د انتقـاد زهرجنـه دوا او ظرافت خواږه په یوه انـدازه ورگـډ کـړي؟ ښـکاره خـبره ده چـې دا کـار ناممکن دی،نو ویلای شو چې سبک فردي ځانگړنه ده. لکه څنگه چـې د انسـانانو فکرونـه او رنگونـه سره جـلا دي، دغـه ډول د دوو لیکوالـو سبکونه هم یو ډول نه دي.

که څه هم هر لیکوال ځـان تـه جـلا سـبک لـري، خـو د ځینـو لیکوالـو سبکونه ډېر پاخه، جالب او ډېر لوستونکي لري، څکه نور لیکوال هم د دوی تر اغېز لاندې راغلي او د دوی تقلید کوي چې پـه دې ډول ځینـو سـبکونو پېـړۍ پېـړۍ دوام کـړی دی لکـه د هـومر سـبک، د شکسـپېر سبک، د خوشال بابا سبک، د حمید بابا سبک او داسې نور.

لومړی خو طنز خپله یو ادبي سبک دی چـې مخکـې مـو پـه دې اړه پـه تفصیل بحث کړی دی، په دې سـبک کـې بیـا دننـه هـر لیکـوال خپـل ځانگړی سبک لري، نو ویلای شو چې طنز ډېر سبکونه لري، خـو تـور او سپین سبکونه یې ډېر مشهور او هر طنز لیکوال په یو ډول نه یو ډول د دې دوو سبکونو لاروی بلل کېږي. دا سبکونه د طنـز د دوو اسـاسي توکیو په تناسب پورې اړه لري چې یو انتقاد او بل خندوونکی وضعیت یا ظرافت دی. تور طنز ته تریخ یـا جووینـالي طنـز هـم وایـي. جووینـال د لرغوني یونـان طنـزي شـاعر و. د ده پـه طنزونـو کـې بـه انتقـاد ډېـر او ظرافت لږ و، څکه خو د ده طنزونو ته تور یا تریخ طنز هم وایـي. سـپین سبک د لرغوني یونان له یو بل شاعر هوراس لـه نـوم سره تړلـی دی. د هوراس په طنز کې بیا د جووینال بر عکس انتقاد لږ او خنـدا یـې ډېـره ده، څکه نو پر دې سبک برابر لیکل شویو لیکنو ته خوږ طنز هم وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پخوا په ډول اوسني طنزونه هم پر تور او سپین سره وېشل شوي دي، ځینې طنزونه دومره خواږه او لوستونکي دومره خندوي چې خلک د چاکلېټو په سترګه ورته ګوري، ځکه په دې چاکلېټو کې اغښل شوي درمل دومره لږ دي چې هر لوستونکی یې خوند نه شي احساس کولای، خو ځینې طنزونه بیا دومره ترخه دي چې خندا یې د هیڅ برابره ده.

په طنز کې د انتقاد او ظرافت تر منځ تناسب ساتل خورا ضروري کار دی. که یو طنز لوستونکی و نه خندوي او د خندا پر ځای یې وژړوي، طنز نه شو ورته ویلای، خو که یو طنز یوازې لوستونکی وخندوي او انتقاد و نه لري بیا هم طنز نه ګڼل کېږي. که د انتقاد او ظرافت تر منځ تناسب ته پام و نه شي، د طنز بنسټونه نړېږي. موږ او تاسې هره ورځ انتقادي لیکنې لولو، خو ادبیات یې نه ګڼو، ځکه چې هنریت نه لري، دغه ډول داسې لیکنې هم لولو چې خندوي مو، خو د اجتماعي ناخوالو یوه ګوښه مو سترګو ته نه دروي. تر ټولو بریالی طنز لیکوال هغه دی چې د دې دوو توکیو تر منځ تناسب وپېژني او په مناسب ډول د دې دوو توکو یو ځای کول یې زده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز بنسټونه

کله چې غواړوطنز وپېژنو، نو لومړی مو دا پوښتنه په ذهن کې راګرځي چې طنز له څه شي څخه جوړ شوی دی؟ ډېر ځله به مو د کره کتنې په باندارونو کې اورېدلي او کتابونو کې به مو هم لوستي وي چې ادبپوهان ځينې ادبي ليکنې په طنز کې نه شاملوي، خو ليکوال يې طنز بولي، ان دا چې ځينې ليکوالو پر خپلو کتابونو په غټو تورو طنزي شعرونه، طنزي لنډې کيسې يا دې ته ورته نومونه ليکلي وي، خو ادبپوهان يې په طنز کې نه شمېري.

اوس پوښتنه دا ده چې له ادبپوهانو سره کوم معيار شته چې يوه ليکنه طنز ګڼي او بله د طنز له دايرې څخه باسي؟ مخکې تر دې چې د دې پوښتنې ځواب ته راشو يو مثال راوړو. ($H_2O$) د اوبو کېمياوي ترکيب دی. په دې ترکيب کې هايدروجن او اکسيجن د يو خاص تناسب له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې سره یو ځای شوي او اوبه ځنې جوړې شوي دي. اوس که لـه دې مرکباتو څخه یو یې هم کم یا ډېر شي اوبه نه شو ورته ویلای. دغه ډول طنــز هــم پــر دوو پښــو یــا دوو بنســټونو بانــدې ولاړ دی چــې یــو انتقاد(Criticism)او بل یې هم ظرافت (Elegance) یا خلاف العـادت (Abnormal) حالت دی. که یوه لیکنه یوازې لوستونکی وخندوي، خـو انتقاد و نه لري طنز نه بلل کېږي، دغه ډول که یـوازې انتقـاد ولـري او خندوونکی وضعیت نه وي پکې انځور شـوی بیـا هـم طنـز نـه شـو ورتـه ویلای، نو ویلای شو چې طنز له دې دوو توکیو څخه جوړ دی او په دې دوو معیارونو او کانو یې تللای شو.

په طنز کې د انتقاد او ظرافت ارزښت پـه دې کـې دی چـې ظرافـت د انسان عواطف او انتقاد یې عقل را پاروي. کله چې لوسـتونکی پـه طنـز کې ظریف انځور ویني، نو د خندا په بڼه غبرګون ښیي. کله چې یې پـه انځور کې د ټولنې ناخوالو ته پام شو، نو عقل یې راپارېږي او په انځـور کې د اجتماعي ناخوالو او بدمرغیو په اړه قضاوت کوي چې وروسـته دا قضاوت د قهرجن غبرګون بڼه نیسي، ځکه خو د طنز خندا د کومیـډي، هزل او هجوې په پرتله ډېر دوام نه کوي او ډېر ژر په ژړغوني او قهـرجن حالت اوړي.امریکایي طنز لیکوال مـارک ټـوین (Mark Twain) وایـي چــې د ظرافـت او خنـدا اصـلي شـکل خوشـاله کـوونکی نـه، بلکـې ځوروونکی دی.(۴۲: ۱۷۲ مخ )

د لوستونکي عقلي غبرګون دوه پړاوه لري چې لومړی قضاوت او دوهـم قهر او نفرت دی. په طنز کې ظرافت او د لوستونکي خندول هـدف نـه، بلکې وسیله بلل کېږي. د ظرافت په مرسته په ټولنه کې بې عـدالتي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاته پټ عاملین د لوستونکو سترګو ته درېږي چې په نتیجه کې لوستونکی د هغه په اړه معقول او منطقي قضاوت کوي. په دې بحث کې پر انتقاد، خندوونکي وضعیت، خندا او خندا پر لاملونو باندې خبرې کوو.

### ۱: انتقاد(Criticism):

انتقاد د ظلم او بې عدالتیو پر وړاندې د انسان عقلي او وجداني عکس العمل دی. طنز له انتقاد او انتقاد په ټولنه کې له ناخوالو او نادودو سره تړلی دی. انتقاد په حقیقت کې له بشري ناورین سره د خلکو کرکه ښیي. کله چې په یوه ټولنه کې بشري ارزښتونه تر پښو لاندې کېږي او خلک خپله کرکه د انتقاد په بڼه ښیي، دا مانا لري چې خلک له بشري ارزښتونو څخه دفاع کوي او اصلاح غواړي.
طنزي انتقاد لکه میکروب ضد درمل (Antibiotics) چې د خوند له مخې زهرجن او ترخه دي، خو هدف یې د میکروبونو له منځه وړل او بشري روغتیا ده. د انتقاد ساحه ډېره پراخه ده، خو طنزي انتقاد له نورو انتقادونو څخه جلا او خپلې ځانګړتیاوې لري چې په دې ډول دي.
په طنز کې د مشخص فرد پر ځای پر ناخوالو برید کېږي، ځکه چې پر مشخص فرد، کورنۍ او ادرس انتقاد کول حقوقي بڼه پیدا کوي او په حقوقي برخه کې باید کره شواهد او اسناد وړاندې شي. په ادبي لیکنه کې چې په هره اندازه کرکټرونه، پېښې، نومونه، ادرسونه، نېټې، مکان او زمان په واقعي توګه معرفي کېږي، په هماغه اندازه د لیکنې هنریت او تخیل ته زیان رسېږي. که په یوه لیکنه کې هر څه واقعي او بربنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل شوي وي، هغه هنري لیکنه نـه، بلکـې ژورنالیسـتیک راپـور ګـڼلای شـو، ځکـه چـې د ژورنالیسـتیکو لیکنـو بنسـټ واقعیـت او ادبي لیکنـو بنسټ تخیل دی. ځینې داسې طنزونـه هـم شـته چـې پـه هغـه کـې د سټالین، هیټلر او موسولوني نومونه یاد شوي او غندل شـوي دي، خـو دا کرکټرونه د خپلو شخصیتونو لـه مخـې نـه، بلکـې د خپلـو فکرونـو لـه مخې غندل شوي یا په بله مانا دا کرکټرونه سیمبولونه بلـل کېـږي چـې هدف یې د انسان وژنې، تراهګرۍ، دیکتـاتورۍ، نژادپـالنې او فاشـیزم غندنه ده. (۲۷: ۳۴ مخ)

په ټولنه کې ناخوالې هر چا ته ښکاره او قربانیان یې هم له هیچا څخـه پټ نه دي، خو د ظالمانو، مفسدینو او انسانیت دښمنان هـر څـوک نـه پېژني، ان دا چې کېدای شي د یوه بشري ناورین شاته پټ لاسونه هیچا ته هم معلوم نه وي، مثلا په یوه ښار کې درنه چاودنه کېږي چې په پایله کې یې په سلګونو ملکي خلک مړه کېږي، خو هیڅوک نه پوهېږي چـې په دې چاودنه کې د چا لاس و؟ نو که موږ د معلومو اشخاصو پـر ځـای پر بې عدالتیو باندې انتقاد وکړو د ټول ملت، آن دا چې د ټـول بشـریت خواخـوږي بـه راسره وي، ځکـه چـې لـه جنـایتونو سره هیڅـوک هـم خواخوږي نه لري، خـو کېـدای شي چـې لـه جنایتکـارانو سره د هغـوی خپلوان، قوم، قبیله او ملګري خواخوږي ولـري او کېـدای شي د توجیـه کولو لپاره یې بېلابېل دلایل ولري. د طنز موضوع انتقاد او هدف یـې د ټولنې اصلاح ده. که د برید هدف معلوم شخص وي، نو دا لیکنـه طنـز نه، بلکې هجوه ده، ځکه چې په هجوه کې هر څه بربنـډ ویـل کېـږي او کرکټرونه یې هم واقعي وي. (۴:۴۳ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شخصي عقدې لـه مخـې پـر یـو چا برید کول او د هغه سپکاوی د هجوې عمده ځانګړنه ده، خو ثرنګه چې په طنز کې پر معلومو افرادو تېری نه کېږي، نو د طنز مینه وال ورځ په ورځ ډېرېږي، خو هجویه اثار ورو ورو له صحنې وزي، لیکوال او شاعر یې په چاپولو شرمېږي او آن دا چې اکثره معاصر کره کتونکي یې په ادبیاتو کې هم نه شاملوي.
کله چې په ټولنه کې ناخوالو ته اشاره کوو، نو سمدلاسه له ځان سره قضاوت کوو او په نتیجه کې یې انتقاد هم کوو چې د دې انتقاد پایله له یوه عمل یا فکر ثخه کرکه ده، خو ښه او معقول قضاوت هغه وخت کېدای شي چې په هغه کې قضاوت د عدالت له مخې شوی وي. کله چې د قضاوت لپاره د عدالت معیار منو، نو عدالت دا ایجابوي چې په خپل انتقاد کې انساني کرامت او بشري ارزښتونو ته درناوی وکړو او له شخصي عقدې او سپکاوي ثخه ځانونه وساتو.

۲: خلاف العادت وضعیت (Abnormal Situation):
کله چې طنز لیکوال په خپله لیکنه کې د هنري قوت په مټ د اجتماعي ناخوالو داسې ظریف اړخونه انځور کړي چې خلکو تر اوسه پورې نه وي لیدلي او خلاف العادت ورته ښکاره شي، نو تعجب کوي او خپل تعجب د خندا په بڼه ثرګندوي. په کومیډي، هزل او هجوه کې هم د خلاف العادت انځور په لیدلو سره خلکو ته خندا ورځي، خو په طنزي ظرافت کې د ټولنې ناخوالې هم لیدل کېږي.
ځینې ادیپوهان د ظرافت پر ځای خندا د طنز رکن یا بنسټ بولي، خو زه فکر کوم چې خندا د طنز داخلي توکی نه، بلکې د طنز پر وړاندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکو عاطفي غبرګون دی. طنز په خپل داخلي جوړښت کې خندا نه، بلکې ظرافت لري چې د خندا سبب ګرځي، مثلا کله چې د انسان پزې ته د نسوارو بوی ورسېږي، نو غبرګون ښيي او پرنجېږي. دلته نسوار د انسان د شامي سيستم برخه نه ده، بلکې د نسوارو بوی د دې لامل کېږي چې د انسان شامي سيستم عکس العمل وښيي، نو خندا هم له طنز څخه دباندې د لوستونکي عاطفي غبرګون دی چې لامل يې په طنز کې نغښتې ظرافت دی، نو راشئ چې لومړی خندا او بيا خندوونکی وضعيت وپېژنو.

## خندا:

خنداپېژندنه يا جيلاټولوجي (Gelatology) هغه په زړه پورې برخه ده چې خندا څېړي اوپه دې وروستيو وختونو کې يې د ډېرو پوهانو او ليکوالو پام ځان ته راواړولی دی، خو تر اوسه پورې هيڅا هم د خندا اصلي او اساسي علت نه دی موندلی او په دې اړه څېړنې رواني دي. (۱۲: ۱۵ مخ)

خندا د ځينو پېښو پر وړاندې د انسان فيزيولوژيکي غبرګون دی چې د حرکاتو او غړونو په بڼه څرګندېږي. په سترګو کې خوښي ښکاره کېدل، مسکی کېدل، تندی غوړېدل يا ورين کېدل، د شونډو حرکات، غاښونه ښکاره کېدل، قهقهه يا له خوشاليه تر خوله لوړ اوازونه ايستل، د پښتورګو درد، د سترګو اوښکي او ځينې وختونه ادرار د خندا عمده نښې نښانې ګڼل کېږي، خو يوازې هغه مسکا له طنز سره اړه لري چې په پای کې په ژړغونی او قهرجن حالت پای ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا دوه ډوله ده چې یوه واقعي او بل مصنوعي خندا ده. واقعي خندا د یوې پېښې پر وړاندې د انسان عاطفي غبرگون دی، خو مصنوعي خندا یوازې د خندا تمثیل دی لکه په کومیډي فیلمونو، ډرامو او تیاتر کې چې ممثلین د خلکو د خوشاله کولو لپاره په مصنوعي ډول خاندي، څرنگه چې خندا ساري خوی لري، نو نندارچیانو ته هم سرایت کوي او هغوی هم خاندي.

دا چې خندا ساري ده، په دې اړه نامتو ارواپوه رابرټ پرووواین ( Robert Provine) د خندا ساینس په نوم یوه په زړه پورې مقاله لیکلې چې په نننۍ اروا پوهنه ویب پاڼه کې خپره شوې ده. دی د خپلې خبرې د ثبوت لپاره د تانزانیا د نجونو د ښوونځي یوه کیسه را اخلي او وایي: (( د ( ۱۹٦۲ م ) کال د جنوري پر دېرشمه نېټه د ښوونځي په یوه لیلیه کې دریو نجونو غوښتل چې ښوونځی د لنډ مهال لپاره رخصت شي. هغوی تر خپل منځ پر دې خبره وخندل. د دوی خندا ورو ورو پسې ډېرېده او اخیر دومره ډېره شوه چې هر وار به یې یو بل ته کتل، نو له خندا به رنگې شوې او پر ښستورگو به یې لاسونه ونیول. دې خندا په څو شېبو کې د لیلیې ( ۹۵) نورو نجونو ته هم سرایت وکړ او هغوی هم په خندا پیل وکړ. د نجونو دې حالت ته په کتو سره د ښوونځي اداره اړه شوه چې ښوونځی رخصت کړي. کله چې دا خبر د منځنۍ افریقا نورو ښوونځیو ته ورسېد، نو هلته هم زده کوونکو د ښوونځي د رخصت کېدو له امله خندا پیل کړه. دې خندا همداسي دوام وکړ او په نتیجه کې یې زرو تنو زده کوونکو په زوره زوره وخندل)). ډاکټر پرووواین وایي چې انسان په دماغ کې د خندا لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ځانګړې کڅوړه لـري چې خنـدا کشـف کـوونکی عصـبي میکـانیزم (Neurological mechanism of laugh detection) نــومېږي. داکڅـوړه پـه خپـل ځـان کـې یـوه کشـف کـوونکې آلـه لـري چـې (Detector) نومېږي. کله چې څوک په خپل چاپېریال کې د خنـدا وړ څه ویني یا بل څوک خاندي، نو دا آله په اوتومات ډول کڅوړې ته امر کوي چې خندا تولید کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خندا لاملونه

که غواړو چې په طنز کې ظریف انځورونه ولرو او د دې انځورونو په وسیله لوستونکي وخندوو، نو باید لومړی د خندا لاملونه وپېژنو. که یوه لوحه په څو رنګونو ښکلې شوې او بیا پر هغه باندې پیغام لیکل شوی وي، د لیدونکي پام ډېر ژر ځان ته رااړوي او د رنګونو له امله پیغام هم په ډېر شوق او لیوالتیا لولي، خو د دې لپاره چې خلک پیغام خوښ کړي باید لومړی د لوستونکو ذوق او شوق ځان ته معلوم کړو. په طنز کې هم باید لومړی پوه شو چې خلک ولې خاندي؟ که د خندا لاملونه مو وپېژندل، بیا کولای شو چې په طنز کې هغه څه ورګډ کړو چې خلک خندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا په عمومي توګه دا څلور ډولونه لري:

**۱ : فزيکي عوامل**: د انسان جسم داسې حساس ځايونه لري چې که د بل چا لاس ورسره ولګېږي، نو پاربږي او د خندا سبب کېږي، مثلا د ځينو خلکو تخرګونه، نس او پوندې د بل چا له لاس سره حساسيت لري، که لاس ورسره ولګېږي، نو تخنېږي او خندا ورځي.

**۲: کېمياوي عوامل**: ځينې کيمياوي مواد شته چې که چېرې د پزې له لارې د انسان وجود ته ننوزي، د خندا لامل ګرځي لکه ځينې ګازونه، نشه يي توکي، زعفران او داسې نور.

**۳: عصبي ناروغی**: ځينې خلک له دې پرته چې په خپل چاپېريال کې څه ويني خاندي يا کله کله يو څه ويني، نو عصبي سيستم يې ګډوډ شي او بې اختياره خاندي. مثلا يو څوک د خپل زوی، لور، پلار، مور يا بل تېروني دوست د مړينې خبر واوري يا يې مړی ويني، نو د ژړا پر ځای ناڅاپه خندا شروع کړي، کله کله خو دا خندا دومره دوامداره وي چې کنټرولول يې ګران کار وي.

د ډار تر څنګ هيله مندي هم د خندا يو عامل کېدای شي. مثلا يوه ماشوم اشتباه کړې ده، پلار يې په قهر دی او په ماشوم پسې منډې وهي، پلار غواړي ماشوم ونيسي او سزا ورکړي. په دې وخت کې ماشوم منډې وهي او خاندي، ماشوم ځکه خاندي چې ځان ازاد احساسوي او فکر کوي چې پلار يې نه شي نيولای، خو که ماشوم د پلار ګوتو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورشي، نو د ماشوم خندا په ناهيلۍ اوړي او په ژړا پيل کـوي. دغـه ډول د ځينو عصبي ناروغانو خندا هم له چاپېريال او ټولنې سره اړه نه لـري، بلکې اصلي علت يې عصبي ناروغۍ دي.

**۴: فکري عوامل:** دا عوامل مستقيم يا غير مستقيم د انسان پر ذهـن اغېز کوي او خنـدوي يـې. فکـري عوامـل خـورا مهـم دي، ځکـه چــې د انسان له عقل، فکر، عقايدو، منطقو، قضـاوت او ټـولنې سره اړه لـري او ساحه يې ډېره لويه ده. څرنگه چې طنز هم د انسـان لـه فکـر او ذهـن سره اړه لري، نو يوازې د خندا فکري عوامل له طنز سره اړه لري او مـوږ هم يوازې د خندا همدا عوامل څېړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خندا په اړه بېلابېلې تیورۍ

اروا‌پوهان له ډېره وخته راهیسې هڅه کوي پوه شي چې یو عادي او روغ انسان ولې خاندي؟ په دې اړه ګڼ شمېر څېړنې شوي او د خندا ځینې عوامل هم مشخص شوي دي، خو لا تر اوسه پورې څېړونکي نه دي توانېدلي چې د خندا اصلي لامل پیدا کړي، ځکه نو په دې اړه نورې څېړنې هم رواني او په دې اړه نوي تیورۍ هم وړاندې کېږي. موږ په دې بحث کې د خندا د لاملونو په اړه د بېلابېلو پوهانو تیورۍ را اخیستي او غواړو چې د دې تیوریو تر منځ ګډ ټکي پیدا او د خندا یو نسبتاً اصلي عامل وپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱: د لوړوالي احساس (Superiority):

ارستو وايي چې کله عاقل انسان د ناپوهانو کړه وړه ويني يا خپل سيال مات کړي،نو خندا ورځي، مثلا کله چې يو لوستی سړی ويني چې يوه نالوستي سړي کتاب سرچپه نيولی وي، نو لوستي سړي ته خندا ورځي، ځکه چې ځان لوړ او هوښيار ورته ښکاره شي.

۲: تناقض (Incongruity):

کله چې د شکل او محتوا، ظرف او مظروف، ظاهر او باطن،پيل او پای، عمل او وينا تر منځ تناقض موجود وي د خندا سبب کيږي، مثلا که يو بوډا سړی د موسيقۍ په محفل کې د ځوانانو غوندې نڅا کوي، نو په ليدو يې خلکو ته خندا ورځي، ځکه چې د بوډا عمر او نڅا تر خپل منځ تناقض لري.

۳: ماشيني تکرار (Mechanical repetition) :

فرانسوي فيلسوف (برگسن) وايي چې (( ماشيني تکرار د خندا اصلي لامل دی لکه تکيه کلام، يوه خبره ځو ځو واره تکرارول، د يو خاص نظم له مخې پزه کشول يا ژبه ژر ژر راايستل او ننه ايستل او داسې نور حالتونه چې ماشيني تکرار ولري د خندا وړ گرځي)).برگسن زياتوي چې يوازې د انسان کړه وړه د خندا وړ دي. موږ پر حيواناتو او بې سا شيانو باندې يوازې هغه وخت خاندو چې انسان ته ورته کارونه کوي. کله چې يو ريبوټ د انسان په ډول کار کوي د خندا وړ گرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳: تضاد:

دا تیوري تناقض ته نژدې ده، توپیر یې دا دی چې په تناقض کې یو حالت له بل سره سم اړخ نه لګوي، خو په تضاد کې یو حالت مطلق د بل حالت ضد وي. مثلا که د ډاکټر د کلینیک لوحه د قصاب پر دوکان راځوړند کړو د خندا وړ ګرځي.

## ۴: حاضر ځوابي:

دا تیوري تناقض ته ورته ده. کله چې له یو چا څخه پوښتنه وکړو، خو هغه زموږ د توقع یا عادت خلاف ځواب راکړي موږ ته خندا راځي. په دې اړه به د انګلستان د مشهور سیاستوال چرچل مثال راوړو. (( وایي چې یوه ورځ چرچل په یوه نرۍ کوڅه کې تېرېده چې خپل یو سیاسي مخالف یې په مخه ورغئ، دواړو یو بل ته رډ رډ سره وکتل، د چرچل مخالف وویل: زه نه شم کولای چې پر یوه اړخ شم او یو احمق تېر شي. چرچل په داسې حال کې چې پر یوه اړخ کېده وویل: خو دا دی زه دا کار کوم)). په حاضر ځوابۍ کې زموږ ذهن د یو ډول ځواب وړاندوینه کړې وی. په حاضر ځوابۍ کې موږ ته ځکه خندا راځي چې د خپلې وړاندوینې خلاف ځواب ترلاسه کړو. (۴۷: ۲۹۳ مخ)

## ۵: سوء تفاهم یا ناسم پوهاوی:

دا تیوري هم تناقض ته ورته ده. د موضوع د ښه وضاحت لپاره به یو مثال راوړو. یو ځوان سینما ته تللی دی. شاته یې ښځه او مېړه ناست دي او تر خپل منځ په لوړ اواز خبرې سره کوي. ځوان د دوی د خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لاسه د فیلم ډایلاګونه سم نه شي اورېدای. اخیر یې زړه تنګېږي، ښځې او مېړه ته وایي: ډېر وبخښئ تاسې ښې خبرې کوئ، خو زه په دې حالت کې سم نه شم اورېدای. ښځې فکر وکړ چې د ځوان هدف دا دی چې زموږ خبرې سمې نه شي اورېدای، هغه و چې له قهره سره او شنه واوښته او په لوړ اواز یې وویل: زما یې د بلا چې زموږ خبرې سمې نه شې اورېدای . موږ خو د خپل کور خبرې کوو، ته نه شرمېږې چې زموږ کورنۍ خبرې اورې؟

## ٦: د توقع خلاف حالت:

دا تیوري هم تناقض ته ورته ده. مثلا د پنځوس کلن سړي د زېږېدو کلیزه وي. په دې مناسبت یې په یوه شانداره هوټل کې مېلمستیا جوړه کړې او دوستانو یې ډول ډول سوغاتونه ورته راوړي وي. سړی د مېلمنو په مخ کې یوه یوه تحفه خلاصوي او هیله لري چې تحفه به د ده له ژوند او شخصیت سره برابره وي. په دې لړ کې د تحفې یو پاکټ خلاصوي، ګوري چې د توقع خلاف له پاکټ څخه د ښځو لب سیرین، سینه بند او ماشومانو چوشک او چوټه (پمپر) راوزي.

## ۷: اروایي سکون:

هربرټسپنسر (Herbert Spencer) باور لري چې کله د انسان ذهن له غم او اندېښنو څخه تش یا په یو کار کې بریالی شي، نو خندا ورځي، مثلا یو مجرم په شل کاله بند محکوم شوی او په زندان کې پروت دی. نابېره په ټلویزیون کې خبر راځي چې کودتا وشوه او نوی حکومت ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیان خوشي کوي. په دې وخت کې زنداني خوشاله کېږي او پـه زوره زوره خاندي. دلته وینو چې زنـداني ځکـه خانـدې چـې د خپلـې توقـع خلاف خبر يې واورېد، خو که همدا زنداني په زندان کې شل کاله بند پوره کړي او اخیري ورځ له زندان څخه وزي، نه خاندي، ځکـه مخکـې لا خـبر دی چـې د بنـد مـوده يـې پـوره شـوې او خـوشي کېـږي. هغـه خوشالي چې له انسان سره په دوامداره توګه ملګرې وي د خنداپـه بڼـه نه څرګندېږي. مثلا یو ځوان له داسې نجلۍ سره واده کـوي چـې ډېـره يې خوښه ده. دا ځوان که څـه هـم ډېـر خوشـاله دی، خـو بیـا هـم نـه خاندي. کېدای شي یوازې هغه وخت له خوشـالیه وخانـدي چـې خـبر شي نجلۍ له ده سره واده کولو ته چمتو شوه، نو په لنډ ډول ویلای شو چې د پورتنیو تیوریو تر منځ ګډ ټکی خلاف العاده وضـعیت دی. کلـه چې انسان په خپل ژوند کې له خلاف العاده وضعیت سره مـخ شي، نـو خندا ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ټولنه کې ځانګړی تناسب او انساني تصور

موږ په نړۍ کې انسانان، حیوانات، نباتات، غرونه، سیندونه، ځنګلونه، ښارونه، کلي او نور موجودات وینو. د هغوی تر منځ اړیکې، د هر یوه ځانګړتیاوې، اغېزې، فزیکي جوړښت، حرکات، وظایف او نور اړخونه وینو او سوکه سوکه ورسره عادت کېږو. په شعوري او یا هم ارثي یا کلتوري ډول دا واقعیتونه منو، باالاخره د هر شي په اړه په خپل ذهن کې یو تناسب ټاکو او په همدې باور ژوند کوو. کله چې کوم وخت یو شی له همدې تناسب څخه وتلی راته ښکاره شي، نو موږ ته خندا راځي. کېدای شي دې ډول وضعیت ته خلاف العادت یا (Abnormal Satuation) ووایو. مثلاً پیشي تل پر بامونو ګرځي او هیچا ته د خندا وړ خبره نه ده، ځکه چې ټول خلک ورسره عادت شوي دي، خو که کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د یوې څو پوړیزې ودانۍ پر بام خر ولاړ وي، کېدای شي ډېر خلک تعجب وکړي او په خندایې ننداري ته راټول شي.

خلاف العادت وضعیت د تل لپاره انسان نه خندوي.مثلا که همدا خر د ډېر وخت لپاره پر بام پاته شي او یابیخي یې همدا بام د اوسېدو ځای وي، نو ورو ورو خلک ورسره عادت کېږي. لکه یوه ټوکه چې د لومړي ځل لپاره انسان ډېر خندوي، خو دوهم ځل یې لږ خندوي، دریم ځل یې بیخي لږ خندوي او څلورم ځل ښایي بیخي د خندا وړ نه وي.

خلاف العادت وضعیت جغرافیایي حدود هم لري. یوه صحنه به په یوه هیواد کې د خندا وړ، خو بل ځای کې به عادي کار وي. په اروپا کې په سپې باندي گاډۍ کشول معمولي خبره ده، خو په افغانستان کې د خندا وړ خبره بلل کېږي. دغه ډول زمان هم پر خندوونکي وضعیت اغېز لري. یو کار به یو وخت معمول و، خو اوس د خندا وړ خبره ده چې ښه مثال یې موډ او فیشن دی. که یو څوک خپل کالي د زر کاله پخواني موډ سره سم جوړ کړي، د خندا وړ خبره ده.

د طنز مخاطب انسان او خندا هم انساني ځانگړنه ده. انسان درې عمده اړخونه لري چې له دې لارې ښه څېړل کېدای شي، لکه جسمي، ذهني او اجتماعي اړخونه. موږ د انسان همدې دریو اړخونو ته پام کوو، د وخت په تېرېدو ورسره عادت کېږو او بیا یې په خپل ذهن کې یو تناسب انځوروو. کله چې په دې دریو برخو کې یوه برخه یې له تناسب څخه وتلې راته ښکاره شي، نو موږ ته خندا راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انسان په ذهن کې د جوړ شوي تناسب ډولونه

د بشري ټولنې تر ټولو اساسي واحد انسان دی چې په عمومي ډول یې درې اړخونه د څېړنې وړ دي لکه جسمي، ذهني او اجتماعي اړخ. کله چې غواړو د یو چا په اړه معلومات لاس ته راوړو، نو دا درې اساسي پوښتنې مو په ذهن کې راګرځي چې له جسمي پلوه څنګه دی؟ زوړ دی که ځوان؟ چاغ دی که ډنګر؟ په ونه جګ دی که ټیټ؟ د پوستکي رنګ یې سپین، تور، سور او که ژیړ دی؟ له ذهني پلوه لېونی دی که پر سد ؟ لوستی دی که نالوستی؟ هوښیار دی که کم عقل؟ لایق او که تنبل دی؟ چالاک دی که ساده؟ کله چې مو یې دا دوه اړخونه وپېژندل، دریمه پوښتنه د هغه د اجتماعي کرکټر په اړه ده. نوموړی څه وظیفه لري؟ معلم، متعلم، مامور، سوداګر، مجرد، متاهل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاستوال، شتمن او که بېوزله دی؟ کله چې مو دا معلومات حافظې ته وسپارل د وخت په تېرېدو سره زموږ په ذهن کې یو تناسب جوړېږي. دا چې په دې تناسب کې گډوډې یا خلاف العاده وضعیت څنگه د خندا لامل گرځي په دې بحث کې به د جسمي، ذهني او اجتماعي تناسب څو بېلگې وړاندې کړو.

۱: جسمي تناسب:

جسمي یا فزیکي تناسب څو ډولونه لري لکه د انسان د وجود د غړو تناسب، جنسي ځانگړتیاوي، حرکات او سکنات، خبرې کول او داسې نور ډولونه لري چې دلته یې هر ډول په لنډ دول بیا نوو.

الف: د بدن غړي:

انساني حواس د انسان د بدن له غړو سره عادي شوي او زموږ په ذهن کې یې یو تناسب جوړ کړی دی. که هر غړی یې له تناسب څخه ووځي، نو د خندا وړ گرځي. که د یو چا پزه د کوتان د مښوکي غوندې اوږده وي، غوږونه یې د وزې غوندې اوږده او ځړېدلي وي، سر یې د غوبي غوندي غټ او ملا یې د مېږي په شان نری وي، نو د خندا وړ گرځي.

ب: جنسي ځانگړتیاوي:

نر ځان ته خپل او ښځه خپل ځانگړي فزیکي خصوصیات لري. که یوه ښځه ږیره ولري، د نر کالي واغوندي یا نر د ښځي کالي واغوندي یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځينه سينګار وکړي، نو خلک يې په ليدو خاندي، آن دا چې که د نر اواز د ښځې غوندې نرى وي هم خلکو ته خندا ورځي. ښځې په بيولوژيکي لحاظ داسي جوړښت لري چې ماشوم زېږولای شي، خو نارينه داسي جوړښت نه لري، نو که په رسنيو کې يو داسې خبر خپور شي چې کوم نارينه اميدواره شوی يا يې ماشوم زېږولی، په رښتيا چې د خندا وړ خبره ده.

په بيولوژيکي لحاظ تر بلوغ وروسته د نارينه ږيره او برېتونه راشنه کېږي، خو ښځه ږيره او برېتونه نه لري، نو که کومه ښځه ږيره ولري د خندا سبب کېږي. که يو ځوک اوږده ږيره ولري او بيا يې وخريي نو په لومړي ځل ليدو سړي ته خندا ورځي. ښځې د سر وېښتان اوږده پرېږدي او خپل ځانګړی موډ لري، خو که کومه ښځه سر پاک وخريي يا نارينه له ږيرې څخه کوڅۍ جوړه کړي د خندا وړ ګرځي.

ج: حرکات او سکنات:

لوی، کوچنی، نر، ښځه، ځوان او زوړ انسان خپل ځانګړي حرکات او سکنات لري. که دا حرکات او سکنات تبديل يا له خپل تناسب څخه ووځي د خندا وړ ګرځي. که د انسان حرکات او سکنات حيوان يا د حيوان دا انسان ته ورته شي بيا هم د خندا وړ ګرځي، مثلا خرس لکه انسان پر دوو پښو روان شي، انسان لکه آس پر څلورو پښو حرکت وکړي او شيشنى شروع کړي، شامپانزي بيزو لکه انسان پيتاوي ته خنګ وهلی او په هينداره کي خپل مخ ګوري،دا ټول خلاف العادت حالتونه دي چې د خندا وړ ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د: د خبرو ډول:

هر انسان د خپل ذهن، عقیدې، عقـل او اجتماعـي موقـف سره برابـرې خبرې کوي. پر لېوني باندې خلک راټول وي او وربانديې خاندي او کله کله لېونی هم پر خلکو باندې خاندي، ځکه لېوني ته د خلکو او خلکـو ته د لېوني خبرې خلاف العادت ښکارېږي. که ولسمشر پوډري غوندي خبرې وکړي یا یو عالم د نالوستو خلکو غوندي د کلماتو تلفظ ناسـم ادا کړي یا د یوې کلمې پر ځای بله کلمـه راوړي د خنـدا وړ ګرځـي. مـثلا که یو باسـواده سـړی پاکسـتان، فاکسـتان، اسـاسي قـانون ، هساسـی کانون او عشق، (هشک) تلفظ کړي د خندا وړ ګرځي.

## ۲: ذهنـي او عاطفي تناسب

لکه څنګه چې د انسان له جسمي تناسب سره اشنا شوي یو، دغسې د هر پوړ انسانانو له ذهني او عاطفي وضعیت په اړه هم په خپل ذهن کې یو تصویر لرو. هر عادي او جوړ انسان عقل لري او زموږ توقع هم دغه ده چې باید هر عاقل او بالغ انسان معقول او معمول کړه وړه ولري، خو که موږ په خپل دې تصویر کې لږ بدلون هم احساس کړو، نو خندا راځي. مثلا یو سیاستوال معمـولاً سـیاسي مفکـوره او تګـلاره لـري، خـو کـه یـو ګوندي سړی په ګونـدي دفـتر کـې ووایـي چـې: د خـدای پـر پـار دلتـه سیاست مه کوئ، نو خلکو ته پر دې خبره خندا ورځي. کـه یـو څـوک د دې پر ځای چې د وزې غولانځه ولوشي دلوشلو په نیامت وزه تـر لکـۍ کشوي د خندا سبب کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان چې ځنګه په ظاهره ښکاري، نو د خلکو په ذهن کې د هغه د فکر په اړه هم یو انځور جوړېږي او له ظاهر څخه یې هماغسې- هیله لري. مثلا له روحاني شخص څخه د تقوا، له نظامي افسر- څخه د زړه ورتوب، له ملنګ څخه د عاجزۍ، له باسواده څخه د سواد او له ډاکټر څخه د طبي پوهې هیله کېږي، خو که دا خلک د خپل ظاهري شکل او مسلک خلاف کوم عمل وکړي د خندا وړ ګرځي.

عواطف د انساني جوړښت یو بل مهم اړخ دی. خندا، ژړا، مینه، کرکه، ډار او زړه ورتیا انساني عواطف ګڼل کېږي چې هر یو یې پر خپل وخت او ځای راڅرګندېږي. که یو جنرال د جګړې پر مهال په غوږو کې ګوتې نیولي او د مرګ له ویرې ژاړي، خلکو ته خندا ورځي، خو که په هماغه جګړه کې یو ملکي سړی د مرګ له ویرې ژاړي، د خندا خبره نه ده. دغه ډول که یو څوک د خندا پر ځای ژړا او د ژړا پر ځای خندا شروع کړي هم د خندا وړ ګرځي.

## ۳: اجتماعي تناسب

انسان یو اجتماعي موجود دی، په ټولنه کې ژوند کوي او له ټولنې سره ګڼ شمېر اړیکې لري. اجتماعي جوړښت د یو لړ اخلاقي، فرهنګي، عقیدوي، فکري، سیاسي او اقتصادي تمایلاتو محصول دی. دا اړیکې د وخت په تېرېدو سره د خلکو په ذهن کې تناسب جوړوي او خلک ورسره عادت کېږي. که دا اړیکي لړ بدلون ومومي، نو په لومړي وار لیدو یې سړي ته خندا ورځي. د یادونې وړ ده چې اجتماعي تناسب اخلاقي او جغرافیایي پولې لري، مثلا که په افغاني ټولنه کې د جنازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مراسمو کې موسیقي او نڅا ولیدل شي، د خندا وړ خبره ده، خو په چین کې د یوویشتمې پېړۍ تر لومړۍ لسیزې پورې په یوه سیمه کې دا دود و چې لوڅو نجونو به د مړي د ښخولو پر مهال نڅا کوله. د اجتماعي ژوند تناسب خورا ډېر اړخونه لري چې یو څو یې په دې ډول دي:

الف: اخلاق:

اخلاق فردي ځانګړتیا بلل کېږي، خو کله چې د څو افرادو اخلاق سره ورته او پر دې مشترکو اخلاقو ډېر وخت تېر شي، د فرد پر ځای ټولنې ته منسوب او ټولنیز اخلاق بلل کېږي. ټولنیز اخلاق د ټولنې هر وګړی پېژني او ورسره عادت شوی وي. که د ټولنې په اخلاقي تناسب کې لږ بدلون راشي د خندا وړ ګرځي. مثلا که په ځینو عربي او غربي هیوادونو کي له یو چا څخه په مجلس کي باد پرېږي شي د خندا وړ خبره نه ده، خو په افغانستان کي د خندا وړ څه چې لویه بد اخلاقي ګڼل کېږي.

ب: لباس:

ټول انسانان په یو ډول نه یو ډول جامه اغوندي. ښځه خپله او نارینه خپل ځانګړی ذوق او فیشن لري چې خلک ورسره عادت شوي دي. په هندوستان کې خلک له لونګ سره عادت دي او د نارینه وو ملي لباس ګڼل کېږي، خو که په افغانستان کې څوک د لومړي ځل لپاره په لونګ کې ولیدل شي د خندا وړ خبره ده. په افریقا کې یوه قبیله ژوند کوي چې ښځې او نارینه یې لڅ لغړ ژوند کوي او همداسي عادت شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، خو که په افغانستان کې څوک لڅ لغړ وګرځي د خندا وړ خبره ده. د افغانستان اکثره کلیوال خلک لنګوټه تړي، خو په امریکا کې لنګوټه تړل دود نه دی. که د افغانستان ولسمشر په کمیس پرتوګ او لنګوټه کې پارلمان ته وینا کوي ډېر دروند، ولسي او عادي ښکاري، خو که د امریکا ولسمشر لنګوټه وتړي او د کانګرس غونډې ته وینا وکړي، د خندا وړ خبره ده.

ځینې کارکوونکي او مامورین خپل ځانګړی یونیفارم لري لکه پولیس، د ښاروالۍ کارکوونکي، ډاکټر او نور یادولای شو. ځینې خلکو په خپله ځان ته یونیفارم خوښ کړی وي لکه ملنګ چې یو ځانګړی لباس او موډ لري. اوس که پولیس ته د ملنګ او ملنګ ته د پولیس یونیفارم ورواغوندو د خندا لامل ګرځي.

ج: سینګار:

ښځه، نر، لوی، کوچنی،کلیوال او ښاري خلک خپل ځانګړی، ذوق، سلیقه او د سینګار ډول لري. که نارینه د ښځو غاړګۍ په غاړه کړي، نوکان او شونډې سرې کړي، والي په غوږ کړي، رنګه او زرین کالي واغوندي یا ښځه د نارینه په ډول ځان جوړ کړي د خندا لامل ګرځي.

د: مهال:

انسان په ټولنه کې له یو ځانګړي زمان او عمر سره تړلی دی چې هره دوره یې د خلکو په ذهن کې یو تناسب جوړوي. ماشوم، ځوان او بوډا په ټولنه کې جلا دریځونه او کړه وړه لري. خلک د هر چا له عمر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم د هغه ذهني او جسمي تناسب خپل ذهن تـه سـپاري او هغـه ډول هيله څنې لري. که ماشوم د مور په غېږ کـې پـروت وي او مـور يـې تـی ورکوي طبيعي معلومېږي، خو که لوی سړی په داسې حالت کې ووينـو د خندا وړ خبره ده. د عمر تر څنگ د کال فصـل، موسـم، شـپه، ورځ او ځانگړي وختونه هم خپل تناسب لري. که يو چا پـه دوبي کـې د سـاړه ژمي کالي اغوستي وي د خندا وړ خبره ده. کـه لمـر راختلـی او مـلا د سهار اذان کوي، خلکو ته خندا ورځي. که څوک په رڼا ورځ کې څـراغ په لاس او پر لاره روان وي ليدونکو ته خندا ورځي. که يو بزگر په خپلـه ځمکه کې د يوه فصل پر ځـای د بـل فصـل تخـم کـري هـم د خنـدا وړ گرځي.

هـ : چاپېريال:

هر انسان له ټولنې سره خپلې ځـانگړي اړيکـې لـري يـا هـر څـوک پـه ټولنه کې خپل ځای ځايگی لـري چـې خلـک ورسره عـادت شـوي دي. مامور له دفتر، بزگر له کروندې، ډاکټر له روغتون، دوکاندار لـه دوکـان او معلم له مکتب سره اړيکې لري او هر څوک په خپل چاپېريال او کـار کې طبيعي او مناسب برېښي. که په دوی کې هر يو يې له خپل ځای ځخه ليري او بل ځای ته يووړل شي د خندا وړ گرځـي، مـثلا يـو بزگـر چې پايڅې يې رابډوهلي، پـه ختـو لـړلي پښـې، پـه دوړو سـپېره او پـه کلينيک کې د ډاکټر پر ځای ناست وي ښکاره خبره ده چې د خنـدا وړ گرځي. دغه ډول که يو ډاکټر د نانوای کالي اغوسـتي، پـه اوړو سـپېره، شاوخوا يـې د ډوډۍ پخولـو سـامانونه پراتـه او ناروغـان گـوري، هـم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا ورړ خبره ده. دغه ډول حیوانات هم ځانګړي چاپېریال ته منسوب دي. که په دښت کې د یوې کېږدۍ مخ تـه اوښ ولاړ وي ډېـر طبیعـي ښکاري، خو که خلک په یوه تالار کې د یوه سیاسي مشر وینا اورېدو تـه راټول شوي او ناڅاپـه یـو اوښ سـټېج تـه ودرېـږي او بـړ بـړ شروع کـړي خامخا به خلک خاندي.

و: طبیعي چاپېریال:

طبیعي چاپېریال لکه ځنګلونه، غرونه، دښتونه، سیندونه او ونــې خپـل ځانګړی جوړښت لري چې د انسانانو په ذهن کې یې ځانګړی تناسـب انځور شوی دی. که کوم وخت یـو غـر یـا ونـه سرچپـه ووینـو د خنـدا وړ ګرځي یا که کوم سیند ووینو چې اوبه یې مخ پر لوړه بهېـږي، نـو هـم د تعجب وړ خبره ده.

ز: مصنوعي چاپېریال:

انسانانو د خپلې خوښې سره سم ځان ته مصنوعي چاپېریال هـم جـوړ کړی دی، لکه ښارونه، کلي، بازارونه، واټونه، کورونـه او داســې نـور. پـه کور کې دننه هم هر څه خپل ځای او تناسب لري. مثلا څپلۍ، کالي او خواړه خپل ځایونه لري. که څپلۍ په یخچال کې، بالاپوښ په دېګ کې او غوړي د کالیو په ماشین کې ووینو، خندا راځي.

تر دې ځایه مو د خندا لاملونه وپېژندل، اوس کولای شـو چــې د خنـدا لپاره داسې یو انځور وړاندې کړو چې طنزي خندا وزېږوي. طنزي خندا دا ده چې په پای کې په ژړغوني حالت پـای تـه رسـېږي. پـه طنـز کــې خندا د خندا لپاره نـه، بلکـې د انتقـاد ځلولـو لپـاره وسـیله وي. طنـزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا باید یوازې د ټولنې هغه نیمګړتیاوې روښانه کړي چې په هغه کې انسان ملامت وي، نه دا چې هغه څوک په نښه کړي چې د طبیعي پېښو او اجتماعي ناخوالو قرباني شوي وي لکه معلولین، ناروغان، بېوزلان، مظلومان او داسې نور. دا ډول خلک که څه هم په جسمي، ذهني او اجتماعي لحاظ له تناسب څخه وتلي او د خندا وړ کېدای شي، خو څرنګه چې دا ډول حالتونه له اجتماعي بې عدالتۍ سره اړه نه لري، نو دطنز موضوعات نه بلل کېږي. که پر دې ډول خلکو وخاندو، نو دا به طنز نه، بلکې هجوه، هزل او کومیډي وي. په دې ډول لیکنه کې نه یوازې دا چې د طنز هدف مو له پامه غورځولی، بلکې اخلاقي او بشري معیارونه مو هم تر پښو لاندې کړي دي. یو ادبي اثر چې په هره اندازه د خپل ولس او خپلو خلکو ارزښتونو ته پام کوي، په هماغه اندازه د بشریت لویې کورنۍ ته نژدې برېښي او نړیوال بلل کېږي. (۲۲: ۴۹ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طنز ته ورته خېلونه

هجوه، هزل، کومیډي او ټوکه په طنز کې د بحث وړ موضوعات نـه دي، خو دا چې د خندا په برخه کې له طنز سره نژدې خپلوي لري، نو ډېری لوستونکي او آن لیکوال هم د طنز او یادو خېلونو تر منځ سم تـوپیر نـه شي کـولای. مـوږ پـه دې بحـث کـې دا څلـور واړه خېلونـه پـه لنـډ ډول معرفي او بیا یې له طنز سره پرتله کوو.

۱ : هجوه: (Lampoon)

هجوه عربي کلمه ده چې په لغت کې دیـو چـا د عیبونـو ویلـو، غنـدلو، ښکنځلو، پوچوخبرو او بد ویلوته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه نثر یا نظم دی چې د چاعیبونه په زیږه او کله کله د ښکنځلو پـه ژبـه بیـانوي. هجوه ویل په عربو کې زوړ تاریخ لري او پښتو ته هم له عربي ژبې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي ده . عربو به د خپلو اتلانـو او ويـاړونو يـادولو تـه ( مفـاخره) يـاني وياړنه او دښمنانو غندلو ته (هجو) ويل. مفاخره بـه يـوازې پـه اشخاصـو پورې اړه نه درلـوده، بلکـې وطـن، قـوم، تـاريخ، بتـان، خـدای گـوتېي او ځينې نور ارزښتونه هم پکې ستايل کېدل، خـو د پاچاهـانو، شـتمنو او زورواکو خلکو ستاينې ته به يې ( مدح ) او مدح ويونکي شاعر ته به يې ( مداح ) وايه.

هغه شاعر چې د پاچا يا بل واکمن په ستاينه کې به يې شعر وليکه، نـو پاچا به د انعام په ډول پيسې يا بل مادي امتياز ورکاوه، خو کـوم شـاعر چې به دغه امتياز تر گوتو نه کړ او يا بـه يـې ونـډه لـږ وه، نـو د پاچـا پـه غندلو او سپکولو به يې خوله پورې کړه. هجوه لکه طنز ادبي سبک دی او په خاص ادبي ژانر پورې اړه نه لري، بلکې پـه هـر ژانـر او قالـب کـې ليکل کېدای شي، خو تر ډېره بريده په نظم کې ويـل کېـږي. (۲۲: ۲۱۰ مخ)

هجوه او طنز يوازې د خندا او ظرافت په برخه کې تر خپل منځ خپلـوي لري، ياني طنز او هجوه دواړه خلک خندوي، خو داسې هجوه هم شـته چې له قهره ډکه او چندان خندا نه لري. په طنز کې هدف د اجتماعي فساد په گوته کول او غندل دي چې هدف يې اصلاح وي، خو په هجوه کې د فساد پر ځـای معلـوم شـخص پـه نښـه کـول وي چـې هـدف يـې سپکاوی، شخصي عقده او غچ اخيستل دي.

( ۴: ۳۰-۴۴ مخونه)

په هجوه کې انتقاد مستقيم، خو په طنز کې غير مستقيم وي. دهجـوې پيغام لوخ او هـنري ارزښـت يـې لـږ وي،خـو طنـزي پيغامونـه ظريفانـه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنري او په ادبي صنعتونوپسولل شوي وي. د هجوې ژبه پوچه وي، خو په طنز کې د ژبې عفت ته پوره پام کېږي. په طنز کې اخلاق یو مهم اصل گڼل کېږي، خو په هجوه کې د ټولنې اخلاقي معیارونو ته پام نه کېږي. طنز اجتماعي رسالت لري او دټولنې یوه لویه برخه مخاطب کوي، کېدای شي یو ملت او آن ټول بشریت مخاطب کړي، خو د هجوې ساحه کوچنۍ او معمولا فرد یا یوه ډلگۍ په نښه کوي. (۹: ۷مخ)

څرنگه چې هجوه له پخوا څخه د نظم په بڼه لیکل کېده، نو تر اوسه یې هم په همدې بڼه ژوند کړی او نثري بېلگې یې لږ لیدل شوي دي. څرنگه چې ادب له اخلاقو سره نږدې اړیکې لري او هجوه اخلاقي معیارونه تر پښو لاندې کوي، نو ځینې ادبپوهان یې گردسره له ادب څخه دباندې بولي، په تېره بیا هغه لیکوال خو هجوه بیخي په هنر کې نه شاملوي چې هنر د ژوند لپاره یا گټور هنر پر تیورۍ باور لري.

که له لیکوالو او شاعرانو څخه راتېر شو، نو اوس هجوه هغه لوستونکي او اورېدونکي هم نه خوښوي چې اجتماعي اخلاقو او د ژبې عفت ته ژمن دي. همدا دلیل دی چې اوس د هجوې لیکل لږ شوي او هجوه یوازې په ولسي بانډارونو کې په شفاهي ډول ویل کېږي. داسې ډېر لیکوال او شاعران شته چې هجویه اثار لري، خو له شرمه یې نه چاپوي او ان په خپل ادبي اثارو کې یې هم نه شمېري.

په پښتو ژبه کې خوشال بابا، غني خان، استاد محمد انور نومیالی، سلیمان لایق، محمداسماعیل اړم، جعفر خان اخکزی او عصمت قانع

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپ او ناچاپ هجویه اثار لري. دلته د بېلګې په ډول د عصمت قانع مشهور هجویه شعر یو بیت راواخلو چې د پارلمان مسخره نومېږي:

برېتو په پارلمان کې، ږیرور په پارلمان کې
اِخوان هم ورسره دی، پرولیتر په پارلمان کې
(۳۳: ۳۸ - ۴۰ مخونه)

## ۲: هزل: Pornography

هزل عربي کلمه ده چې په لغت کې ډنګرولو، چټې او خوشي خبرو کولو او فحش ویلو ته وایي، خو په ادبي اصطلاح کې هغه نثر، شعر، انځور او هنري حرکت ته ویل کېږي چې مضمون یې د انسان تناسلي آلاتو، جنسي اړیکو او د شرم ځایونو یادول او هدف یې تفریح او کله کله د یو چا توهین وي. (۴۲:۲۹۴ - ۳۷۵مخونه)

هزل هم د خندا او ظرافت په برخه کې له طنز سره خپلوي لري او خلک خندوي. په هزل کې هم د هجوې غوندې د اخلاقو او اجتماعي ادابو خلاف خبرې کېږي او هغه څه ویل کېږي چې په ټولنه کې شرم ګڼل کېږي. هجوه معمولا د شعر په قالب کې جوړېږي چې هم لیکلې او هم فولکلوریکه بڼه لري. په هزل کې د هجوې په پرتله قهر لږ او خندا ډېره وي. په هزل کې اساسي هدف تفریح وي، خو کله کله د یو معلوم شخص غیبت او سپکاوی هم پکې کېږي. (۴۷:۲٦ - ۲۷ مخونه)

هزل له طنز سره ښکاره توپیرونه لري. په هزل کې هدف تفریح او سپکاوی او په طنز کې هدف د ټولنې اصلاح او معلوم شخص ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپکاوی نه کېږي. د طنز ژبه په ادبي صنعتونو پسوللې او ښکلې شوې وي، خو په هزل کې هر څه بربنډ او بې پردې ویل کېږي.

پخوا هزل لیکل لکه د نورو ژبو غوندې په پښتو ژبه کې هم دود و، خو اوس نه یوازې دا چې نه لیکل کېږي، بلکې د ادب برخه هم نه ګڼل کېږي. هغه شاعران چې اوس هم هزلیه شاعري کوي، نه یوازې دا چې له شرمه یې نه چاپوي، بلکې په خپلو ادبي اثارو کې یې هم نه شمېري، بس یوازې یې د تفریح لپاره په ځانګړو بانډارونو کې په شفاهي ډول وایي. د دې خبرې د ثبوت لپاره د استاد نومیالی وینا را اخلو. (( ما خپل بې ادبه ادب یاني هزلیه اثار ښاغلي سلیمان لایق، عبدالباري جهاني، محمد معصوم هوتک، عبدالرحیم هاتف، ډاکټر صادق فطرت ناشناس او نورو لیکوالو او شاعرانو ته واستول او مشوره مې ځنې وغوښته چې ایا دا اثر د ټولنې په درد خوري که یه؟ ایا چاپ یې کړم که یه؟ خو دوی د چاپ مشوره را نه کړه او ځینې یې پټه خوله پاته سول او ګرد سره یې ځواب را نه کړ)).

په پښتو ژبه کې خوشال بابا لومړنی شاعر دی چې هزلیه شاعري یې څو څو واره چاپ شوې ده. په معاصره دوره کې استاد محمد انور نومیالی، سلیمان لایق او عصمت قانع نومونه یادولای شو چې د نورې شاعرۍ تر څنګ هزلیه شاعري هم لري. زه دلته د لوستونکو د معلوماتو لپاره د خوشال بابا د هزلیه شاعرۍ یو بیت راوړم چې وایي:

زه د (...) له لاسه چاو ته فریاد کړم
لمونځ زما له لاسه ووځي چې (...) یاد کړم
(۱۴: ۶۴۵ - ٦۴٦ مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳: کومیډي (Comedy):

کومیډي هغه تمثیلي او لیکلی اثر دی چې د لیدونکي او لوستونکي پام ځان ته ور اړوي او د تفریح سبب کېږي.کومیډي معمولاً د داستان په فورم کې لیکل کېږي لکه لنډه کیسه، ډرامه، ناول او داسې نور. ارستو په عمومي ډول ادبیات پر دریوعمده برخو وېشي او یوه برخه یې تمثیلي هنر بولي. وروسته تمثیلي هنر هم پر دوو عمده برخو وېشي-چې یوه برخه یې کومیډي او بله تراژیدي بولي.

پخوا چې دلوستو خلکوشمېر لږ او د چاپ اسانتیاوي نه وې، نو د لیکلو اثارو وېش او مطالعه ګران کار و، ځکه نو کومیډي اثار تمثیل کېدل،خو اوس یې هم تمثیلي اوهم یې لیکلي بڼه لرو لکه د دانته آلیګیري (الهي کومیډي) رومان او داسې نور. نامتو اروپاپوه (زیګمونډ فرویډ) د کومیډي هدف تفریح بولي او پر دوو عمده برخو یې وېشي-چې یوه بې ازاره او بله هدف لرونکې کومیډي بولي.د کومیډي هدفونه هم دوه ډوله بولي چې یوه ته رسوا کوونکی او بل ته ویجاړوونکی هدف وایي. رسوا کوونکی هدف لکه په یو چا ملنډې وهل او د هغه عیبونه ښکاره کول او ویجاړوونکی هدف لکه یو ځوک سپکول او خلکو ته د هغه بد انځور وړاندې کول.

(۴۱: ۲۶ - ۲۷ مخونه)

اروپایي ادبپوهان کومیډي پر څلورو برخو وېشي:

الف: رومانتیکه کومیډي:

په دې ډول کومیډي کې عاشقانه پېښې ډېرې لیدل کېږي. د دې کومیډي اتل که څه هم ډېرې ستونزې ګالي، خو داستان په خوښۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشالۍ پای ته رسېږي. لکـه د شکسـپېر ( د ژمـې پـه نیمـه شـپه کـې خوبونه لیدل ) ډرامه.

ب: طنزي کومیډي:

زما په اند د طنزي کومیډي اصطلاح اشـتباه ده. کـه څـه هـم د طنـز او کومیډي تر منځ خندا مشترک عنصر ګڼل کېږي، خو د طنز نور عنـاصر او هدف له کومیډي سره ډېر توپیر لري. طنزي کومیډي په حقیقت کې د طنز تمثیلي بڼه ده. لکه ښنګه چې مخکـې مـو وویـل پخـوا کومیـډي خلکو په لیکلې بڼه نه مطالعه کوله، بلکې یوازې به تمثیـل کېـده او کـه لیکل کېده هم، نو پیغام به یې  د مطالعې له لارې نه، بلکې د تمثیل له لارې خلکو ته وړاندې کېده او لیکلی متن به یې د ډرامې د سکریپټ په بڼه و. د دې اثارو یوه ډېره پخوانۍ بېلګه د لرغـوني یونـان د اریسـتوفان کومیډي ډرامې دي چې لومړی پر سټیج تمثیل او وروسته چـاپ شـوي دي.البته داسې کومیډي او طنـزي اثـار هـم لـرو چـې لـومړی چـاپ او وروسته په تمثیلي بڼه وړانـدې شـوي دي، لکـه د ترکـي عزیـز نسـین او اسپانوي لیکوال سروانتیس اثار چې تر چاپ وروسته تمثیل شوي دي.
(۴۳:  ۱۰۰ - ۱۰۳ مخونه)

ج: رفتاري کومیډي:

په دې ډول کومیډي کې د ټولنې عرف، عادات او رواجونه ارزول کېږي لکه د برناردشاو کومیډي اثار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د: سبکي کومیډي (Farce):

دا ډول کومیډي لیدونکی یا لوستونکی ډېر خندوي. اتـل یـې لـه خپـل اصلي تناسب څخه وتلی ښوول کېږي، کله ډېر کوچنی او کله ډېر لـوی وي چې په دې ډول د خندا وړ ګرځي لکه د فرانسـوي لیکـوال (مـولېر) کومیډي اثار. کومیډي هم له طنز سره د خندا او ظرافت پـه برخـه کـې خپلوي لري، خو له طنز سره یـې توپیرونـه دا دي چـې کومیـډي یـوازې لیدونکی یا لوستونکی خندوي او په ټولنه کې ناخوالو او فساد تـه ګوتـه نه نیسي، حال دا چې طنز په ټولنه کې پر ناخوالو او فساد برید کـوي. په کومیډي کې خندا هدف او طنز کې وسـیله وي. کومیـډي پـه خنـدا پیل او خندا پای ته رسېږي، خو طنز په خندا پیل او ژړغوني حالت پای ته رسېږي. په کومیډي کې کله کله افراد هم په نښه کېږي، خو په طنـز کې د افرادو پر ځای پـر اجتماعـي نـاخوالو او فسـاد بریـد کېـږي. (۲۳: ۱۵۷ - ۱٦۰ مخونه)

کومیډي هم لکه طنز ادبي سبک دی او په هر ژانر او قالـب کـې لیکـل کېدای شي. کومیډي په پښتو ژبه کې هم لکه د نـورو ژبـو پـه شـان پـر تمثیلي بڼې سربېره په لیکلې بڼه ډېره لیکل شوې ده، په تېره بیا د شعر برخه یې ډېره غني ده. کومیډي د هجوې او هزل په پرتله طنز ته ډېـره نژدې ده، ځکه نو عام خلک کومیډي اثـارو تـه طنـز وایـي. څرنګـه چـې کومیډي د طنز په پرتله د ټولنې جـدي مسـایل نـه مطـرح کـوي او عـام خلک یې د ټیټ ذوق محصول ګڼي او له بلې خوا په افغاني ټولنه کې د طنز غوندې په درنه سـترګه نـه ورتـه کتـل کېـږي، نـو ځینـې لیکـوال او شاعران خپلو کومیډي اثارو ته د طنز نوم ورکوي. دلته د بېلګې په ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښاغلي عبدالوهاب مینه یار کومیډي شعر را اخلو چې د موږکانو واده نومیږي:

دا واورئ مضمون دی د هر قسم حیوانانو
شوق یې و جوړ کړی، و واده د موږکانو
*****

خدمت وکړ کوترې ور جارو یې هغه ځای کړ
تجیر جولاګي راوړ او ور پټ یې هغه سرای کړ
رقعې شوپرک واخیستې خبر یې هر اشنای کړ
دېګونه غونډک پرېولل او دا امر یې پر ځای کړ
په ګډه اتڼ واچاوه خزدکو، منګوړانو
شوق یې و جوړ کړی، و واده د موږکانو
*****

بورا د زوم لپاره کنډاله کړه ور ګل پوشه
پتنګ څراغان بل کړل، هلتې جوړ کړ جم و جوشه
زنځه ستړې سوې، ویل شنې چای کړئ جوشه
مږه لنګه سوې ورته ناسته وه خاموشه
غزل ویل غوماشې، رقص وکړ خځکانو
شوق یې و جوړ کړی، و واده د موږکانو
*****

راغوښتی یې و باز او پر ښه تخت یې کښېنولی و
پوځ یې د رقم رقم مرغانو را بللی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارغه په تورلباس کې لڅې پښې تشریف راوړی و
توتي مینا خاله ته د واده کارډ ورلیږلی و
له ډېرې خوشالیه عطر کار کړله سویانو
شوق یې و جوړ کړی، و واده د موږکانو
*****
په دې شپه کې دمخه وزې سره کړل خپل لاسونه
یږ هم ډېر رقص وکړ، غورځوله یې برېتونه
پسه و ډېر خوابدی، ویل ورک سوي مي بوټونه
تازي بانډار خراب کړ، ویل تنبور پرې کړل تارونه
بانډار چې یې خراب سو، رش و کش جوړ کړ مچانو
شوق یې و جوړ کړی، و واده د موږکانو
*****
راغی و میدان ته اوښ لالا باجه په غاړه
سورنا وهله چرگې د چغال ځنگ ته ولاړه
غوا مات کړ خپل ډولک اخیر پر خپله تړه ولاړه
رسمي مېلمه ملخ و چې پیره وه پر ولاړه
ضربې پرله پسې وهلې ټولو چنگابښانو
شوق یې و جوړ کړی، و واده د موږکانو
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



واده د حیوانانو و مضمون چې یې انجام سو
کیسه ډېره اوږده ده د قلم رنګ مي تمام سو
لمر ولوېد مینه یاره بس یې کړه تیاره ماښام سو
د پند مسرۍ لري، خو که د چا لږ ور ته پام سو
ظاهره مزاحیه ده باندې وخاندئ یارانو
شوق یې و جوړ کړی، و واده د موږکانو.
( ۳۹: ۱۱٦-۱۱۲ مخونه)

۴: ټوکه (Jock):

ټوکه د ولسي ادب تر ټولو کوچنی داستاني فورم دی. ټوکې لومړی د یوه شخص یا یوې ډلې له خوا جوړېږي، خو د هغه شخص نوم یا ډلې نوم نه ورسره یادېږي، وروسته لاس پر لاس ولسي بانډارونو ته لاره مومي او د ولس ګډ مال ګڼل کېږي. ټوکې د یوې ټولنې پر ناخوالو او اجتماعي نیمګړتیاوو باندې د ولسي نقد هینداره ده. په هره اندازه چې په یوه ټولنه کې ظلم، تېری او نادودې ډېرې شي اوخلک نه شي کولای په ازادانه ډول د دغو ناخوالو پر وړاندې خپل غږ پورته کړي یا د خلکو د زده کړې کچه ټیټه وي، نو هلته ډېرې ټوکې جوړېږي.
پر افغانستان باندې د روسانو د پوځي یرغل پر مهال خلکو پر جهادي تنظیمونو او واکمن کمونست ګوند ښکاره انتقاد نه شوای کولای، نو هغه و چې خپل غبرګون به یې د ټوکې په بڼه ښووده. داټوکې که څه هم په ظاهره په ولسي- بانډارونو کې د تفریح لپاره ویل کېدې، خو په حقیقت کې یې د وخت له سیاستونو سره د ولس کرکه ښووله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې ليکوال او شاعران د ټوکې هدف يوازې خندا اوتفريح ګڼې، خو زه فکر کوم چې په ټوکه کې د طنز، هجوې او هزل درې واړو سبکونو ځرک ليدلای شو. ځرنګه چې د دې ځلورو واړو سبکونو ځانګړتياوي مو مخکې بيان کړي، نو دلته يې بيا نه تکراروو او يوازې د داسې يوې ټوکې بېلګه راوړو چې طنز ته ورته جوړښت او پيغام لري. دا ټوکه د غير مسلکي او هغه معلم انځور وړاندې کوي چې خپل ټولګی نه شي اداره کولای.

(( يوه ښوونځي ته د نظارت هيئت يا تفتيش ورغی. ګوري چې په يوه ټولګي کې خورا شور او غالمغال دی. شاګردان ځوک غبرګې باسي، ځوک په کړکيو کې ناست دي، ځوک په چت پورې ځړېږي او ځوک سندرې وايي. لنډه دا چې په ټولګي کې د دوړو له لاسه چندان ځوک نه ښکاري، خبره خو ګردسره نه اوربدل کېږي. د تفتيش يوه غړي ته سخت قهر ورغی. په ټولګي کې تر ټولو مشر هلک يې تر غوږ ونيو او ځو کلکې چپلاخې ( ځپېړې) يې ورکړې. ويل نور که کشران دي، ته خو لوی سړی يې، ته د دې پر ځای چې دوی دي غلي کړي وای ته په خپله له دوی سره کښېوتلی يې او غالمغال دي جوړ کړی دی. بيا يې زده کوونکو ته وويل چې ښوونکی مو چېرې دی؟ زده کوونکو په خندا ورته وويل: صاحبه دا تاسې چې تر غوږ نيولی دی، زموږ ښوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز بڼې

طنز يو پراخ هنر دی چې پر ادبياتو سربېره له نقاشـۍ، سـينما او تيـاتر سره هم خپلوي او نژدې اړيکې لري. لکه څنگه چې اوبه د مايع، جامـد او گاز په بڼه موندل کېږي، دغسې طنز هـم بېلابېلـې بڼـې او شـکلونه لري لکه شفاهي، ليکلی، تصويري او تمثيلي شکلونه. دا چـې کومـه بڼه يې غوره، گټوره او موثره ده د موضوع په حجم، د ليکوالو او مينه والو په ذوق، سويې، امکاناتو او ژوند په شرايطو پورې اړه لري. په دې بحث کې به د طنز هره بڼه له خپلو ځانگړتياوو، اړتياوو او شرايطو سره په لنډ ډول بيان کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱: شفاهي طنز

شفاهي طنز خورا اوږد تاریخ لري. له کومه وخته راهیسې چې انسانانو خبرې کـول شروع کـړې، نـو ورسره سـم د ظرافـت حـس (Sense of humor) څرګونه هم لیدل شوي دي. ځینې خلک د ظرافت یو خاص استعداد لري. په دغسي خلکو باندې ولسي بانډارونه تاوده او خبرې یې د هر چا خوښـېږي. د ولسيـ ادب پـه ټولـو فورمونـو (نظـم او نـثر) کـې داسې بېلګې لرو چې د طنز ټولې ځانګړتیاوې لري، ان دا چې داسـې په تول پوره طنزونه هم لرو چې له لیکلي طنز سره سیالي کـولای شي. د شفاهي طنز ښه بېلګه ټوکې دي چې ځینې یې د طنز په کـاڼي پـوره خېژي او د ټولنې خورا مهـم موضـوعات پکښـې را اخیسـتل شـوي وي، یاني هم اجتماعـي انتقـاد، هـم ظرافـت او هـم اصـلاحي هـدف لـري. شفاهي طنز د وړاندې کولو له مخې پـر دوه ډولـه وېشـل کېـږي. یـو دا چې یو څوک په ولسي بانډار کـې طنـز خپلـه تمثیلـوي. دا ډول تمثیـل کېدای شي چې د کیسې ویلو یا د حرکاتو په ډول وي. دوهم دا چې یو ولسي سړی په بانډار کې له کوم حرکت پرته یوازې کیسه کوي.

د شفاهي طنزونو یو بل ډول هم لرو چې هغه د لیکوالو شفاهي طنزونـه دي. کله چې یو لیکوال له ډاره خپل طنز نـه شي چـاپولای یـا د چـاپ امکانات نه لري، نو خپل طنز په ولسي بانډارونو کې د کیسې پـه فـورم کې وایي او داسې رنګ ورکوي چې ګواکې دا هسې یوه ټوکه او لـه بـل چا څخه یې اورېدلې ده. نـور خلـک چـې د لیکـوال طنزونـه اوري، نـود ټوکې په ډول یې په ولسي بانډارونو کې وایي چـې پـه دې ډول دا طنـز

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شفاهي بڼه خوله پر خوله له يوه نسل څخه بل نسل ته ځي او د وخت په تېرېدو سره د ولسي ادب برخه گرځي.

د ليکلي او شفاهي طنز تر منځ يو توپير دا دی چې د ليکلي طنز ليکوال معلوم، خو د شفاهي طنز ليکوال نامعلوم دی. بل توپير يې دا دی چې په ليکلي طنز کې پر فرد نه، بلکې پر اجتماعي ناخوالو باندې انتقاد کېږي، خو په شفاهي طنز کې اکثره مشخص افراد په نښه کېږي. څرنگه چې په شفاهي طنز کې ليکوال نه دی معلوم، نو موضوع شخصي عقده او غچ اخيستل نه بلل کېږي، ځکه چې انتقاد کوونکی او د انتقاد وړ لوری دواړه ولس دی.

## ۲: ليکلی طنز

تر شفاهي طنز را وروسته ليکلی طنز اوږد تاريخ لري. کله چې ليک ايجاد شو او انسان خپل اوازونه، افکار او مفاهيم د انځورونو او تورو په بڼه پر کاڼو، پوستکو او کاغذونو باندې وليکل او بيا د صحافت صنعت رامنځ ته شو، ورسره سم طنز پر شفاهي بڼې سربېره په ليکلې بڼه هم رواج وموند. لکه څنگه چې ليکلي متنونه پر نظم او نثر وېشل شوي، دغسي ليکلي طنزونه هم پر همدې دوو برخو وېشل کېږي. لومړني لاس ته راغلي طنزونه د اريستوفان منظوم اثار دي چې تر ميلاد دمخه په لرغوني روم کې ليکل شوي دي. طنز د ليکنې په هر فورم او ژانر کې ليکل کېدای شي لکه ادبي، ژورناليستيک او داسې نور فورمونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳: تصویري طنز

تصـویري طنـز پـر څلـورو عمـده برخـو وېشـل کېږي لکـه کاریکـاتور، کارټون، کاریفوټو او طنزي انځور چې په دې بحث کې به هره برخه جلا جلا وڅېړو.

### الف: کاریکاتور (Caricature)

د کاریکاټور کلمه د ایټالوي ژبې له (Caricatura) څخه راوتلې او وروسته په انګلیسي ژبه کې دود شوې ده. کاریکاتور د انځورګرۍ هغه ډول ته ویل کېږي چې د یوه انسان یا شي انځور داسې جوړ شي چې په هغه کې مبالغه شوې وي او د انځور ځینې برخې لویې یا کوچنۍ وښودل شي او په دې ډول د خندا وړ وګرځي. د کاریکاتور پیغام ډېر څرګند نه وي، لړی نه لري، بلکې یوازې یو انځور وي، یوازې په چاپي رسنیو کې خپرېږي او تر ډېره حده په فرد پورې اړه لري. (۲۸: ۱۹۲۶ مخ)

### ب: کارټون (Cartoon) :

کارټون د څو کاریکاتورونو مجموعه یا دڅو نفرو یا څو شیانو هغه انځـور دی چې تر خپل منځ ځانګړې اړیکې لري یا په بله اصطلاح ویلای شـو چې کارټون هغه غیر واقعي او نیمه واقعي انځور دی چې پـه ګرافیـک کې د طنزي، هجویه، هزلیه او کومیډي هدفونو لپاره جوړېږي.
کارټون په منځنیو پېړیو کې د نقاشۍ یوه ځانګړې برخه وبلل شوه چـې پر غالیو، ختېنو دېوالونو، ښیښو او لرګیو باندې جوړېده، خو په نولسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېږۍ کې چاپي رسنیو تـه راغـی او پـه دې ډګـر کـې خـورا وځلېـده. د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د کومیک سټریپ (Comic Strip) پـه نـوم کارټوني بڼه دود شوه چې د پرله پسې انځورونو په مرسـته یـوه کیسـه بیانوي. کله چې سینما راغله، نو کارټون سینما ته هم لاره وموندله چې اوس پر کارټوني تصویري کیسو سربېره کارټوني فیلمونه هم جوړ شـوي او ډېر مینه وال لري. (۳۲: ۵۰ مخ)

## ج: کارټوني عکس

کارټوني عکس ته (کـاریفوټو) یـا (فوټوکـاتور) هـم وایـي چـې اکـثره پـه اجتماعـي رسـنیو کـې خپرېـږي او د کاریکـاتور پـر ځـای کـار ځنـې اخیستل کېږي. کله چې کمپیوټر او بیـا د رسـامۍ او ګرافیـک سـافټ وېرونه جوړ شول، نو کارټوني عکسـونو هـم رسـنیو تـه لاره وموندلـه. پـه کارټوني عکس کې د یو چا واقعي عکس له خپل تناسـب څخـه ایسـتل کېږي، اصلي عکس او کارټوني شکل یې سره ګـډ او نـوی عکـس ځنـې جوړېږي. کارټوني عکسونه اکثره د هجوې په موخه جوړېږي چې هدف یې د یو چا سپکاوی وي. (۴: ۱۵۴ مخ)

## د: طنزي انځور

طنزي انځور د یو چا یا یوه شي واقعي انځور ته ویل کېږي او هیڅ ډول ګوتي نه پکې وهل کېږي. دا ډول انځورونه په افغانستان کې تـازه دود شوي او اکثره یې په اجتماعي رسنیو کې خپرېږي. تر دې مهاله چـې ما د طنز په اړه څومره څېړنې کړي، نو د طنز د دې شکل په اړه مې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دي لوستي، ځکه مې نو د ( طنزي انځور ) نوم ورکړ. د طنز په دې شکل کې د ټولنې تل پاتې او همېشني موضوعات نه را اخیستل کېږي، بلکې اکثره یې لنډ مهاله اجتماعي، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي حالات بیانوي. کېدای شي چې د وخت په تېرېدو سره خلک د دې ډول طنزونو په پیغام باندې پوه هم نه شي، مثلا په افغانستان کې د ولسمشرۍ دریم ځل انتخاباتو نتایج ډېر وځنډېدل، داسې مجلس به نه و چې هلته به دا موضوع نه یادېده. په دې اړه په اجتماعي رسنیو کې د اوښ یو انځور خپور شو چې له یوې کنډوالې ښخه یې پر دېوال سر راپورته کړی وي او ورسره لیکل شوي وه چې: ((وا خلکو! هغه د انتخاباتو نتایج څنګه شوه؟)) تر ۲۰۱۵م کال وروسته د افغانستان ډېری ځوانانو د کار لپاره اروپا ته مخه کړل. په دوی کې داسې ځوانان هم ول چې هیڅ ډول اقتصادي او امنیتي ستونزې یې نه درلودې، بس هسې د اروپا ژوند یې خوښ و. په دې وخت کې د یوه خره انځور خپور شو چې خاوند یې له غوجلې ښخه دباندې راکشوي، خو خر شاته زورونه وهي. ورسره لیکل شوي و چې: (( زه له اروپا پرته ځای کار نه کوم)).

طنزي انځورونه پر دوو برخو وېشل کېږي چې په دې ډول دي:

## الف: یوازې انځور

دا ډول انځورونه واقعي وي، لکه کارټوني انځور ګوتي نه پکې وهل کېږي، خو په خپل ځان کې داسې دوه متضاد حالتونه لري چې لیدونکو ته خندا ورولي، مثلا د ولسي جرګې یو وکیل د غونډې پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درانه خوب ویده دی. په یوه سټوډیوم کې کانسرټ جوړ شوی دی. د سټوډیوم څنګ ته د پولیسو یو جنرال په رسمي یونیفارم کې ونې ته ختلی او د کانسرټ ننداره کوي.

## ب: انځور او تبصره

په دې شکل کې انځور د خندا وړ نه دی، خو له انځور سره لیکل شوې تبصرې انځور د خندا وړ ګرځولی دی. مثلا یو عسکر په مورچل کې په درانه خوب ویده دی او ( ویښ زلمی) ورسره لیکل شوی دی. د یوې ډېرې فیشني نجلۍ له نیمه لڅ عکس سره لیکل شوي چې: ((دا نجلۍ ډېره بېوزله ده، آن دا چې بېچارګۍ د اغوستو کالي هم نه لري)).

## ۴: تمثیلي طنز

تمثیلي هنر له ډېرو پخوا زمانو راهیسې د ادبیاتو په تاریخ کې یو ځانګړی او مهم بحث دی. دا بحث د ادبپوهانو له خوا د تمثیلي هنر، داستاني ادب او ډراماټیک ادب په نومونو یاد شوی ، خو په وروستیو وختونو کې دا ویش تر پخوا دقیق شوی دی. هغه داستان چې د کاغذ پر مخ لیکل شوی وي داستاني ادب ورته ویلای شو، خو کله چې د سټیج پر سر تمثیل شي، فیلم یا ډرامه وربانديې جوړه شي د ادبیاتو له ډلې څخه وزي او د هنر د یوې بلې کورنۍ غړی بلل کېږي چې تمثیلي هنر یې بولي.(۳۸: ۱۲۵ مخ)

که څه هم اوس مهال هره ډرامه، تیاتر او فیلم د یوې لیکلي کیسې له مخې تمثیل کېږي، خو له یاده کیسې یا نکلونه کول خورا اوږد تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. په لرغوني یونان کې د راپسودونه (Rhapsodes) په نوم یوه ډله نکلچیان اوسېدل. دوی به خلکو ته د (ایلیاد) او (اودیسه) او داسې نور شفاهي نکلونه کول چې خلکو به ډېر خوښول. دې نکلچیانو به یوازې نکلونه نه کول، بلکې ځینې حرکات به یې هم ورسره اجرا کول چې اوسنی تمثیل ورته ویلای شو.(۴۳: ۴ مخ)

نو ویلای شو هغه طنزي کیسه چې په ژوندۍ بڼه پر ستېج باندې تمثیل شي، فیلم ورباندې جوړ شي، ډرامه ورباندې جوړه شي او یا د سینما یا ټلویزیون له لارې ننداري ته وړاندې شي، تمثیلي طنز بلل کېږي. په تمثیلي طنزونو کې نه یوازې دا چې د لیکوالو تمثیلي پارچې، طنزي لنډې کیسې او طنزي ناولونه راځي، بلکې هغه ولسي یا شفاهي طنزي کیسې هم د تمثیلي طنز برخه بلل کېږي چې د ولسي خلکو له خوا تمثیل کېږي. په پښتني ولسي ادب کې ګڼ شمېر داسې کیسې لرو چې طنزي رنګ لري او د ټولنې خورا مهم موضوعات پکښې رانغاړل شوي وي. دا ډول کیسې په مېلو او ښادیو کې هم د نارینه وو او هم ښځمنو له خوا تمثیل کېږي.(۵۱: ۱۴۰ مخ)

د طنزي ممثلینو له ډلې ځخه یو هم عبدالخالق و چې په (سنګر حوالدار) سره یې شهرت درلود او له نن څخه نژدې اویا کاله پخوا یې په کندهار کې د ښادۍ محفلونه تاوده ساتلي وو. سنګر حوالدار به په مېلو، ښادیو او کانسرټونو کې د مونولاګ په بڼه ځینې ولسي- کیسې تمثیل کولې چې یوه بېلګه یې د شکور ماما کیسه ده.

پخوا یې د ارګ یا پاچا ساتونکي ته ( شاهي) ویل. کله چې دسقاو زوی حبیب الله کلکاني کابل ونیو او غازي امان الله خان له کابل څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووت، نو شاهیان هم خپلو کورونو ته ولاړل. په دې تښتېدلیو عسکرو کې شکور ماما هم شامل و چې له خپلو څو ملګرو سره کندهار ته روان و. شکور ماما دوی په سره ژمي کې غزني ته ورسېدل او هلته یوه مسجد ته ورغلل چې شپه تېره کړي. مسجد تاوخانه درلوده او شکور ماما دوی ښه تاوده شول، خو نابېره مسجد ته ملا صاحب راغی او شکور ماما دوی ته یې وویل: ((بې دینانو ورسئ اودسونه تازه کړئ او لمونځونه وکړئ!)) شکور ماما د اوداسه لپاره یوه کاریز ته ولاړ. دا چې له یوې خوا یې ټوله ورځ پلی مزل کړی او ډېر ستومانه و او له بلې خوا اوبه هم ډېرې سړې وې، نو استنجا وهل ډېره ځورونکې ورته وبرېښېده. هر وار چې به یې لپه له اوبو ډکه کړه، نو ملا صاحب ته به په قهر شو: (( ملا خدای دې خوار کړه، ما او خدای سره پرېږده چې لمونځ کوم او که یې نه کوم،ستا یې زما او خدا تر منځ څه؟)). شکور ماما تر اوداسه وروسته مسجد ته راغی او لمونځ یې وکړ. په دې وخت کې د اصغر په نوم یوه خان ډوډۍ ورته راواستول.

سنګر حوالدار د شکور ماما په رول کې ټول هغه څه بیانوي چې له کابل څخه بیا تر کندهار پورې په لاره کې ورباندې تېر شوي او یا یې لیدلي دي. سنګر حوالدار د کیسې د ټولو کرکټرونو رول یوازې لوبوي او په کیسه کې طبیعي غږونه (Sound effects) هم خپله تر خوله باسي. دا کیسه که څه هم فولکلوریکه یا ولسي بڼه لري، خوپه اماني دوره کې د ارګ د ساتونکو یو روښانه انځور یې بللای شو.(۱۸: ٦٩ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز قالبونه

مخکې مو وویل چې طنز څکه خپلواک ژانر نه دی چې د هر ژانر په قالب یا لوښي کې لیکل کېدای شي، که هغه منظوم او یا منثور، شفاهي یا تحریري، ادبي یا ژورنالیستیک او یا د لیکنې نور قالبونه وي. پخوانیو لیکوالو طنز پر دوو ډولونو وېشه چې یو ادبي او بل یې ژورنالیستیک طنز باله. د دوی هدف دا و چې طنز یوازې په ادبي او ژورنالیستیک قالب کې لیکل کېدای شي، خو اوس موږ ګورو چې طنز د لیکنې په هر قالب کې لیکل کېدای شي لکه طنزي خاطرات، طنزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاموس، طنزي فال کتل، طنزي دائرة المعارف، طنزي ژوندليک او داسې نور.

د طنزي قالب او پاروډي تر منځ يوه نازکه پوله موجوده ده. په پاروډي کې هم يوه زاړه قالب ته نوې محتوا ور اچول کېږي او د طنزي محتوا لپاره هم زوړ قالب غوره کېږي، خو توپير يې دا دی چې په پاروډي کې له يوه مشهور قالب، کمپوز، لحن، لباس، خبرو او حرکاتوسره نوې نسخه تړل کېږي، خو د طنزي قالب لپاره د پخواني قالب شهرت مهم نه دی. مثلا موږ په پښتو ژبه کې يو مشهور متل لرو چې وايي: ((د خره مرگ د سپو اختر دی)). اوس که ووايو چې: ((د موټرو ټکر د ترافيکو اختر دی))، نو دا پاروډي شوه، خو که يو طنز د راپور، خبر، مرکې، تبصرې، سفرنامې، لنډې کيسې، هايکو،څلوريځې او مثنوي په قالب کې وليکو پاروډي نه بلل کېږي. که څه هم ادبي، ژورناليستيک او نور قالبونه د سبک له مخې پاروډۍ ته ورته دي، خو مطلق پاروډي ځکه نه شو ورته ويلای چې د نوي نسخې له مخې لوستونکو ته زړه نسخه نه وريادوي او دوو نسخو تر منځ توپيرونو ته يې پام نه راوړي.

په عمومي ډول يو هنري اثر له دوو توکو څخه جوړ دی چې يو محتوا او بل يې شکل يا قالب دی. لومړی د ليکوال ذهن ته يوه سوژه، خيال يا مفکوره راځي او بيا د هغه د وړاندې کولو لپاره يو قالب غوره کوي. د ښه هنري اثر ځانگړتيا دا ده چې محتوا او قالب داسې سره اغېزل شوي او گډ شوي وي چې لوستونکی يې گردسره د بېلتون احساس و نه کړي. (۲۱: ۲۰۲ - ۲۰۳ مخونه)

د قالب غوره کولو پر مهال بايد دا دوه ټکي په پام کې ونيول شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الف: د محتوا او قالب تر منځ تناسب

د غوړیو جوړولو فابریکه چې بازار ته ځومره اندازه غوړي استوي، نو په هماغه اندازه قالب یا لوښی ورته غوره کوي لکه بېلر، حلبي قطۍ یا ټیم، بوتل، ستل او پلاستيکي کڅوړه، نو باید دغه ډول د طنز قالب هم د محتوا د حجم له مخې غوره شي. که موږ یوه کوچنۍ طنزي محتوا چې د متل، خبر، ځلوريځې او نورو کوچنيو قالبونو په اندازه وي او موږ يې د لنډې کيسې یا ناول په قالب کې وړاندې کړو، داسې ښکاري لکه په پنځه کلن ماشوم چې د پلار جامې واغوستل شي یا یوه اوږده طنزي کیسه چې باید د ناول یا رومان په قالب کې وړاندې کېدای شي، خو موږ يې د لنډې نثري ټوټې په بڼه وړاندې کړو، داسې مثال لري لکه څوک چې غواړي د پنځه کلن ماشوم کالي د هغه پلار ته ورواغوندي.

## ب: د قالب له ځانګړتیاوو سره د لیکوال اشنایي

کله چې طنز لیکوال د محتوا له حجم او اندازې سره سم قالب غوره کړ، باید وګوري چې ایا د غوره شوي قالب له ځانګړتیاوو سره بلددی که نه؟ مثلاً له یو چا سره دریشي ښه ایسي او د دریشۍ لپاره يې مناسب ټوکر رانیو او بیا يې ګنډونکي ته یووړ، خو که دا ګنډونکی دریشي۔ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي جوړولای د دریشۍ انتخاب ګټه و نه کړه. که یو طنز لیکوال شاعر نه وي او لږ تر لږه د نظم له ځانګړتیاوو او تخنیکونو سره بلد نه وي، د نظم په قالب کې طنز نه شي لیکلای. که یو طنز لیکوال د لنډې کیسې راپور، خبر، ګردي مېز او نورو قالبونو له ځانګړتیاوو او تخنیکونو سره اشنا نه وي، واضح خبره ده چې په دې قالبونو کې طنز نه شي لیکلای، نو په کار ده چې طنز لیکوال له خپل ټغرسره سمې پښې وغځوي او داسې قالب غوره کړي چې دی وربانـدې لاسبری وي، که داسې و نه کړي، نو د شکل او محتوا تر منځ توپیر له ورایه ښکاري او د طنز هنري اړخ ته زیان رسېږي.

په پښتو ژبه کې لکه څنګه چې نظم تر نثر مشرـ دی، دغسې ـ د طنز لومړني څرکونه هم په نظم کې لیدل کېږي، خو د شلمې پېړۍ له وروستۍ نیمایي څخه په نثري قالبونو کې طنز لیکل دود شوي دي. دلته په ټولو قالبونو کې د لیکل شویو طنزونو بېلګې راوړل بحث ډېر اوږدوي ، نو د بحث د لنډون لپاره به د طنزي قالبونو یو څو بېلګې راوړو.

## د نظم بېلګه:

### د دوو وروڼو وېش

کشره وروره هر څه غواړې دا یې ستا

د بابا د میراث ښه اشیا یې ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور ټول کالي زاړه دي، ماتې راکړه
پتنوسپوښ دی نوی نزی، ها یې ستا

ها پایزېب دي د بې رحمي میرې زما وي
ها د لاس تسبېح د مړه بابا یې ستا
ها بدخویه ازاري اوښ ما ته راکړه
مجلسي پیشو د ګران بابا یې ستا

د دوو ورځو فاتحې خرڅ راته راکړه
غړغړې، نارې، ماتم ژړا یې ستا

دا موجودي پیسې ډېري زما په کار دي
په دباندې کې د پور ادا یې ستا

ها د درو زړو باغو قباله راکړه
د اوبو کوزه، کارېز، کلا یې ستا

ها پنځه وداني ځمکې ما ته راکړه
اس، پسه، خر و غويی او غوا یې ستا

د سرای غولی دي زما تر شریفې وي
تر اسمانه د لوړ بام هوا یې ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها مات ښنډۍ د صابون دېگ دي زما وي
ها کاچوغه د خوږې حلوا يې ستا

شپږ گډوې، دوه صافي گان، کفگير دي زما وي
لوی گړونج او سلواغه د څا يې ستا

مخلص وروره که راضي يې خو به ښه وي
او که نه يې زما د سر بلا يې ستا.
(۳۷: ۱۴۹ - ۱۵۰ مخونه)

د څلوريځې بېلگه:
تقديريان
څومره چې مريد کې وي خرتوب هغه پتير خوري
داسې صدر وايه چې ډوډۍ سره وزير خوري
وگوره دي بل ته چې برېتک يې ببر کړی دی
کسب نه هنر شته، خان لالا يې په تقدير خوري.
(۳۰: ۷۰۲ - ۷۰۳ مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مثنوي بېلګه:

## ګوندي په جنت کې

د شينوارو په مالت کې يو ملا و
هم مشهورپه نصيحت هم په تقوا و
ورته ناست به کليوال وه په سلګونو
راروانې وې جوپې د عالمونو
مسئلې به يې چې هره ورځ کولې
د ولس له سترګو اوښکې تويېدلې
ټول مخلوق دده په خوله دده په زړه وه
ښځې، نر وه که زلمي وه که زاړه وه
که د سر او که د مال پر سر دعوې وې
فيصلې به د ملا صاحب له خولې وې
يوه ورځ يې کړې کيسې د دوزخونو
د مارانو، لړمانو او اورونو
ويل يې ښه کوئ له بدو توبه ګار سئ
او که نه نو په غضب به ګرفتار سئ
هسې نه چې له شيطان سره پرلارسئ
اور لړوني د دوزخ د سره انګار سئ
د يوه لمانځه اويازره غوټې دي
د دوزخ ژورې کندې او شېلې دي
اويا کاله په غوټه کې دي اورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو کال یې زموږ اویازره کلونه
څه به وایم د مارانو لړمانو
د دوزخه په امان سئ مومنانو
هر یو مار لري اویا زره سرونه
په هر سر کي یې اویازره غاښونه
هر لړم لري اویازره نېښونه
په هر نیښ کي یې د زهرو خروارونه
څوک به لوېږي په غاښو کي د مارانو
څوک به شومه وي د اور د لړمانو
چې پر لاره د ابلیس څوک برابر وي
تر ابده به یې ځای دغه سقر وي
خدای ورکړي مومنانو ته باغونه
پیدا کړي یې فردوس او جنتونه
پکښي سروکال تازه خوږې مېوې وي
جگې ونې تکې شنې، یخې سایې وي
د شربتو او شیدو لري حوضونه
په ویالو کې یې بهیږي شرابونه
هر مومن ته دومره ځمکې وررسېږي
چې اسونه پکښې ځغلې ستړي کېږي
د یاقوتو زمردو یې قصرونه
د طلا پکښې ځلېږي قندیلونه
هرمومن ته اویاحوري وي ولاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايستې وي لکه بتې جگې غاړې
تر بيلوړو يې روښان وي اندامونه
له وريښمو يې جوړ سوي مړوندونه
لا اويا ورته ولاړ ښايسته غلمان وي
د مومن امر ته گوري غلامان وي
يو تر بله وي ښايسته داسې ښکارېږي
لکه لعل د مرغلرو چې ځلېږي
کړی ورځ د جنتې کړي خدمتونه
په لاسو کې يې د سرو ميو جامونه
او که څوک تر نورو خلکو پرهيزگار وي
تل مشغول په بنده گی د خپل بادار وي
لا په برخه به يې نور وي نعمتونه
غلمان حوري او د سروزرو قصرونه
چې په شپه کړي د خالق عبادتونه
خدای به ورکړي د ښايستو حورو پوځونه
په دا منځ کې يو پښتون سو ورته پورته
خوله يې خلاصه کړه په سوال د ملا لور ته
ويل جار سمه د خدای تر نعمتونو
هم تر حورو هم غلمانو هم قصرونو
خدای دې موږ ته هم نصيب کړي جنتونه
د شيدو او د شرابو ډک سيندونه
مگر وايه په جنت کې هم بدې سته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قومونو له تربرو سره سيالي سته؟
يو د بل په دښمنۍ کي وژل کېږي؟
په بدۍ کي چاته ښځي وررسېږي؟
ملا وويل! سړيه ته غافل يې
ته روان پر کږو لارو د باطل يې
چې هرچا ته خپله برخه وررسېږي
د ګونديو ضرورت نه ليده کېږي
چې نه مرګ، نه ناروغي، نه غريبي وي
لا به څوک وي چې په خيال کي يې بدي وي؟
پښتانه ويل زما نه دي جنتونه
بې غيرتو ته کوه نصيحتونه
څه توپير دی د انسان او د وزګړي
چې په چا باندي پور نه لري د مړي
د هغې بدۍ مزه وي په قرنونو
چې نيکه يې کيسې وکړي د نيکونو
ژوند هغه دی چې دي زړه له خروښه ډک وي
درسره وي سل ګولۍ ډک دي ټوپک وي
دا څه ژوند دی چې نه جنګ وي نه تربور وي
نه دي لاس د خپل تربور په وينو سور وي
نه د اصل او کم اصل وي خبري
نه د چا له توري پورته سي بڅري
نه د (بيټ)نه د (سړبن) خبري کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه غلجی نه درانی به معلومېږي
نه دا ځای د میړنو، نه پښتنو دی
چې د بل په خیرات پایي د هغو دی
دا جنت یا د ملا یا د میرزا دی
یا چې نه لري غیرت د هغه چا دی
پښتانه خدای پیدا کړي په بدي کې
ورور له ورورسره اوسېږي په ګوندي کې
څوک اصیل څوک پیدا سوي کم اصلان دي
وایه څنګه په جنت کې په یو شان دي؟
(۱۰: ۳۱۵ - ۳۲۰ مخونه)

د هایکو بېلګه:

چت باندې ناسته وه هلال کمېټۍ
موږ یې په تمه و چې میاشت به ګوري
هغوی له پاسه جینکو ته کتل. (۲۸: ۲۵مخ)

د ډرامې بېلګه:

د سړک پروژه

<u>لومړۍ صحنه:</u>

انجنیر دلبر خان: ( په وارخطایي) رئیس صاحب هیئت راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس: ( په بې پروایي) نو رادي شي ولې وارخطا يې؟

انجنیر: ( په وارخطايي) صاحب د سړک به څه ځواب ورکوو؟

رئیس: ولې په سړک څه شوي دي؟

انجنیر: بودیجه خلاصه شوه او د سړک پنځمه برخه لا هم نـه ده جـوړه شوې

رئیس: ( په خندا) یاره دلبرخانه لکه د مرغۍ دومره وړوکی زړه دي دی، ما ویل چې ته به څومره غټ زړه لرې

انجنیر: صاحب په غټوالي مي مه تېروځه، په دغسي کارونو کې ډېر بـې زړه یم

رئیس: زه پوهېږم، خو که په یوه بله پروژه کې هم راسره وې، نـو دا وېـره به دي نه وي

انجنیر: صاحب اوس دا ووایه چې هیئت ته به څه ځواب وایو؟

رئیس: د مصرف سندونه دي جوړ کړي که نه؟

انجنیر: هو سندونه مې جوړ کړي، خو که هغوی سـړک وګـوري، بیـا بـه څه کوو؟

رئیس: هغه دوه لکه ډالر چې پاته وه، هغه خو لرو که نه؟

انجنیر: هو هغه لرو، خو د یونیم ملیون نورو ډالرو ځواب به څنګه ورکوو؟

رئیس: (په خندا) وا لېونیـه! دا دوه لکـه ډالـر د هغـه دوه ملیونـو ډالـرو ځواب ویلای شي

انجنیر: صاحب پوه نه شوم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس: (په خندا) وا ساده سړیه! له دې دوو لکو څخه به سمدستي یو لک ډالره هیئت ته ورکړو او پاته یو لک به هم والي صاحب ته ورکړو، نور څه وایې؟
انجنیر: (زړه نازړه) ولا صاحب هیڅ مي سر په خلاص نه شو
رئیس: خیر دی وروسته به دي سر خلاص شي.

<u>دوهمه صحنه</u>

رئیس: صاحب د سړک کار خو مو ولیده؟
د هیئت مشر: هو وموليده، خو ډېر لږ ځای مو جوړ کړی او کار مو ډېر ورو روان دی
رئیس: صاحب ته رښتیا وایې، خو بودیجه خلاصه شوه
د هیئت مشر: (په حیرانتیا) بودیجه خلاصه شوه؟
رئیس: هو صاحب! یوازې دغه یو لک ډالر پاته دي او دا مو ستاسې برخه ساتلې ده، ځکه چې په دې یو لک ډالرو هسې- هم کوم کار نه کېږي
د هیئت مشر: هو رښتیا وایاست، ځکه چې حتما به مو د کارگرانو اجوره هم لوړه شوې وي
رئیس: هو صاحب! باور وکړئ چې اوس یو موټر خاوره تر یو موټر خیره هم گرانه ده، همداسې د موټرو کرایې، د کارگرانو مزدوري او نور درواخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هيئت مشر: تاسې ملامت نه یاست، اوس ولاکه څوک تشه خبره هم بې پیسو وکړي. زه حیران یم چې په یو نیم ملیون ډالرو مو پر پنځه کیلومتره سړک باندې څومره ډېرې خاورې اچولي دي؟

رئیس: ولا صاحب شپه او ورځ مو پر ځان یوه کړې او کار ته مو اوږه ورکړې ده

د هيئت مشر: څه غم مه کوه، په وزیر صاحب حتما تقدیرنامه درته اخلم او د هغه بل سړک پروژه هم تاسې ته درکوو، ځکه چې تاسې د کار ډېره ښه تجربه لرئ

رئیس: مننه صاحب، خدای مو زموږ له سره مه کموه

د هيئت مشر: (خاندي) او خدای دي دا توري خاوري هم د سړک له سره نه کموي.

رئیس او د هيئت مشر دواړه خاندي [۱]

## د ډایلاګ بېلګه:

پوښتنه: شاعر او لیکوال څه فرق لري؟

ځواب: هیڅ فرق نه لري، بس دومره فرق لري چې لیکوال خپل او شاعر د بل ماغزه خوري. [۲]

---

[۱]: ناآشنا، ننګیار، د ګوړې اچار راډیویي خپرونه، ازادی راډیو، کب، لسمه، ۱۳۹۴ه ش

[۲]: اڅکزی، جعفر، سوالا ځوابا، کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خبر بېلګه:

وزیران باید رزمي ورزش زده کړي.

در په دره خبري اژانس خبر راکوي چې تر دې وروسته که کوم وزیر ولسي جرګې ته د تائید لپاره معرفي کېږي، نو باید کنګفو، تیکواندو، پهلواني، کراټه، سوک وهل او کبډي یې زده او ښه پکې تکړه وي، ځکه چې هلته د وکیلانو د برید امکان ډېر دی. خبر زیاتوي چې ورتلونکي وزیران دي د خپلو کمیسونو تنې هم ښه کلکې وتړي چې د لاس اچولو پر مهال یې ګرېوان څېري نه شي.

د ورزشي چارو پوهان وایي چې دا ډېر ښه زېری دی، ځکه وزیران هسې هم ورزش نه کوي او ورځ په ورځ یې خېټې ختېږي، نو کله چې د وکیلانو د وهلو او څملولو وېره ورسره پیدا شي، ایله به ورزش ته مجبور شي.[۳]

د راپور بېلګه:

له څو کلونو راپه دې خوا د جراحي ډاکټرانو او قصابانو تر منځ لوبه کې ډاکټرانو له قصابانو څخه د لوبي میدان ګټلی و، خو د اتلولۍ په وروستیو لوبو کې چې د عملیاتو په برخه کې د ښار د جېب وهونکو ( کیسه برانو) او جراحي ډاکټرانو تر منځ ترسره شوې، جېب وهونکو وکولای شول چې په څو ثانیو کې د اپنډیسي او چورې عملیات ترسره

---

[۳] : ناشنا، ننګیار، د ګوړي اچار، ازادي راډیو، ۵ ، ثور ۱۳۹۵ ه ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. سرګردان باشي چې د دې لوبي ننداره کوونکی و، د خپلو سترګو لیدلی حال داسې بیانوي:

ما په خپلو ګناهکارو سترګو ولیدل چې یو تن جېب وهونکي په ښاري بس کې د چورې د ناروغ عملیات په بریالیتوب تر سره کړ. همدا راز مې په یو بل بس کې ولیدل چې د یوه سپرلي د جېب په غوڅولو سره یې د هغه د اپنډیسي عملیات هم ترسره کړ.

ژوري هیئت تر یو لږ بحثونو وروسته د لوبي کپ د ښار جېب وهونکو ته په دې خاطر ورکړ چې ډاکټران د دې ډول عملیاتو لپاره هم ډېرې پیسې غواړي او هم ناروغان په اوونیو اوونیو په روغتونو او په کتنځیو کې په انتظار کې ورته ناست وي، خو جېب وهونکي دغه ډول عملیات د پیسو او د وخت له ضایع کېدو پرته ترسره کوي. (٦: ۳۸مخ)

د ښیرا بېلګه:

۱: خدای دې د ملي وحدت کابینه درځخه جوړه کړي چې نه مرې او نه رغېږې.

۲:خدای دې د پوهنتون محصل کړه چې د ورځې له خوا نجونو ته د کتلو او شپې له خوا د برېښنا د نشتوالي له امله درس نه شې ویلای.

۳: خدای دې د پارلمان وکیل کړه چې د پنځو کالو لپاره د خپل ولایت، کلي او ولس مخ و نه وینې.

۴:خدای دې ماستر کړه چې نه دولت کار درکوي او نه د خلکو له شرمه ریړی چلولای شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵: خدای دي په کانکور کې د ادبیاتو پوهنځي ته کامیاب کړه چې نه دي د استادانو املا زده وي او نه یې په څلور کاله کې تا ته درزده کړي.

(عبدالنافع، همت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز لیکلو تخنیکونه

ټول پوهیږو چې غالۍ له ورېیو جوړه شوې، خو دا چې له ورېیو څخه تارونه څنګه جوړ شوي، څنګه رنګ شوي او بیا دا تارونه څنګه سره اوبدل شوي د غالۍ اوبدونکي ځانګړي تخنیکونه (Techniques) بلل کیږي. د غالۍ رنګ، ګلان، د ګلانو ډولونه، د ګلانو او رنګونو تناسب او نور ظرافتونه د ځانګړو تخنیکونومحصول بلل کیږي. موږ مخکې وویل چې طنز له دوو اساسي توکو څخه جوړ دی چې یو خندوونکی انځور او بل انتقاد دی، خو په دې بحث کې زموږ موضوع دا ده چې په لیکنه کې انتقاد او خندوونکی انځور یا ظرافت څنګه په هنري ډول سره وګنډو؟ د هر رکن مقدار او د دې دوو ارکانو تر منځ تناسب څنګه په پام کې ونیسو؟

لکه څنګه چې یو انځورګر د خپل هنري اثر د تخلیق لپاره رنګونه کاروي، دغه ډول یو ادیب له لفظونو څخه کار اخلي. دا چې الفاظ باید څنګه وکارول شي بېلابېل تخنیکونه لري چې ادبي صنعتونه هم ورته ویلای شو. په ادبیاتو کې ادبي صنعتونه خورا اوږد بحث او ډېر ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، خوموږ  په دې بحث کې یو څو ادبي صنعتونه را اخلو او د طنز په رڼا کې یې تشریح کوو.

طنزي تخنیکونه په مجموع کې پر دوه ډوله وېشل کېږي چې یو معنوي او بل لفظي تخنیکونه دي. معنوي او لفظي تخنیکونه هر یو یې خپل اغېز او مینه وال لر ي، خو  لفظي تخنیکونه دا نیمګړتیا لري چې یوازې په خپله ژبه کې اغېز لري، که بلې ژبې ته وژباړل شي، اغېز بایلي او لوستونکي نه شي خندولای. هغه طنز لیکوال چې اثار یې په نورو ژبو ترجمه شوي او نړیوال شهرت یې موندلی، د بریالیتوب یو راز یې دا دی چې هغوی په خپلو طنزونو کې له معنوي تخنیکونو څخه کار  اخیستی دی. د یادونې وړ ده چې دا تخنیکونه د طنز تر څنګ په کومیډي، هزل او هجوه کې هم کارول کېږي.

## ۱: پېښې یا تقلید (Parody)

هغه ادبي تقلید چې په هغه کې د یوه اصلي اثر شکلي او سبکي ځانګړتیاوي خوندي، خو محتوا او موضوع یې بدلون موندلی وي، پېښې یا پاروډي نومېږي. د دې تخنیک له مخې په یوه مشهور او پخواني قالب کې نوې محتوا وړاندې کېږي  او نوې نسخه داسې نښې نښانې لري چې سړي ته پخوانۍ نسخه وریادوي. کله چې د نوي او پخوانۍ نسخې تر منځ توپیرونو ته د خلکو پام ورواوړي، نو خندا ورځي. (۴۴:  ۴-۳ مخونه)

پاروډي څلور  ډولونه لري چې دلته یې هر ډول په لنډ ډول تشریح کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: د ادبي سبک پېښې

د سبک پېښو ډېر رواج موندلی او ډېر لوستونکي لري. تر دې مهاله په پښتو کې د ګڼ شمېر هنري اثارو سبکونه پاروډي شوي دي. لکه متلونه، لنډۍ، ویاړنه، بابولاله، نشرـح، د موسیقۍ کمپوزونه او داسې نور.په پښتو ژبه کې تر ټولو لرغونی لاسته راغلی هنري اثر د امیر کروړ ویاړنه ده. امیر کروړ د امیر پولاد زوی او په دوهمه هجري پېړۍ کې یې اوسنی غور او څېرمه سیمې تر ولاک لاندې وې. امیرکروړ له خپل پلار سره په څو جګړو کې برخه اخیستې او ډېرې جګړې یې ګټلې دي. دی د جنګي اتلوالۍ تر څنګ شاعر هم و چې خپلې جنګي سوبې یې په یوه ویاړنه کې یادې کړې دي.(۴۵: ۱۱-۴۴ مخونه)

دوولس سوه کاله وروسته په غور کې یو ستر ناورین پېښ شو. د (۱۳۹۴ ش کال) د لړم په میاشت کې یوه شل کلنه مېرمن چې (رخشانه) نومېده یو چا ته په زوره واده شوه، خو رخشانې دا واده و نه مانه او د خپلې خوښې یو ځوان یې خوښ کړ. په دې ډول د خلکو له خوا په زنا تورنه او د صحرایي محاکمې په نتیجه کې یې سنګسار کړه چې دې سنګسار په ملي او نړیواله کچه غبرګونونه راوپارول. په دې لړ کې لیکوال او شاعر محمدیار یار د امیر کروړ د ویاړنې سبک پاروډي کړ او په دې ډول یې د رخشانې د سنګسارولو پر وړاندې خپل غبرګون وښود. د ښاغلي یار شعر تر ډېره بریده هجویه بڼه لري چې په دې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخشانې ته د امير کروړد زوی وياړنه

زه يم زمری بل د سنګسار   داسې اتل‌نسته
د غور په غبرږ کې رخشانې ته بل اجل‌نسته
داسې غوبل نسته
له ما اتل نسته

***

د شهوت غشي مې برېښنا ځي پر ښځمنو باندې
په ژوبله يونم يرغالم پر ناموسونو باندې
پر عفتونو باندې
له ما اتل نسته

***

زما د وحشت پر خول تاوېږي دوږخونه اهاړ
د غور غرور مې پښو کې پروت دی غرق په وينو لتاړ
کړم ايوادونه اوجاړ
له ما اتل نسته

***

زما د ترور تر تورې لاندې دی هرات و تخار
کړم د کابل او سرپل پېغلتوبونه سنګسار
کوي ابليس افتخار
له ما اتل نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبښکې له سترگو د انسان د پاکې موربهوم
په هریرود، آمو، ارغند، کونړ کې اور بهوم
وینې هر لور بهوم
له ما اتل نسته
***

د کندز سوبه مې په حکم د لاهور وکړه
په ټیټو سترگو، سرټیټې مې د دې ورور وکړه
سپکه مې مور وکړه
له ما اتل نسته
***

خپلو وگړو لره غور کې لوی پېغورجوړوم
د خور پر سترگو سوداگر گرځوم شور جوړوم
د دین انځور جوړوم
له ما اتل نسته
***

پر خپلو خلکو باندې قهر له خپل زړه نه کوم
دوی په پردې سوڅې وهم ښه یې ځپنه کوم
کور یې سوځنه کوم
له ما اتل نسته
***

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غور د غرونو پر غرور کوم غوبل ويرغال
نړۍ ته ښيم ننداره د خپل وحشت وقتال
په ورځو، شپو، مياشتو کال
له ما اتل نسته.

## ب: د خبرو، اواز او حرکاتو پېښې

هر انسان جلا اواز، خبرو کولو انداز او خبرو کولو ځانګړي حرکات (Body Language) لري. په دې ډول تخنيک کې د يوه مشهور شخص د اواز، خبرو کولو ډول او حرکاتو پېښې کېږي چې دا ډول تخنيک تر ډېره بريده په تمثيلي هنر کې کارول کېږي. ځينې ممثلين يا ناټکيان د خپل هېواد يا نړۍ مشهورو اشخاصو د اواز، خبرو او حرکاتو پېښې کوي چې ډېر مينه وال لري. ځينې حيوانات هم داسې روزل شوي چې د انسانانو پېښې وکړي، مثلا آس اتڼ کوي، بيزو د انسان په ډول پر دوو پښو ځي يا د خپل خاوند له سر څخه سپږي راباسي. دغه ډول يو شمېر ممثلين هم د حيواناتو د اواز او حرکاتو پېښې کوي، مثلا پر څلورو ځي يا د سپي په شان غاپي يا د خره په شان هينګارې وهي.

## ج: د جامو او سينګار پېښې (Travesty)

په دې ډول تخنيک کې يو څوک د يوه مشهور شخص په ډول کالي اغوندي او ځان هغسي جوړوي. مثلا چارلي چاپلين به خپل برېتونه او نور لباس د هيټلر پر ډول جوړاوه او بيا به يې داسې حرکات کول چې هټلر مسخره او سپک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د: د فکر او دریځ پېښې (Burlesque)

په دې ډول تخنیک کې د یوه مشهور شخص د فکر او دریځ پېښې کېږي او معمولاً یو څوک د خپل ظاهري جوړښت خلاف دریځ غوره کوي. مثلا یو موړ او شتمن سړی د سوالگرانو غوندې موقف نیسي یا دا چې یو څوک د بنې له مخې سوالگر او بېوزله ښکاري، خو نابېره څرگنده شي چې نوموړی ډېر شتمن سړی دی یا د پوهنتون استاد په ټولگي کې د پوډري غوندې خبرې کوي یا پوډري ستېج ته پورته شي او د پوهنتون د استاد یا سیاستوال غوندې وینا پیل کړي.

## ۲: گروټېسک (Grotesque)

په دې تخنیک کې کرکټرونه د خندا تر څنگ لوستونکي ډاروي هم. پخوا له دې تخنیک څخه یوازې په کارټون کې کار اخیستل کېده، مثلا انسان ته به یې لکۍ، اوږده غاښونه، ښکرونه، ببر وېښتان، اوږده غوږونه او ډاروونکې څېره ورکوله، خو اوس دې تخنیک د هنر نورو برخو ته هم لاره موندلې ده. گروټېسک د کومېډي او تراژیدۍ، خیال او واقعیت مشترک انځور دی. د دې تخنیک په مرسته کولای شو چې یو خندوونکی تخیل له واقعیت سره وتړو.

د نامتو روسي لیکوال یوگني زمیاتین (Yevgeny Zamyatin) طنزي رومان چې ( د قضا او قدر هگۍ) نومېږي د همدې تخنیک په مرسته لیکل شوی دی.د دې رومان مرکزي کرکټر د ژویپوهنې (Zoology) یو پروفیسر دی چې (پرسیکوف) نومېږي. نوموړی غواړي یوه سوربخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شعاع کشف او بیا د دې شعاع په مرسته د ژونـدیو موجوداتـو بـدن لـوی کړي. باالاخره بریالی کېږي چې ډېرې لـویې چرګـې تولیـد کـړي. دا چرګې خورا لویې هګۍ اچوي، خو یوه ورځ نـابېره لـه دې هګیـو څخـه ډېر غټ چرګـان، مـاران، سمسـارې او نـور حیوانـات راوزي او پروفیسر-خوري.

(۴۹: ۳۰ - ۳۲ مخونه)

د یو زر و یوه شپه نکلونو یوه برخه (د سیندباد سفرونه) نومېږي. په دې نکلونو کې سیندباد د خپل سفر خاطرات خپـل یـوه مېلمـه تـه بیـانوي. دی د خپل سفر په بهیر کې له داسې ژوندیو موجوداتو سره مـخ کېـږي چې عجیبې او غریبې جولې او بڼې لري. مثلاً یوه برخه یې داسې ده: (( په یوه جزیره کې مو یوه لویه ماهۍ ولیـده. مـاهۍ تـه چـې ورننوتو،نـو نابېره مویو لوی دېب (دېو) مخ ته ودرېد. دېب له رنګه تک تـور او لکـه یوه جګه ونه دومره لوړ و. سر یې د سپې او غوږونه یې ډېر اوږده او پر اوږو پراته وو، یوازې یوه سترګه یې درلوده چې هغـه هـم د پـزې پـر سر وه)). (۲۲: ۱۸۹ - ۱۹۱ مخونه)

په وروستیو کې د ګروټیسک تخنیک سینمایي هنر ته هم لار موندلې او د دې تخنیک په مرسته ګڼ شمېر کـارټوني فیلمونـه جـوړ شـوي لکـه د شریک (Shrek) کارټوني فیلم چې مرکـزي کرکټریـې لـه جسـمي پلـوه عجیب او غریب جوړښت لري. د متضادو عناصرو ګډ انځور، خنـدا، ډار ، مبالغـه او غـیر عـادي حالتونـه د ګروټیسـک عمـده ځانګړتیـاوي بلـل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳: د ژویو نکلونه (Fable)

نکلونه ډېر لرغونی تاریخ او په شفاهي ادب کې خورا لوړ مقام لري لکه د لرغوني یونان، روم، هند او مصر شفاهي ادبیات. تر میلاد اته پېړۍ مخکې د لرغوني یونان په ادبیاتو کې نکلونو ورځ ځای درلود، چې د هیسوډ (Hesiod) نومي شاعر په اثارو کې د باز او بلبل کیسه یې یوه بېلګه ده. نکلونه نه یوازې دا چې په شفاهي بڼه له یوه نسل څخه بل نسل ته لېږل شوي او په دې ډول یې زرګونه کاله ژوند کړی، بلکې یو شمېر نکلونه لیکوالو هم لیکلي چې ځینو یې دا کار د سیاسي، اجتماعي او تعلیمي هدفونو لپاره کړی دی.( ۲۲: ۱۸۹ – ۱۹۱ مخونه)

پخوانیو خلکو د سیاسي، اجتماعي، تعلیمي او فرهنګي مسایلو په اړه خپل نظریات په کیسو او افسانو کې خوندي کول. د دې ډول اثارو یوه بېلګه (کلیله او دمنه ) کتاب دی چې د لرغوني اریایي دورې افسانې پکې خوندي شوي.دا نکلونه په هندوستان کې (ویشنو سارما) په سانسکریټ ژبه راغونډ کړي او د (پنچه تانتره) په نوم شهرت لري. دا کتاب چې اکثره کرکټرونه یې حیوانات او تعلیمي پیغامونه لري، له سانسکریټ څخه په پهلوي ژبه ترجمه او په دې ډول یې اسلامي هېوادونو ته لاره موندلې ده.(۲۰: ۲۰ - ۲۱ مخونه)

نکلونه ځکه زرګونه کاله وروسته هم ډېر مینه وال لري چې اکثره کرکټرونه یې ژوي او د کرکټرونو تر منځ کشمکش، پېښې او چاپېریال خلاف العاده انځور وړاندې کوي او په دې ډول د تعجب، خندا او تلوسې سبب کېږي. نوي داستاني اثار که څه هم ځینې یې رښتیا او یا رښتیا ته ورته او انساني عقل یې مني، خو په واقعي کیسو کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوي د سېمبولونو په توگه کارېږي او په کیسه کې د تخیل تومنه پیدا کوي. په معاصر داستاني ادب په تېره بیا طنز کې حیواني کرکټرونه جوړول د طنز له بریالیو تخنیکونو څخه گڼل کېږي. لکه څنگه چې د ژویو نکلونه ډېر لرغوني دي دغه ډول د همدې تخنیک له مخې لیکل شوي اثار هم اوږد تاریخ لري چې د اریستوفان (مرغان) او (چونگوښې) نومي اثر یې ښه بېلگه ده.

په شلمه پېړۍ کې انگرېز طنز لیکوال جورج آرویل (George Orwell) د څناورو فارم نومي طنزي ناول هم یوه ښه بېلگه گڼلای شو. دا کتاب یوه سیاسي او اجتماعي کیسه ده چې کرکټرونه یې حیوانان دي. په کیسه کې سرکوزان د څو نورو حیوانانو په مرسته انقلاب کوي، د فارم خاوند له فارم څخه شړي،د فارم ټول واک په لاس کې اخلي او وروسته واکمنه ډله یو د بل په شکنجه کولو او وژلو پیل کوي. دا کتاب چې پر کمونیزم نقد او د پخواني شوروي اتحاد سیمبولیک انځور بلل کېږي، خورا لوړ شهرت لری او د نړۍ په څو ژبو ترجمه شوی دی.

په پښتو ژبه کې (سپي څنگه مډالونه وگټل؟) طنز کرکټرونه هم حیوانان دي. دا داستان د دوو سپیو خاطرات دي چې یو سپی (جنرال براون جیټ) او په افغانستان کې د امریکا له نظامي قواوو سره کار کوي او بل سپی (چارچشمه) نومېږي چې په کابل کې ژوند کوي. د جنرال جیټ وروستۍ دنده د جمهوري ریاست په ماڼۍ (ارگ) کې د خلکو تلاشي کول دي.

یوه ورځ چارچشمه تر یوې مورۍ یا سوړې ارگ ته ورننوزي او له جنرال جیټ سره ویني. جنرال جیټ له چارچشمه سره خواخوږي ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، خپلې ځانګړې کوټې ته يې بيايي، اوبه او خـواړه ورکـوي او بيـا د زړه خواله سره کوي. داستان د ګوانتنامو، ابوغريب، باګرام او کندهار په زنـدانونو کـې د امريکـايي عسـکرو ظلمونـه او کابـل کـې د جهـادي تنظيمونو خپلمنځي جګړې او ناخوالي انځوروي.(۵۵: ۳۶ - ۵۱ مخونه)

## ۴: خيالي نړۍ (Utopia)

دې تخنيک ته په فارسي کې (ارمان شهر) وايي او معمـولا پـه داسـتاني طنزونـو کـې کـارول کېـږي چـې کرکټرونـه، چاپېريـال، مهـال، خـبرې، کشمکش، پېښې او داسې نور اړخونه يې خـارق العـاده او غـير طبيعـي وي. له دې تخنيک څخه د لـومړي ځـل لپـاره تـر مـيلاد (۱۲۰) کالـه مخکې يوناني مورخ او ليکوال (لوسيان) کار اخيستی دی. د لوسيان داستان د (هيرودت) او (هومر) د سـبک لـه مخـې پـارودي شـوی چـې داسې پيل کېږي: (( موږ له خپلو پنځوسو ملګرو سره پـه سـمندر کـې سفر پيل کـړ. اتيـا ورځـې وروسـته مـو کښـتۍ يـوې داسـې جزيـرې تـه ورسېده چې له عجيبه رازونو څخه ډکه وه. له يوه ډبرليک څخه پوه شوو چې(هراکلس) تر دې ځايه پورې هم راغلی دی )). په دې داستان کې نورې عجيبه پېښې هم راغلي دي، مثلا وايي چې ((يوه زوروره دوړدوړکه (بړبوکۍ) راغله او زموږ کښتۍ يې هوا ته پورته کـړه. پـه هـوا کـې پورتـه کېدو، پورته کېدو، پورته کېدو چې اخير سـپوږمۍ‌ته ورسـېدو. هلتـه مـو وليدل چې د سپوږمۍ اوسېدونکي پر غټو غټو مرغانو سپاره او د لمر له اوسېدونکو سره د يوه ستوري د ملکيت پر سر په جګـړه بوخـت دي. پـه پای کې زموږ کښتۍ بيرته سمندر ته راکښـته او يـوه نهنـګ ژونـدۍ تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستوني تېره کړه. د نهنـګ پـه خېټـه کـې يـو سـمندر اوبـه ولاړې وې. د سمندر په منځ کې مو يوه جزيره وليده او په جزيره کې يو لـوی ځنګـل هم و. ځرنګه چې موږ ډېر وېرېدلو، نو په منده جزيرې ته ورغلو او هلته پټ شولو. يو څه وخت وروسته مو زړه تنګ او په جزيره کې مو ځنګله ته اور واچاوه. د نهنګ نس د ځنګله د اور په لمبو وسـوځېد او مـوږ يـې تـر خولـه بيرتـه راوغورځولـو)). پـه سـمندر کـې دا سـفر دوام کـوي او د (اوديسه) غونـدې يـوې عجيبـه نـړۍ تـه رسـېږي. داسـتان لـه مبـالغې، درواغو او خيالي انځورونو ډک دی. لوسيان غوښتي چې په خپـل دې طنز سره د خپل وخت سيلانيان مسخره او درواغجـن وښـيي.(۴۲: ۴۹۵ - ۵۱۲ مخونه)

## ۵: آيروني (Irony)

آيروني هغه طنز ته ويل کې چې د کنايې صنعت پکې کارول شوی وي. آيـروني د طنـز ليکلـو لپـاره تـر ټولـو غـوره، مـوثر او ګټـور تخنيـک دی. مشـهور امريکـايي ليکـوال (چارلزبرسـلر) وايـي چـې آيـروني د کلماتـو داسې استعمال ته وايي چې په ښکاره يو مطلب ورڅخه څرګندېږي، خو په واقعيت کې د دې کلماتو برعکس مطلب ورڅخه مـراد وي. د آيـروني اساسي ځانګړتيا د ظاهر او باطن تر منځ تضاد دی. په دې تخنيک کې يو کرکټر په خوله يو څه وايي، خو اصل واقعيت هغه دی چې دی يې نه وايي. (۳٦: ۳۸ - ۴۷ مخونه)

(افغانستان ته د نوبل جايزه ورکول کېږي) طنز هم د آيروني تخنيک لـه مخې ليکل شـوی دی. پـه دې طنـز کـې ولسمشر- يـوه کميسـيون تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وظیفه سپارلې وي چې له فقر او بېوزلۍ سره د مبارزې کولو لپاره پلان جوړ کړي. د دې طنز یوه برخه داسې ده: ((د کمیسیون مشر د غونډې پر مهال لکه مارته چې شپېلۍ ووهې غاړه اوږده کړه او ویې ویل : که په افغانستان کې غریب خلک نه وای، نو غربت به هم نه وای. زما په فکر ترڅو چې مو په افغانستان کې غریب خلک نه وي ختم کړي، غربت به هیڅکله هم ختم نه شي. له دې خبرې سره سم د کمیسیون ټولو غړو د تائید په ډول چکچکې وکړې.

د دفاع وزارت استازې د خپلې نیکټایي غوټه ټینګه کړه او ویې ویل : دا خو واقعاً ډېر ښه نظر دی، خو ایا امریکا به په دې کار کې زموږ ملاتړ وکړي؟ دکمیسیون مشر په خندا اوږې پورته واچولې او ویې ویل : ته هم عجیبه خبري کوې؟ امریکایان خپله هره ورځ پر غریبو خلکو بمبارۍ کوي او بل نو دا د غربت ختمولو لپاره تر ټولو اسانه او ارزانه لار ده. موږ ولیدل چې کله موږ له شېرپور څخه غریب خلک وشړل، نو هلته غربت هم ختم شو. که موږ له هغوی سره مرستې کولای، نو میلیونو ډالرو ته اړتیا وه، خو اوس یوازې یوه بلډوزر دا اړتیا پوره کړه. له غربت سره د مبارزې کولو پلان اساسي ټکی دا دی چې ټول وزارتونه مکلف دي چې بېوزله خلک وځپي، کله چې بېوزلان ختم شول، غربت خپله ختم کېږي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت استازي یو وار د کمیسیون مشر ته وکتل او بیا یې په ډډ اواز وویل: رئیس صاحب ډېر ښه وړاندیز مو وکړ. تاسي ګورئ نړیوالې ټولنې له دې دومره ډېرو مرستو سره سره په افغانستان کي غربت ختم نه کړ، خو که موږ په خپلو لږو امکاناتو دا کار وکولای شو، زه باورلرم چې د سږکال د نوبل جایزه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



خامخا افغانستان ته ورکړل شي)).(٥٦: ٥٢ - ٥٧ مخونه)

## ٦: تشبیه

تشبیه عربي کلمه ده چې په لغت کې ورته والي ته وایي، خو د ادبي اصطلاح له مخې په یوه مانا کې د دوو شیانو ګډون تشبیه بلل کېږي. د تشبیه غرض یا هدف د مشبه تعریف، د حال بیان، ستایل او بدیو ښکاره کول دي، خو په طنزي تشبیه کې هدف معمولاً د مشبه بدوالی او مسخره کول وي. د تشبیه په تخنیک کې مبالغه راځي، مشبه له خپل تناسب څخه وزي او د خندا وړ ګرځي.(۳: ۴۲ - ۵۰ مخونه)

کله چې په طنز کې د یو منفي کرکټر ذهن، جسم او اجتماعي موقف له یو بد شي سره تشبیه شي، نو د خلکو سترګو ته هغه بد شی درېږي، له یوې خوا خندا ورځي او له بلې خوا یې منفي کرکټر په نظر کې سپک ایسي او قهر یې ورته راځي. د طنزي تشبیهاتو څو بېلګې ((د نصرو لالا واده)) نومي طنز کې موندلای شو:

(( نصرو لالا چې به پر لاره روان و، نو لکه کباړ بایسکل ټولو پرزو یې کړپې او غړنجې کاوه. د زنګنو تکلیف یې هم درلود، لکه غورازه موټر بې له ټېله کولو نه چالانېده. عمر یې تر اویا کالو اوښتی و، خو دا چې د تاریاکو په پیسو مست و، نو په ودونو نه مړېده او دا یې څلورم واده و. که څه هم درې نورې ښځې یې ژوندۍ او په صورت جوړې وې، خو نصرو لالا لکه پوډري په ډېرو ودونو روږدي شوی و.

کله چې د آئینه مصحف وخت راغی، نو ښځو نارې کړې چې هلک راولئ. نصرو لالا لکه زعفران له شرمه تک ژیړ واوښت، پر یوه او بل انډي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، لکه موټر چې ګېر ته نه لوېږي، خر خر او غور غور يې پورته شو، خو بيا هم نه شواى ولاړېداى. په دې وخت کې يې ځوان زوى راغى او هغه يې په غېږ کې د ناوې خونې ته بوت. په لاره کې يې پښې لکه د الوتکې ټايرونه چې نه ايله کېږي هماغسې ټولې پاته وې.

نصرو لالا د شپاړس کلنې ناوې څنګ ته پر تخت ناست و. پر ژېړبخونه ږيره يې شنه نسوار داسې ځلېدل لکه د رسامۍ چټل نويسه کتابچه. نصرو لالا لکه د پرتوګاښ لرګى داسې ډنګر و، د اس غوندې اوږد اوربوز يې د ناوې خوا ته ورکوږ کړى و. اوږده غوږونه يې داسې ښکارېدل لکه د رکشې دوې دروازې چې خلاصې پاته وي. د ناوې څنګه ته داسې ښکارېده لکه توره پيشې چې په سپينه نکلې پياله کې شيدې څټي.

نصرو لالا سګرېټې هم واهه، کله چې به يې خبرې کولې، نو د مستريانو خبره رينګ يې اواز کاوه او سږو يې هم ښه په درز کې شپېلۍ وهله. آئينه مصحف لا نه و پيل شوى چې زوم ټوخي شين کړ. ټوخى يې وار په وار پسې ډېرېده. له ټوخي سره به يې سر، اوږې او زنګنونه داسې په منظم ډول ښورېدل لکه ټرکټر چې چالان پاته وي او ميټکاټونه، ګېرونه او سټرينګ يې ښوري. د آئينه مصحف نندارچيانو، په تېره بيا خسرګنۍ ته دا انديښنه ورولوېده چې داسې نه وي خداى مه کړه زوم له ټوخي سره يو ځاى له بلې خوا هم وټوخي او پزه مو راپرې کړي.

سهار ملا اذان د نصرو لالا مشرې مېرور د ناوې د خونې ور وټکاوه. د خونې له دننه څخه يوازې د نصرو لالا غړومبى اورېدل کېده. د خونې ور له ټکېدو سره سم خلاص شو. د ناوې تر خوله د ځګونو نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېښنده لیکه د زرین بالښت خوا ته تللې او په گرېوان کې یې په نسوارو لړلو پلاستیکي غاښونو یوه زامه نښتې وه. نصرو لالا لکه مست اوښ تر خوله ځگونه بادول، په دې ځگونو کې یو و نیم زرین خالونه هم برېښېدل، تور او پنډ شونډان یې وښورول او د مړکانو ضد دوا خالي قطۍ ته یې اشاره وکړه: ورته وگوره! دې بدمرغې ځان په خپله وواژه. خپل شل منه تاریاک مې ارمان دي چې په ولور کې مې ورکړل. (۵۷: ۴۱۲) پرله پسې گڼه)

## ۷: مبالغه (Exaggeration)

مبالغه د ټولو ملتونو په ادبیاتو کې لیدل کېږي. د دې صنعت لمن دومره لویه ده چې پر ادبیاتو سربېره په مجسمه جوړونه، نقاشۍ او سینما کې هم کار ځنې اخیستل کېږي. کله چې یو شاعر یا لیکوال د یوه شي ښه والی یا بدوالی داسې حد ته ورسوي چې پېښېدل یې سخت، نادر یا ناممکن وي، مبالغه بلل کېږي. مبالغه پر درې ډوله ده لکه تبلیغ، اغراق او غلو. په تبلیغ کې د یوه شي تصدیق یا تکذیب په داسې ډول کېږي چې تر اوسه پېښ شوی نه وي، خو د عقل او عادت له مخې امکان لري. په اغراق کې بیا د یو شي ستاینه یا غندل په دومره شدت سره شوې وي چې د عادت له مخې امکان نه لري، خو عقل یې مني. غلو بیادې ته وایي چې د یوه شي ستایل او غندل نه عقل مني او نه د عادت له مخې امکان لري.

ځرنگه چې په طنز کې خلاف العاده انځور اساسي رکن دی، نو د مبالغې صنعت د دې کار لپاره خورا موثر او گټور تخنیک بلل کېږي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



طنز کې مبالغه پر تبلیغ، اغراق او غلو سربېره دوه نور ډولونه هـم لـري. دا ډولونه له دې دریـو ډولونـو سره تـړاو لـري چـې یـو لـوی کـول او بـل کوچني کول دي. د دې تخنیک له مخـې د ټـولنې کـوچني مسـایل یـا کوچني کرکټرونه خورا لوی ښودل کېـږي او د ټـولنې پـام ورتـه رااوړي. طنز لیکوال لـه خپـل قلـم څخـه ذره بـین جـوړوي او لوسـتونکو تـه یـوه کوچنۍ سپږه د فیل غوندې غټه ور ښیي. دغه ډول یو لوی زورواکـی او شتمن سړی خوار او سپک ښیي.دا کار له څو لارو کېـدای شي. یـو دا چې په الفاظو کې په نیم یا سپک نوم یادشي، لکه وزیرگی، پاچاگوټی، والي گی، چټل خان، ملک وشمه او داسې نور نومونو یـاد شي او یـا دا چې له لویو حیوانانو سره تشبیه او په دې ډول سپک معرفـی شي. بلـه لار یې دا ده چې هغوی ته ځینې سپک اصطلاحات منسـوب شي لکـه د کاغـذه دېـب، فیـل دی پـه خلفـه تړلـی دی او داسـې نـور نومونـه او اصطلاحات ورته وکارول شي. بله لار یې دا ه چې هغوی په خپل عمـلي موقف او ژوند کې ناکام، کـوچني او سـپک وښـوول شي. (۴: ۵۵ - ۵۸ مخونه)

افغان طنز لیکوال ښاغلی حمید مفید چې په المان کې اوسېږي او پـه دري ژبه طنزونه لیکي، له دې تخنیک څخه خـورا پـه ماهرانـه ډول کـار اخلي. د بېلگې په ډول به د نوموړي له (ادم اوپن) کتاب څخه یو طنـز راواخلو: (( د المان د هامبورگ ښار په یوه مجلل هوټل کـې پرتمینـه او شـانداره غونـډه روانـه ده. د هـامبورگ ښـاروال خـورا پـه قـاف او لام او فاتحانه انداز خبرې کوي. په غونډه کـې د ماسـکو، ریـاض، نیویـارک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو لویـو هېوادونـو ښـاروالان مېلمانـه او د چاپېریـال سـاتنې او خپلـو ښارونو د پاک ساتلو په اړه بحث کوي.

په دې وخت کې د (یوهانس مولر) په نـوم یـو اروپـایي چـې د ښـار پـه واټونو کې د تشناب د نشتوالي له امله د تالار برنډې ته راغی او داسـې فکر یـې کـاوه چـې دا تشـناب دی. لـه خپـل جېـب څخـه یـې کاغـذي دسمال راوایست، پزه یې په پاکه کړه او بیا یې دسمال لاندې واچاوه. تر دې وروسته یې په ارامـه پتلـون و ایسـت، لمـن یـې پـر سر واړولـه او پـر اودس مات کښېناست. د ښیښې شاته د مسکو ښاروال لـومړی سـړی و چې دا صحنه یې ولیده او پـه زوره زوره یـې وخنـدل. تـر دې وروسـته د ریاض ښاروال پوخ وهل او په زوره یې خنـدا شروع کـړه. وروسـته د ټولـو ورپام شو او په ګډه یې خندا پیل کړل. د هامبورګ ښاروال له شرمه تک سور شو، د غونډې برخه والو ته یې وکتل، ویې لیدل چې ټـول دبانـدې ګـوري او ده تـه یـې پـام نشـته. وینـا یـې پرېښـوده او پـر خپـل ځـای کښېناست. (یوهانس مولر) چې پر کومه لار راغلی و، بیرته پر هماغه لار ولاړ، بس یوازې د ښارونو د پاک ساتلو په خاطر یې د هدفمندو انسانانو د روزنې په نړیوال کنفرانس کې چټلي وکړه. (۴۰: ۱۵۹ مخ)

## ۸: د ستاینې په بڼه غندنه ( الذم بما یشبه المدح)

په دې ادبي صنعت کې یو شاعر یا لیکوال په خپل کلام کې د یوه شي غندنه په داسې ډول کوي چې په ښکاره ستاینه، خـو پـه حقیقـت کـې غندنه وي. لکه خوشال بابا چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عادل پاچا پیدا شو
اورنګ شاه د دین غمخور
خپل پلار تري په عدل
په فتوا وژني خپل ورور. (۵۴: ۱۵۰ مخ)

موږ په پښتو ژبه کې د دې تخنیک پر بنسټ جوړ شوي ډېرداسې اصطلاحات ، محاورې، متلونه او کنایې لرو. مثلا یوه اصطلاح لرو چې وایي: په پک چې ریشخند وهې، نو ورته ووایه چې څنېوره. کېدای شي داسې بېلګه هم ولرو: د ښار په یوه ګڼه ګوڼه ځای کې درنه چاودنه شوې او سلګونو ملکي خلکو ته یې تلفات اړولي دي. ولسمشر د وژل شویو خلکو خپلوان ارګ ته د فاتحې او تسلیت لپاره وربللي دي. په وربلل شویو خلکو کې یو سپین ږیری د نورو په استازیتوب ولاړېږي او داسې وایي: ((جناب ولسمشره! قربان مو شم، تاسې ډېر مهربانه یاست. زموږ لپاره مو شپه او ورځ پر ځان یوه کړې او ملت ته خدمت کوئ، په تېره بیا په امنیتي برخه کې ستاسې خدمتونه له هیچا هم پټ نه دي. له کومې ورځې راهیسې چې تاسې ارګ ته تشریف راوړی، په ټول افغانستان کې یو ملکی سړی هم نه دی وژل شوی. تاسې د سولې اتل یاست، خدای مو سیوری زموږ له سر څخه مه لیري کوه، عمرمو ډېر شه، خدای مو تخت او بخت برقراره لره)).

## ۹: انطاق او تجنیس

تشخیص په لغت کې پېژندلو او انطاق نطق او خبرو کولو ته وایي، خو په ادبي اصطلاح هغه صنعت دی چې یو بې سا شي ته سا ورکړل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بيا د هغه په ژبه خبرې ورسره وشي يا بې سا شيان تر خپل منځ خبرې وکړي او انسان وربانديې پوه شي.( ۲۴: ۹۷ مخ)
دا صنعت په طنز کې تخيل پيدا کوي، يو شی له خپل تناسب او طبيعي حالت څخه باسي او په نتيجه کې د خندا لامل گرځي، د بېلگې لپاره به د ښاغلي کاتب پاڅون (د زړه خواله) نومي طنز راواخلو:
د کتابتون په يوه الماري کې دوو کتابونو په خپلو کې د زړه خواله سره کوله. لومړی کتاب چې له مخ نه يې خړې خاورې دوړېدلې، د څنگ گاونډي ته وويل: پخوا ښه و د موجودې په وخت کې به خاورې اودوړې راځنې پاکېدلې، خو نن په خړو خاورو کې ډوب يو.
دوهم کتاب چې پر شونډو يې دوې گوتې خاورې پرتې وې په ځواب کې وويل: پر خاورو شکر باسه. پر دې ووېرېږه چې سبا د خاورو پر ځای په ايرو کې ډوب نه شې. د دوهم کتاب خبره رښتيا شوه. سبا باقي شوي معتمد کتابتون ته اور واچاوه او د باقياتو سندونه يې په مصرف مجرا شول. (۷: ۴ مخ)

## ۱۰: طباق الاضداد يا تناقض (Incongruity)

طباق په لغت کې يو ځای کولو او اضداد د ضد جمع ده، خو په ادبي اصطلاح کې هغه صنعت ته ويل کېږي چې يو شاعر يا ليکوال په خپل کلام کې دوې مخالفې يا متضادې ماناوې راوړي وي. دا تخنيک په طنز کې ډېر بريالی او د خندا لامل گرځي. موږ وويل چې کله انسان له داسې حالت سره مخ شي چې له تناسب څخه وتلی او خلاف العاده ورته ښکاره شي، نو خندا ورځي، لکه د خبرو او عمل تر منځ تناقض، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفت او موصوف تر منځ تناقض، د لفظ او مانا تر منځ تناقض، د موظف او وظيفې تر منځ تناقض او داسې نور. مثلا موږ باور لرو چې روغتون د روغتيا او شفا ځای دی. په روغتون کې اکثريت ناروغان تداوي او جوړيږي، خو که موږ له رسنيو څخه داسې خبر واورو چې له فلاني روغتون څخه د لومړي ځل لپاره دوه ناروغان روغ ووتل، د خندا وړ خبره ده. په دې اړه د آغلي ملالۍ بشير يوه لنډه کيسه رااخلو چې (غلبېل او کوزه) نومېږي. د دې کيسې نوم هم جالب او د اضدادو د تخنيک ښه مثال دی. په کندهار کې اصطلاح ده چې وايي: غلبېل کوزې ته ويل سورۍ. هدف يې دا وي چې غلبېل خپله سورې سورې و، خو کوزې ته يې پېغور ورکاوه چې ته سورۍ يې. په دې کيسه کې هم يوه بوډۍ خپله چيلم څکوي، خو د نورو سگرېټ څکول لويه گناه ورته ښکاري. کيسه په دې ډول ده:

((پر اوار ټغر ناستې بوډۍ د خټو دېوال ته شا ولگوله او مخامخ ولاړ ځوان له پوښتنو ډکو سترگو ته يې وکتل:

وۍ زويه مور يې داسې ښځه وه چې خدای دې ځنې ساته! د داسې مور به څه لور وي.

ځوان: ولې مورې؟ په مور يې څه شوي و؟ ښه خلک نه و؟ ژر راته ووايه څنگه خلک و؟

بوډۍ: زويه څه درته ووايم؟ که رښتيا راباندې وايې زما خو يې مور خوښه نه شوه.

ځوان: ښه مور يې څه کوې، زه خو يې له مور سره واده نه کوم، لور يې څنگه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوډۍ: هی زما ساده زویه! د دې مور به څه لور وي. هر څومره چې ښه شي بیا هم د هغې مور لور به وي.پوهېږې چې مور یې څه کول؟ سګرېټ یې څکول، سګرېټ!
له دې خبرې سره سم بوډۍ په دوارو غوږو نیولو سره د لاسو چلیپا جوړه کړه او بیا یې لمسۍ ته ورغږ کړه: لورکۍ هغه چیلم مې را سم کړه چې سر مې چوي، بیا یې له ځان سره وویل: توبه خدایه توبه!
(۵: پرله پسې اتمه ګڼه، څلورم مخ)

## ۱۱: بدلون (Distortion)

په دې تخنیک کې د یوې کلمې یا عبارت شکل یا مانا ته د خندولو یا مسخره کولو لپاره بدلون ورکول کېږي. دا ډول بدلون پر درې ډوله دی لکه لفظي بدلون، معنوي بدلون او ګرامري بدلون چې دلته یې هر ډول لږ لږ تشریح کوو:

الف: لفظي بدلون:په دې ډول بدلون کې د یوې کلمې، جملې یا پاراګراف الفاظو ته بدلون ورکول کېږي. لکه اجماع په جماع، تحصیل په تعطیل، انتخابات په انتصابات، هنرمند په هنربند او صحت عامه په صحت خامه اړول. د دې بدلون یوه غوره بېلګه به د درې ناپوهانو (Three Idiot) نومي هندي فیلم څخه را واخلو. په دې فیلم کې د محصلینو د فراغت د غونډې لپاره چمتووالی نیول کېږي. غونډه خورا پرتمینه په پام کې نیول شوې چې د هندوستان لومړی وزیر او نور لوړپوړي دولتي چارواکي هم ورته رابلل شوي وي. د پوهنتون د ادارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوا پرېکړه کېږي چې د محصلینو په استازیتوب بـه د دې پوهنتـون یو بهرنی محصل (چیتور) خبرې کوي. دکتابتون مسئول د چیتور لپاره بیانیه په هندي ژبه لیکـي، خـو چیتـور پـه هنـدي ژبـه نـه پـوهېږي، نـو پرېکړه کېږي چې چیتور به بیانیه ټکي په ټکي یادوي او په غونډه کې به یې هم له یاده وایي. مخکې تر دې چـې چیتـور لیکـل شـوې بیانیـه ترلاسه او یاد یې کړي، د (رنچوړ) په نوم یو ډېر شوخ او ټوکي محصل په غلا او چل ول د چیتور کمپیوټر خلاصوي او په بیانیه کـې د (چمتکـار) کلمه په (بلتکار) اړوي. چمتکار په هندي ژبه کې ابتکـار یـا کارنامـه او بلتکار جنسي تېري ته وایي. دا فیلم په کنـدهار کـې ( پـلار پروډکشـن کمپنۍ) په پښتو دبله کړی او(کارنامه) کلمه یې په (عِماله) اړولې چـې په دې ډول یې دا بیانیه نوره هم د خندا وړګرځولې ده. د بیانیې پښـتو متن په دې ډول دی:

(( درنـو حـاضرینو، ښـاغلو او آغلـو! جلالـتمآب لـومړی وزیـر پـري پټـي صاحب، درنو استادانو او محصلینو! السلام علیکم

نن که زموږ د پوهنتون نوم د لمر په شان ځلېږي، نو ویاړ یـې یـوازې د یوه سړي دی چې هغه زموږ د پوهنتـون رئـیس ډاکټـر وایـرس دی. دی ډېر زیارکښ او ستر انسان دی. له تېرو دېرشـو کـالو راهیسـې پـه دې پوهنتون کې پرله پسې عِماله کوي، هیله ده چې بیا به هم عماله کولـو ته دوام ورکړي. د دې پوهنتون محصلین خو بیخي حیران شوي چې یو سړی په خپل ژونـد کـې دومـره عمالـه څنګـه کـولای شي هـا؟ ښـاغلي ډاکټر وایرس تر ډېرو تجربو وروسته ځان دې ځـای تـه رارسـولی دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت قدر پېژندل او وخت په مناسب ډول لګول خو بايد سړی له ده ځخه زده کړي.

نن موږ محصلين په پوهنتون کې يو، خو سبا به په هيواد کې او له هېواد ځخه دباندې خپاره شو، زه باور لرم چې په هر هېواد کې چې اوسو، نو هلته به هم عماله کوو او د دې پوهنتون نوم به نور هم ځلوو. نړۍ ته به ښيو چې د عمالې کولو کوم ظرفيت چې د دې پوهنتون په محصلينو کې شته، هغه د نړۍ په هيڅ ځای کې هم نشته.

جلالتمآب لومړی وزير صاحب!

موږ عمالې ته ډېره اړتيا درلوده، کور مو ودان چې زموږ پوهنتون ته مو عماله ورکړې ده. که څه هم عماله له هر چا سره شته، خو زموږ رئيس صاحب يې بيخي په جېب کې ګرځوي او هيچا ته يې نه ورکوي. جلالتمآب لومړی وزير صاحب! زه فکر کوم چې اصلا دا عماله تاسې ده ته په لاس ورکړې ده، تاسې يې وګورئ چې دی دا عماله څنګه پر ځای کاروي)).

ب: معنوي بدلون: په دې بدلون کې يوه کلمه يا عبارت د خپلې اصلي مانا پر ځای داسې مانا يا تفسير کېږي چې د خندا وړ ګرځي. د بېلګې په توګه به د ښاغلي کاتب پاځون (ورکشاپ) نومي طنز راواخلو: (( ورکشاپ ترکيبي کلمه ده چې له (ورک) او (شاپ) څخه جوړه شوې ده. (ورک) دپښتو ژبې د ورک او لادرکه مانا لري او (شاپ) په لاتينه ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دوکان یا هټۍ ته ویل کېږي، نو ویلای شو چې ورکشاپ هغه هټۍ ده چې سامان آلات او هر څه پکې ورک وي. که ورک هم نه وي، نو د ترمیم لپاره میاشتې میاشتې انتظار باسي. ډېر ځله داسې هم پېښېږي چې د سامانونو پرزې پکې ورکې شي)).( ۸: ۸ مخ)

ج: گرامري بدلون: په دې ډول بدلون کې د یوه لغت رېښې او گرامري جوړښت ته بدلون ورکول کېږي، مثلاً یو لغت یا جمله په مصنوعي ډول عربي، انگرېزي یا پښتو بلل کېږي لکه الکمپیوټر، الموټر، السورناچیه، الربابیه، ډوډیته المابښامیه، الکبابت الشامیه او ضمنا بولانیه او شلومبیت الترویه او تر خوراک وروسته پړمخې پرېوتیه.

## ۱۲: سرچپه کول: (Reversal)

دا تخنیک هم بدلون ته ورته دی، خو توپیر یې دا دی چې په دې تخنیک کې یوازې یوه کلمه، یو مفهوم، یو شی او یو عمل سرچپه کېږي او په دې ډول له تناسب څخه وزي او د خندا وړ گرځي. مثلا یو چا پښې پورته نیولي او پر لاسونو روان وي. د خندا پر ځای ژاړي، امیر د مامور نقش لوبوي، مقتدی ملاامام ته نصیحت کوي. بې سواد باسواد ته زده کړه ورکوي، لوی سړی د کوچني کارونه کوي، نارینه د ښځو ځانگړي کارونه کوي. د بېلگې لپاره به د بي بي سي راډیو د پخواني خبریال ښاغلي گوهر رحمان گوهر خبره راواخلو، دی وایي: (( یو وخت مې په پېښور کې د پاکستان له ملي راډیو سره د خبریال په توگه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه. یوه ورځ په سټوډیو کې نـوکري وم او د خبرونـو، راپورونـو، مرکـو، ویناوو او سندرو تر منځ مې په ژوندۍ بڼه اناونسونه ورکول. په دغه ورځ مو د نشراتو په مهـالوېش کـې د پاکسـتان د بابـای قـوم (بابـای ملـت ) محمدعلي جناح وینا هم درلوده. د جناح وینا چـې خپـره شـوه، نـو مـا باید داسې اناونس ورکړی وای: گرانو اورېدونکو! تاسې د بابای قوم قاید اعظم محمد علي جناح وینا واورېـده، اوس بـه د گلنـار بـېگم پـه خـواږه اواز کې یوه سندره واورئ، خو په اشتباه کې خبره راڅخه سرچپه شوه او داسې مې وویل: گرانو اورېدونکو! تاسې د بابای قوم قاید اعظم محمد علي جناح په خواږه اواز کې سندره واورېده، اوس به د گلنار بېگم وینا واورئ)).

## ۱۳: دخندا وړ نوم ایښودل

په دې تخنیک کې پر یوه شخص، ادارې، کار یا فکر باندې داسې نـوم ایښـودل کېـږي چـې د خنـدا او ملنـډو وړ وگرځـي. لکـه لوېشـتکی، جگلاښـو، ډارن، تـورمخی، فیشـنتون، د تعـرض وزرات، کېبـل شـاهي، سوټه کراسي، ټوپکسالاري او داسې نور. دا ډول نومونه هغه وخت ډېر د خندا وړ گرځي کله چې نوم له شخصیت سره سمون و نه لري، لکه بـې سواد ته میرزاخان، ډارن ته دلاورخان، په ونه ټیټ ته چینارگل، بـدرنگ ته ښایسته خان او بوډا ته زلمی وویل شي. دغه ډول ځینو انسانانو ته د سپکاوي په نیت د حیوان نوم کـارول هـم د خنـدا وړ گرځـي لکـه خـر، سپی، سرکوزی، چرگ، مېږی، گیـدړ، سـورلنډی، چنگـاښ، چونگښـه، خزدکه او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴: ناسمه املا

ناسمه املا لفظي تخنیک بلل کېږي چې یو شمېر طنز لیکوال یې د لوستونکو د خندولو لپاره کاروي. د لوستونکو د خندا لامل دا دی چې د وخت په تېرېدو سره د انسان ذهن او سترگې له ځانگړي او مشخص لیکدود سره اشنا او د لیکدود په اړه خپل ذهن ته یو تصویر او تناسب سپاري، نو کله چې یوه کلمه یا جمله له طبیعي جوړښت او تناسب څخه وتلې ورته ښکاره شي، انسان ته خندا ورځي. د اوبو او برېښنا وزیر ښاغلي ممتازالحق لنډ ژوند لیک د ناسم لیکدود یوه بېلگه ده.

د هوبو او برېخنا وظیر شاه خلي مومطاض الهک لانډزوندلیق

شاه خلی مومطاض الهک د مرهون صراج الهک ژوی په (۱۳۴۸ه ش) قال فه قابل قې دې نرۍ طه سترگې غرولي دي. ابتداعیه طالیماط یې د حلمند ولایط مرکز لښقرگاه قې فیل او د بقلوریا د پراغط صند یې د امریقا د جرثي هیالت لارنسویل شاونزي چخه ترلاثه کړی ډی. فه ۲۰۰۱م قال قې یې د بالطیمور فوحنتون چخه فه هیداره او طجارط کې د ماصټرۍ صند تر لاثه کړ دی.

شاه خلي مومطاض الهک سانوي او لیصانث ذده قړي فه فاکسطان کې په خسوسي ډهول طرثره قړي جي. نوموړي د ذده کړې فه بحیر کې له زینو موصصاتو سره هم قار کاوه. دغه ډول د امریقا فه ټیقثاظ هیالت کې له یوې غیر انتفاهي موصصې ثره د وقیل او نړیوالو روابتو کې د هولسمشر سلاحکار حم فاته شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز ژبه

طنز له ادبیاتو او ادبیات له الفاظو سره اړه لـري. پـه ادبیـاتو کـې ژبـه د وسیلې تر څنګ هدف هم وي، ځکه چې ادبي ښـکلا د الفـاظو پـه بڼـه راڅرګنـدېږي او لوسـتونکی تـر اغېـز لانـدې راولي. انسـان د وخـت پـه تېرېدو سره له الفاظو سره عادت کېږي او دا الفاظ یې په ذهـن کـې یـو تناسب جوړوي چې ولسي ژبه هم ورته ویلای شو. کله چـې ولسـونه پـه ژبه کې نوي لغتونه واوري، نو نه ورباندې پوهېږي او که پوه هم شي، نو خپل یې نه ګڼي، هغه دی چې په نتیجه کې ژبه له تناسب څخـه وتلـې ورته ښکاري او نوي لغتونه یې د موسیقیت او آهنګ لـه پلـوه پـر غوږونـو ښه نه لګېږي. کېدای شي ولسونه د وخت په تېرېدو سره له نویو لغتونـو سره عادت او وروسته یې خپل وګڼي، خو که په لیکنه کې په لومړي ځل له داسې کلماتو سره مخ کېږي، نـو سـتړی کېـږي، لـه لیکنـې یـې خـوا توریږي او لوستل پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم ساده، روانه او ولسي ژبه د هرې ښې لیکنې ځانګړتیا ده، خو په طنز کې اړتیا بلل کېږي. څرنګه چې د طنز لوستونکي عام خلک دي او اکثره لوستونکي طنز د تفریح لپاره لولي، نو باید د طنز ژبه ساده او ولسي وي. طنز لیکوال باید داسې الفاظ غوره کړي چې د آهنګ تر څنګ عامه او څرګندده مانا هم ولري. په طنز کې ولسي-کنایې، محاورې، اصطلاحات، ولسي شعرونه او متلونه کارول او ځینو کرکټرونو ته جالب تکیه کلامونه ورکول نه یوازې دا چې لیکنه په زړه پورې کوي، بلکې د هرې سویې د خلکو لپاره یې لوستل اسانه کېږي.

د لفظي صنعتونو استعمال هم د طنزي ژبې یوه مهمه برخه ده. په لفظي صنایعو کې همدا الفاظ په هنري ډول سره اوډل کېږي او په طنز کې د خندا تومنه پیدا کوي. په ځینو بانډارونو کې به مو لیدلي وي چې یو څوک په خبرو کې اشتباه وکړي،یوه کلمه ناسمه تلفظ کړي او خلک یې پر خبرو خاندي. موږ کولای شو چې په شعوري ډول ځینې کلمې یا جملې داسې سره واړوو چې د خندا وړ وګرځي.مثلا یو نظامي قوماندان وایي: موږ د کوماندو لپاره داسې ځوانان غوره کوو چې له جسمي پلوه پیاوړي وي. اوس که په دې جمله کې د (جسمي) پر ځای (جنسي) کلمه راوړو د جملې مفهوم بدلون مومي او د خندا وړ ګرځي. استاد نومیالی د (بازسازي) کلمه په (بادسازي) اړوي او د ثور د اوومې کودتا د طنز په ژبه داسې مسخره کوي:

د ټمبه غوایي له بېخه سا وتله په تېزي

دوی ویل دا ده بازسازي، ما ویل دا ده بادسازي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طنز لیکوال ګڼ شمېر تخنیکونه په واک کې لري چې په مرسته یې په طنـز کـې خنـدوونکی انځـور جـوړ او کـولای شي چـې پـه دې ډول لوستونکو تـه د ټـولنې ګـڼ شـمېر ظریـف اړخونـه وروښـیي او هغـوی وخندوي، خو که و نه توانېږي چې د خپل طنز لپاره داسـې سـوژه پیـدا کړي چې په خپل ځان کې د خندا مالګـه لـري او یـا د خنـدا لپـاره لـه معنوي صنعت څخه کار واخلي، نو لفظي صـنعت اسـانه کـار دی او پـه طنزي لیکنه کې د خندا برخه پوره کولای شي.

په طنزي ژبه کې بله مهمه خبره پـه یـوه موضـوع پـورې تـړلي ځـانګړي اصطلاحات او ټرمینالوژي ده. موږ مجبور یو چې د طنز لیکلو پر مهـال دا اصطلاحات مشخص او پر ځای وکاروو. مثلاً که غـواړو د معـاینې یـا عملیاتو پر مهال له ناروغ سره د ډاکټر غیر مسـلکي اخـلاق وښـیو، نـو باید د معاینه کولو یا عملیاتو په بهیر کې ټول پړاوونه، افزار او پرسونل په خپلو طبي نومونو معرفي کړو، که داسې و نه کړو، نو لوستونکی باور نـه کوي چې دا د یوه روغتون انځور دی. کله چې د روغتون انځـور نـه وي، نو لوستونکو ته په روغتون کې نیمګړتیاوي هم نه شو ورښوولای. که پـر یوه نظامي موضوع طنز لیکو، نو باید ټول مروج عسکري اصطلاحات پـه پام کې ولرو. که په طنز کې یو عسکر خپل قوماندان ته په (لالو ماما) ورغږ کړي، لوستونکی باور نه کوي چې ګواکي دا دي یوه نظامي قطعـه وي.

په طنز کې د اجتماعي ناخوالو په اړه د لوستونکي قضاوت کول د هدف یوه مهمه برخه ده او لوستونکی هغه مهال ښه قضاوت کولای شي چـې د لیکنې تر اغېز لانـدې راشي او د لیکنـې تـر اغېـز لانـدې هغـه وخـت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلای شي چې انځور واقعي غوندې ورته څرګند شي. که لیکوال په یوه موضوع پورې له ټرولو ځانګړو اصطلاحاتو سره بلد نه وي، نو ښه به دا وي چې له یوه مسلکي شخص سره مشوره وکړي.

د موضوع تر څنګ د طنز لپاره د قالب انتخاب هم د طنز پر ژبه اغېز کوي. په ادبي لیکنه کې له ګڼ شمېر ادبي تخنیکونو او تخیل څخه کار اخیستلای شو، خو په ژورنالستیک اثر کې هر ادبي صنعت نه شو کارولای. که د احمد په نوم د یوه ځوان د وژل کېدو پېښه په لنډه کیسه کې را اخلو، نو ویلای شو چې ( د احمد په مرګ اسمان هم ډېر غمجن و، زړه یې تک شین و، سپوږمۍ هم په ویر لړلې وه، نن یې بیخي مخ انسانانو ته ور ښکاره نه کړ او د تورتم شاته پټه وه) خو که پر همدې پېښه راپور جوړوو، نو داسې ژبه نه شو کارولای. ژبه په ادب کې هم وسیله او هدف دی، خو په ژورنالیزم کې یوازې وسیله ده. په ادبي اثر کې الفاظ د ښکلا او موسیقیت لپاره غوره کېږي، خو په ژورنالستیک اثر کې د ژبې هدف یوازې د موضوع وضاحت او پیغام رسول وي، نو د طنز لپاره چې هر ډول قالب غوره کوو، مجبور یو چې په هماغه قالب پورې تړلې ژبه وکاروو.

ځینې طنزي تخنیکونه هم ځانګړې ژبه لري چې باید پام ورته وشي. د بېلګې په ډول پاروډي په طنز کې یو تخنیک دی. که یو کلاسیک سبک پاروډي کوو باید ژبه یې د زړې نسخې غوندې وي. د بېلګې په ډول محمدیار یار د امیر کروړ ویاړنه پاروډي کړې ده. یار صاحب تر ډېره بریده هڅه کړې چې د امیر کروړ په ویاړنه کې راغلي لغتونه استعمال کړي. که څه هم د امیر کروړ په ویاړنه کې ځینې لغتونه اوس له

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعماله لوېدلي او يار صاحب هـم پـه خپلـو نـورو شـعرونو کـې داسـې لغتونه نه کاروي، خو د پارډي تخنيک دې ته اړ کړی چې د امير کروړ د دورې ژبه استعمال کړي. په لنډ ډول ويـلای شـو چـې د طنـز ژبـه بايـد روانه، ولسي، له موضوع، قالب او طنزي تخنيک سره سمه انتخاب شي. که طنز ليکوال خندوونکې سوژه نه شي پيدا کـولای يـا معنـوي صـنعت سم نه شي کارولای، نو کولای شي له لفظي صنعت څخه کار واخلي او په دې ډول په طنز کې خندوونکی قوت پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د طنز لیکلو عملي پړاوونه

تر دې ځایه مو د طنز پر تیورۍ بحث وکړ. اوس به د موضوع دا اړخ وڅېړو چې په عملي ډول طنز څنګه ولیکو؟ کوم کار لومړی او کوم یې وروستی وکړو؟ له سره تر پایه کوم ټکي په پام کې ونیسو او له کومو پړاوونو څخه تېر شو؟ هر لیکوال د لیکلو ځانګړې کړنلاره او ډول ولري، خو د طنز لیکلو پړاوونه له نورو لیکنو سره توپیر لري. زه غواړم په دې بحث کې تر ډېره بریده له لوستونکو سره خپلې شخصي تجربې شریکې کړم. زه طنز په پنځو عمده پړاوونو کې لیکم چې په دې ډول دي:

### ۱: موضوع غوره کول

د طنز لیکلو په بهیر کې سوژه یا موضوع غوره کول لومړی ګام دی. موضوع معمولا درې سرچینې لري لکه تجربه، مشاهده او مطالعه. د لیکوال خپلې تجربې تر ټولو ښه سرچینه ګڼل کېږي، ځکه پېښه وربانديې تېره شوې، اغېز یې وربانديې کړی، ذهن یې ورنارامه کړی او په پېښه پورې تړلي ټول اړخونه یې په خپلو سترګو لیدلي دي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکان، زمان، کرکټرونه، د پېښې عوامل، نتیجه او داسې نور اړخونه. تر ټولو مهمه دا ده چې لیکوال د پېښې کرکټر پاته شوی دی.

په ظاهره د طنز لپاره موضوعات ټاکل اسانه کار برېښي. لیکوال کولای شي د اجتماعي ناخوالو یو اوږد لیست چمتو کړي، خو په دې لیست کې هره موضوع به تش جسد ته ورته وي چې روح یې اجتماعي انتقاد او د خندا تومنه ده. کېدای شي له انتقاد سره د ادبي صنعت په مرسته خندوونکی انځور هم وتړو، خو ولسي رنګ به یې کمزوری وي، نو ښه به دا وي یوه داسې موضوع غوره کړو چې ولسي- کیسه هم ورسره تړلې وي. د دې کار یوه ګټه دا ده چې دا ډول کیسې په خپل ځان کې د خندا تومنه لري. دوهم دا چې پوهېږو موضوع څومره مهمه او د خلکو له ورځني ژوند سره تړلې ده. دریم دا چې موضوع له ولس څخه راوتلې ده، که د هنر په ګېڼه او لوړ تخیل سینګار او بیرته ولس ته وړاندې شي، ولس خپل انځور پکې ویني او د زړه له تله یې خوښوي.

که لیکوال پام وکړي، نو په خپل ورځني ژوند کې یې خامخا داسې څه تجربه کړي او یا ورسره مخامخ شوی چې طنز وربانډې لیکل کېدای شي. د بېلګې په ډول یو لیکوال په خپل موبایل کې کریډیټ جمع کوي، خو کله چې خپل یو دوست ته زنګ وهي، نو د مخابراتي شبکې له خوا ورته ویل کېږي چې تاسې کافي کریډیټ نه لرئ. په دې وخت کې لیکوال حیرانېږي، له ځان سره وایي چې ما خو همدا اوس کریډیټ جمع کړ، شبکه ولې داسې وایي؟ په دې وخت کې د مخابراتي شبکې د شکایاتو نمبر ته زنګ وهي او خپله ستونزه ورسره شریکوي. شبکه ورته وایي چې تاسې ( اسلامي معلومات) نومي ځانګړی پیکېج یا بسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعاله کړې ده. کله چې په خپل موبايل کې کريډيټ جمع کوئ، نو پيسې يې د هماغه پيجکېج له مخې په اوتومات ډول شرکت ته ځي او تاسې داسې فکر کوئ چې خدای مه کړه زموږ شبکه ستاسې پيسې غلا کوي. په دې وخت کې ليکوال په قهر کېږي او د شبکې د خدماتي څانګې مامور ته داسې وايي: (( درواغ مه وايه، ما هيڅکله هم دا پيکېج نه دی فعاله کړی، بيخي ورسره بلد نه يم او بله خبره داده چې زه هندو يم، نو د اسلامي معلوماتو پيکېج به ولې فعاله کوم؟ ښکاره خبره ده چې ستاسې شبکه له مشتريانو څخه پيسې غلا کوي)).

ليکوال تر دې تجربې وروسته د نورو مخابراتي شبکې غلا ته متوجه کېږي او غواړي چې دا کار وغندل شي. د مخابراتي شبکو په اړه به خلک ډول ډول شکايتونه لري، خو ليکوال ته دا موضوع ځکه مهمه ده چې يو خو يې دی قرباني شوی او بل نو د ده تجربه پکې شامله ده. دا تجربه د ليکوال کار اسانه کوي، ځکه کيسه په خپل ځان کې انتقاد او د خندا تومنه دواړه لري او په لږ بدلون سره طنز ورباندې ليکل کېدای شي.

د موضوع موندلو بله سرچينه مطالعه ده. دلته زموږ هدف د چاپي موادو مطالعه نه، بلکې ټولې هغه کيسې او پېښې دي چې ليکوال ته د خلکو، کتابونو او رسنيو له لارې رسېږي. د بېلګې په ډول د کورنيو چارو وزير د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې په اړه مطبوعاتي کنفرانس رابللی وي. يو خبريال له وزير څخه داسې پوښتنه کوي: د کابل په ډېرو ځايونو کې هيروئين په ښکاره ډول او سپينه ورځ خرڅېږي. ايا تاسې دا خلک نه شئ نيولای؟ نه پوهېږئ چې دا پوډر چېري جوړېږي، له کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځايه راځي، سوداګر يې څوک دي او څوک لاس ورسره لري؟ وزير په خندا ورته وايي: (( موږ د بشري خواخوږۍ له مخې د پوډرو دوکانونه نه بندوو، ځکه چې په کابل کې زرګونه پوډريان ژوند کوي، که موږ د پوډرو خرڅولو دوکانونه وتړو، پوډريانو ته پوډر نه رسېږي او په تکليف کېږي، ان دا چې کېداى شي مړه شي، ځکه هغوی دومره توان او پيسې نه لري چې پوډر خپله له بهرنيو هيوادونو څخه راوارد کړي او يا دي د پوډرو رانيولو لپاره ليري سيمو ته ولاړ شي)).

په رسنيو کې دې ته ورته زرګونه خبرونه او راپورونه خپرېږي چې ليکوال ته موضوع ورکوي. د بېلګې په ډول ليکوال په ټکسي کې سپور دی او له (الف) راډيو څخه داسې يو خبر اوري: (( په کابل کې د تور صمد په نوم يوه مشهور غله ځان پوليسو ته وسپاره. تور صمد د پوليسو له خوا د څو نفرو په وژلو او ګڼ شمېر غلاوو تورن شوی دی. پوليسو له دوو کالو راهيسې د هغه د نيولو هڅه کوله، آن دا چې د هغه د وژلو يا ژوندي نيولو پر سر يې لس مليونه افغانۍ نغده جايزه هم ايښې وه، خو تور صمد تری تم و او هيڅوک نه پوهېدل چې هغه به چېري پټ شوی وي. تور صمد نن سهار لس بجې په کابل کې پوليسو ته تر سپارلو مخکې (الف) راډيو ته وويل چې دی ځکه ځان پوليسو ته سپاري چې غواړي د ده پر سر ايښوول شوې جايزه په خپله وګټي.))

په دې خبر کې که څه هم د خندا تومنه شته، خو اجتماعي انتقاد ورپورې تړل نور فکر او کار غواړي. کله چې موږ د خلکو له خولې يا رسنيو کې داسې خبرونه يا راپورونه اورو، نو ضرور نه ده چې هغه پېښه کټ مټ راواخلو، داسې کيسې موږ ته د اجتماعي انتقاد او خندا اغېزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي ډېر ښه مواد په لاس راکوي، کېدای شي په یوه پېښه کې یوازې د خندا مالګه موجوده وي، خو لیکوال باید دا مواد په ډېر هنرمندانه ډول پاخه، لیکنې ته چمتو او پاته اړخونه یې بشپړ کړي. لیکوال باید خامخا په کیسه کې نغښتی انتقاد، د خندا علت، د پېښې مکان، زمان، کرکټرونه او نور اړخونه څه ناڅه بدل کړي، که داسې و نه کړي، نو لیکنې ته یې ټوکه یا شفاهي طنز ویلای شو چې د لیکوال ملکیت نه بلل کېږي.

د موضوع موندلو دریمه سرچینه مشاهده او ولسي ـ بانډارونه دي. لیکوال خامخا په ټولنه کې داسې څه په خپلو سترګوویني او یا یې له خلکو اوري چې که لږ بدلون ورکړل شي، نو په تول پوره طنزونه ځنې جوړېدای شي. د بېلګې په ډول یو سړی په بانډار کې ناست او د دولتي مامورینو له رشوت څخه سر ټکوي. وایي له کوچنیو مامورینو څخه نیولې بیا تر وزیرانو پوري ټول په فساد ککړ دي. بل ورپسې راغبرګه کړي چې ولسمشر خپله له فاسدو او رشوت خورو سره شریک دی، که ورسره شریک نه وای، نو فاسد مامورین به یې نه مقرر کول او یا به یې جزا ورکړې وای، خدای مي دي غاړه نه بندوي که ولسمشر له هر مامور سره شریک نه وي، نو له وزیرانو سره خو خامخا شریک دی، هسې درواغ وایي چې زه له فساد سره مبارزه کوم، داسې کوم او هغسې کوم. بل بانډاري بیا وایي: یاره زه خو وایم که ولسمشر رښتیا هم له فساد سره مبارزه کوي، نو خپل ټول وزیران، مرستیال وزیران، رئیسان، والیان او نورې غټ بلاوي دي په یوه پلمه ارګ ته وروغواړي او بیا دي د دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ کې ځانمرګي وکړي، په دې ډول به له افغانستان څخه فساد یو مخ ورک شي.

اوس که په دې ولسي بانډار کې د خلکو نظریات سره راغونډ کړو، نو نه یوازې دا چې د طنز لپاره مو یو ښه موضوع پیدا کړه، بلکې د طنزي کیسې یو ښه پلاټ مو هم تر ګوتو کړ. په دې کیسه کې هم اجتماعي انتقاد او هم د خندا تومنه شته، خو دا چې ولسمشر په څه ډول په ارګ کې ځانمرګی کوي د خندا پله یې نوره هم غني کېدای شي. زما د ډېری طنزونو موضوعات او کیسې له ولسي بانډارونو غوره شوي دي. زما یو طنز (په ارګ کې ځانمرګی) چې په (۱۳۹۲ ه ش) کال لیکل شوی، موضوع او پلاټ یې د پورتني ولسي- بانډار څخه غوره شوي دي.

## ۲: د موضوع په اړه څېړنه

کله چې لیکوال موضوع غوره کړه باید په ذهن کې یې ښه پخه کړي. داسې نه شي چې لکه ډاګې یا پوسته رسوونکی کیسې له ولسي- بانډارونو څخه راواخلي او بیا یې کټ مټ په هماغه بڼه بیرته ولس ته ورسوي. لیکوال باید لکه یو مجسمه جوړوونکی د غره سپېره او زیږه ډبره په خپلو هنرمندو ګوتو وتوږي، د ولس د خوښې، اړتیا، ذوق او غوښتنو سره سم یې وسکڼي او بیا یې ولس ته وړاندې کړي. په لومړي ګام کې د موضوع ټولو اړخونو ته د لیکوال پام نه وراوړي، نو ښه لاره دا ده چې موضوع له ځان سره یاداښت او هغه اړخونه یې هم ولیکي چې تر دې مهاله د ده په ذهن کې راګرځي. تر یاداښت وروسته که څه هم لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل کار بوخت کېږي، خو ذهن یې له هماغې موضوع سره تړلی وي، که لږ وخت وروسته بیرته پر هغه موضوع کار وکړي، نو موضوع به یې په ذهن کې ښه پخه او انکشاف ته چمتو شوې وي.

کله چې موضوع په ذهن کې پخه شوه او لیکوال ډاډه شو چې موضوع په لیکنه ارزي، نو باید د موضوع په اړه څېړنه وکړي. مثلا که موضوع طبي وي، نو باید له ډاکټر سره مشوره وشي. که څه هم ډاکټر به لیکوال نه وي، خو لږ تر لږه په طبي اصطلاحاتو کې مرسته کولای شي. د موضوع د مسلکي څېړنې تر څنګ له لیکوالو سره مشوره کول هم ډېره ګټه لري. که څه هم ځینې لیکوال دا کار شرم ګڼي یا ډارېږي چې څوک به یې موضوع غلا او یا به ناسمه مشوره ورکړي، خو ما ( همت) د لیکوالو له سلا مشورو ډېره ښه نتیجه ترلاسه کړې ده. له داسې لیکوالو مې هم ډېر څه زده کړي چې آن د طنز الف و با هم نه پېژني. زه ځینې وختونه خپل طنزونه تر خپرېدو مخکې عامو خلکو ته هم لولم او د هغوی غبرګون ګورم. غواړم پوه شم هغه هدف چې ما د طنز لپاره ټاکلی ایا خلک یې احساس کولای شي؟ ایا دوی ته خندا ورځي او د خندا په پای کې اجتماعي ناخوالو ته متوجه کېږي؟ ایا د طنز ژبه خوږه، ساده او د پوهاوي وړ ده؟

لیکوال باید له ځانه وپوښتي چې ایا رښتیا یې طنز لیکلی او که یې په دې نوم هجوه، هزل یا کومیډي اثر لیکلی دی؟ ایا رښتیا یې یوه اجتماعي بې عدالتي په نښه کړې او که یې په غیر شعوري ډول اجتماعي ارزښتونه تر پښو لاندې کړي دي؟ دې پوښتنو ته ځوابونه په یوازې سر نه شو موندلای، نو ښه به دا وي چې خپل اثار تر خپرېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې له ولس سره شریک کړو. زه داسې څو لیکوال پېژنم چې لس شل کاله د طنز په نوم لیکنې کوي، خو طنز نه شو ورته ویلای، هغه څه چې دوی یې طنز بولي نه یې خپله تعریفولای شي او نه یې لوستونکي هغسې انګېرې.

ما څو واره له عامو خلکو څخه ډېر ښه نظریات اورېدلي دي. آن دا چې ځینې وختونه طنز ولیکم او د مشورې لپاره لازم څوک پیدا نه کړم، نو خپلو بچیانو ته یې لولم او د هغوی نظریات اخلم. زما په اند دا ضرور ده چې کله موږ کومه لیکنه ټولنې ته وړاندې کوو باید لومړی یې امتحان کړو چې مطلوبه نتیجه ورکوي که نه؟ که یې لازمه نتیجه نه ورکوله باید له سره کتنه ورباندې وکړو. زما په اند لیکوال باید تل ځان پوه کړي چې خلک د ده د لیکنو په اړه څه نظر لري؟ که داسې و نه کړي، نو د لیکنو سا به یې له زېږېدو سره سم ختلې وي.

## ۳: د هدفونو غوره کول

کله چې مو موضوع په ذهن کې پخه او لیکلو ته چمتو شوه، نو د هدفونو وار رارسېږي. په لیکنه کې هدفونه پر دوو برخو وېشلای شو چې یو اساسي او بل فرعي هدفونه دي. د بېلګې په ډول غواړو له کم عمره نجونو سره د بوډاګانو سړو واده کول وغندو. تر غور وروسته پرېکړه کوو چې طنز د لنډې کیسې په بڼه لیکو. غواړو وښیو چې په کیسه کې د نصرو لالا په نوم اویا کلن بوډا له یوې شپاړس کلنې نجلۍ سره د هغې له خوښې پرته واده کوي. اوس دې هدف ته د رسېدو لپاره باید څو فرعي هدفونه وټاکو. د بیلګې په ډول غواړو چې بوډا د لوستونکو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر کې سپک معرفي کړو، د هوس لېونی يې وښيو، دا کار يې بې ضرورته وګڼو، عملا يې داسې وښيو چې يو ناوړه کار يې کړی، باطله لار يې غوره کړې او خلک کرکه ځنې کوي، په جسمي لحاظ کمزوری او آن دا چې پر خپلو پښو د ناوي خونې ته هم نه شي تلای. دا ټول هغه څه دي چې زموږ مرکزي هدف پياوړی کوي.

په طنز کې د هدف تر څنګ د پيغام خبره هم خورا مهمه ده. هغه څه چې د ليکنې په هره ليکه او پاراګراف کې د لوستونکو پام هدفونو ته وراړوي پيغام بلل کېږي، نو ويلای شو چې پيغام هدف ته د رسېدو لپاره وسيله ده. که يو فرعي هدف دا وي چې نصرو لالا په جنسيـ لحاظ کمزوری وښيو، نو دې هدف ته د رسېدو لپاره د دې انځوريز پاراګراف په مرسته پيغام ورکولای شو:

(( نصرو لالا د ناوي له مخ څخه شال پورته کړ، خوله يې ويړه شوه، لکه د غوجلي موږي ژېړ او خيرن غاښونه يې ښکاره شول، په جېبونو کې يې ګوتې ووهلې. د ګوليو څو خيرن پاکټونه يې را وايستل، يوې او بلې خوا ته يې سره واړول، ببرې وروځې يې لکه د تږي خره راوځړېدې، يو پاکټ يې ورپورته کړ او بيا يې بيرته په نورو پاکټونو کې ورواچاوه، له دې سره سم يې رنګ لکه زعفران ژېړ واوښت او له ځان سره وبونګېد: اوففففففففف! هغه زما د ځوانۍ ګولۍ څه شوې؟ لکه چې راڅخه هېرې شوې دي)). کله چې ګورو نصرو لالا د جنسيـ قوت ګولۍ خوري، نو په ذهن کې مو د طنز يو فرعي هدف ياني جنسيـ کمزوري راګرځي، له دې سره سم مو د ښځو مظلوميت سترګو ته درېږي او له نصرو لالا څخه کرکه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکی د طنز لوستلو په بهیر کې د پیغامونو په مرسته په نوبت یـوه یوه فرعي هدف ته متوجه کېږي او لـه مرکـزي هـدف سره تـړاو ورکـوي. کله چې لوستل پای ته رسېږي، نو د لوستونکي ذهن پر مرکزي هـدف تمرکز کوي. هدفونه باید جلا پر یوه کاغذ ولیکـل شي چـې وروسـته پـه شعوري ډول هر هدف ته جلا جلا پام وشي، خو که هدفونه و نه لیکل شي، نو کېدای شي یو ډېر مهم هدف راڅخـه پاتـه شي. کـه څـه هـم د لنډکیو طنزونو لپاره د هدفونو یادابښت ته اړتیا نشته، خو که طنزي ناول یا طنزي راپور لیکو، نو باید هدفونه یې مخکې له ځان سره یادابښت او د لیکنې پر مهال په خپل نوبت پام ورته وکړو.

## ۴: د لوښي یا قالب غوره کول

کله چې مو موضوع، څېړنه او هدفونه غوره کـړل، د دې وخـت دی چـې مناسب لوښی، قالب یا چوکاټ ورته غوره کړو. باید پام وکړو چې لوښـی د محتوا په اندازه وي. که د طنز محتوا په ځلوریزه کې ځـایېږي بایـد د قصیدې په قالب کې یې وړاندې نه کړو او کـه محتـوا د نـاول پـه انـدازه لویه وي باید د لنډې کیسې په قالب کې وړاندې نـه شي. کـه کـوچنۍ محتوا ته لوی قالب غوره کړو تـاوان یـې دا دی چـې لوسـتونکی سـتړی کوي، طنز بې خونده، وچ او بې مفهومه ورته ښکاري او پـه نتیجـه کـې یې لوستل پرېږدي. دغه ډول که لویه محتـوا پـه کـوچني چوکـاټ کـې وړاندې کړو د موضوع جزیات نه شو وړاندې کولای، په دې صـورت کـې مجبور یو د موضوع ټولو اړخونو ته پام و نه کړو، پر هـر څـه سرسري تېـر شو چې په نتیجه کې د طنز هنري او ریالستیک اړخ کمزوری کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قالب په غوره کولو کې د لیکوال استعداد او تجربه هم ضرور ده. که څوک شاعر نه وي، نو د نظم په بڼه طنز نه شي لیکلای، که په داستاني لیکنو کې برلاسی نه وي، نو د ناول، لنډې کیسې یا سفرنامې په قالب کې ښه طنزونه نه شي لیکلای. دغه ډول که څوک خبریال نه وي، نو په ژورنالیستیک قالب کې لیکل شوي طنزونه یې د خلکو نه خوښېږي، نو په کار ده چې لیکوال په هغو قالبونو کې طنزونه ولیکي چې پر هغه پوره حاکمیت ولري.

## ۵: د طنز لیکلو تخنیکونه غوره کول

تر قالب یا لوښي وروسته باید د طنز لیکلو تخنیکونه غوره شي. مخکې مو ویلي وه چې طنز له دوو اساسي ارکانو څخه جوړ دی چې یو اجتماعي انتقاد او بل خندوونکی انځور دی. انتقاد کول ډېر اسان کار دی، آن دا چې عام خلک هم انتقاد کولای شي، خو انتقاد له خندوونکي انځور سره تړل او بیا هغه په هنري انداز سره وړاندې کول په طنزي تخنیکونو یا ادبي صنعتونو پورې اړه لري.
د تخنیکونو غوره کول هم تر یوه بریده د طنز په موضوع او محتوا پورې اړه لري. تور طنزونه ځان ته جلا او سپین طنزونه جلا تخنیکونه لري. مثلا آیروني، د ستاینې په بڼه غندنه او ګروټېسک هغه صنعتونه دي چې په طنز کې د انتقاد خوا ځلوي او د ترخه یا تور طنز لپاره ښه نتیجه ورکوي. دغه ډول پاروډي، تشبیه، بدلون، مبالغه، سرچپه کول او ناسمه املا بیا هغه تخنیکونه دي چې په طنز کې د خندا اړخ پیاوړی چې له دې ډول تخنیکونو څخه معمولا د سپین طنز په لیکلو کې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيستل کيږي. که ليکوال د طنز تر ليکلو مخکې خپل استعداد او طنز محتوا ته پام وکړي او بيا په هغه رڼا کې د طنز ليکلو صنعتونه له ځان سره يادانښت کړي، نو په تول پوره طنز ليکلای شي.

پــای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه:

۱: الفت، ګل پاچا، (۱۳۳۹ه ش) لیکوالي، املا او انشا، کابل: پښتو ټولنه

۲: ادیب، عبدالکافي (۱۹۹۰م) خورې پاڼې، چارسده، پښتونخوا: ملت پبلیکېشنز

۳: بېنوا، عبدالروف،( ۱۳۹۰ه ش) ادبي فنون،کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه

۴: باختري، منیژه، ( ۱۳۸۸ ه ش) انګبین نیشخند و شرنګ نوشخند، کابل: انتشارات سعید

۵: بشیر، ملالۍ، (۱۳۹۵ ه ش) غلبېل او کوزه، کندهار: ټاټوبی جریده، څلورم کال، پرله پسې اتمه ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦: پاځون، کاتب، ( ۱۳۷٦ه ش) د ښار په ستېډیوم کې، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

۷: پاځون، کاتب، (۱۳۷٦ ه ش) پندونه او خوندونه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

۸: پاځون، کاتب، (۱۳۷٦ ه ش) د بنجاره هټی، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

۹: پولارډ، آرتر، ( ۱۳۷۸ه ش) طنز، تهران

۱۰:جهاني، عبدالباري، (۱۳۹۳ ه ش) راز و نیاز، کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه

۱۱: حبیبي، عبدالحی،( ۱۳۸۴ه ش) د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه

۱۲: حبیبزی، طلا، (۱۳۸۸ه ش ) طنز او خندا، کابل: دانش خپرندویه ټولنه

۱۳: حلیم، صفیه، ( ۱۹۹۴م)د سندباد اووه سفرونه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه

۱۴: خټک، خوشال خان،( ۱۳۹۳ه ش) د خوشال کلیات، کابل: دانش خپرندویه ټولنه

۱۵: خموش،عبدالقدیر، (۱۳۹۰ ل) په پښتو ادبیاتو کې د طنز پیدایښت او پایښت، ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه

۱٦: روهي، محمد صدیق، (۱۳۸۴ه ش) د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷: روهي، محمد صدیق،(۱۳۸٦ش) ادبي څېړنې،کابل: دانش خپرندویه ټولنه

۱۸: رحماني، عبدالرحمن، (۱۳۹۴ه ش) د موسیقۍ رنګونه او پیوندونه، کابل

۱۹: رشیدي، جمشید، ( ۱۳۹۱ه ش)ادب تیوري،کابل: انتشارات نامي

۲۰: زېرى، صالح محمد، ( ۱۳۹۰ ه ش) کلیله او دمنه، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه

۲۱: سادات، عاقله، ( ۱۳۹۳ ه ش) ادبڅېړنه، پېښور: میهن خپرندویه ټولنه

۲۲: شینوارى، دوست،(۱۳٦۵ه ش) د ادب د تیورۍ اساسونه، کابل: دولتي مطبعه

۲۳: شمیسا، سیروس، ( ۱۳۸٦ه ش) انواع ادبي، تهران

۲۴: شېرزاد، محمد اقا، ادبي فنون، ۱۳۹۲ش، کابل

۲۵: ښکلی، اجمل،( ۱۳۹۱ ه ش) د کره کتنې مکتبونه، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه

۲٦: ښکلی، اجمل، (۱۳۹۰ه ش) کال سبکپوهه، کابل: دانش خپرندویه ټولنه

۲۷:ظفري، مظفر عالم ( ۱۹۹٦م) اردو صحافت مین طنز و مزاح، لاهور: پیروز سنز

۲۸: ظفر، ظفرخان، ( ۲۰۰۴م)د ناوي لور ، پېښور: یونیورستي بک اجنسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹: عمید، حسن، (۱۳۸۱ ه ش)، فرهنگ عمید، تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر

۳۰: غني، غني خان، ( ۲۰۱۴م) لټون، پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي

۳۱: غضنفر، اسدالله، ( ۱۳۹۲ه ش)د نثر لیکلو هنر، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه

۳۲: فریاد، سید فاروق، ( ۱۳۸۲ ه ش) هنر ګرافیک، کابل

۳۳: قانع، عصمت، (۱۳۹۴ه ش) د یاغیانو سرود، کابل

۳۴: کاڼی، محمد طاهر، ( ۱۳۹۴ه ش) بهرني لیکوال، کابل: علومو اکاډمي

۳۵: کریچلي، سیمون، ( ۱۳۴۹ه ش) در باب طنز ، تهران

۳۶: کوکه، داګلاس کالین، ( ۱۳۸۹ه ش) آیروني، تهران

۳۷: مخلص، ولي محمد،( ۱۳۷٦ه ش) د لوی مخلص کلیات، کوټه: صحاف نشراتي موسسه

۳۸: مکي، ابراهیم، ( ۱۳۸۳ ه ش) شناخت عوامل نمایش، تهران

۳۹: مینه یار، عبدالوهاب،( ۱۳۸۹ه ش) د خیال پسرلی،هلمند: هلمند ادبي بهیر

۴۰: مفید، حمید، ( ۱۳۹۱ه ش) ادم اوپن، انتشارات تاک

۴۱: مرچنټ، ویلیم ملوین، ( ۱۳۷۴ه ش) کومیډي، ایران: کتابخانه ملي ایران

۴۲: نوراني، جلال، (۱۳۹۱ه ش)هنر طنزپردازی،کابل: بیهقي کتاب خپرولو موسسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۳: نوراني، جلال،( ۱۳۸۹ه ش) ادبيات دراماتيک، کابل: انتشارات سعيد

۴۴: نوراني، جلال، (۱۳۹۰ش) پرودی و پرودی سازان، کابل: ميوند خپرندويه ټولنه

۴۵: نوراني، جلال، (۱۳۹۰ش)گروتيسک، کابل: ميوند خپرندويه ټولنه

۴۶: نظري، محمود، (۱۳۹۵ه ش) د طنز نړيوال تاريخ، لومړی ټوک، کابل: دانش خپرندويه ټولنه

۴۷: نظري، محمود، ( ۱۳۸۷ ه ش) طنز څه شی دی؟( ۱۳۸۷ ه ش) کابل: دانش خپرندويه ټولنه

۴۸: نظري، محمود، ( ۱۳۸۷ ه ش) حاضر ځوابي کابل: دانش خپرندويه ټولنه

۴۹: هوتک، محمد،( ۱۳۳۹ ه ش) پټه خزانه، کابل: د پوهنې وزارت

۵۰: هېوادمل، زلمی، ( ۱۳۷۹ه ش) د پښتو ادبياتو تاريخ، پېښور : دانش خپرندويه ټولنه

۵۱: هيوادمل، زلمی، ( ۱۳۹۰ ه ش) د پښتو نثر اته سوه کاله ، کابل: دانش خپرندويه ټولنه

۵۲: هاشمی، محی الدين،( ۱۳۷۲ ه ش)د ليکوالۍ فن ، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه

۵۳: هاشمي، محی الدين،۱۳۹۳ ه ش)، د ادبپوهنې څانګې، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۴: همکار، محمد ابراهیم، ( ۱۳۹۲ه ش) بدیع فن او پښتو شاعري، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه
۵۵: همت، عبدالنافع، ( ۱۳۸٦ه ش) سپي ځنګه مډالونه وګټل؟ کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه
۵٦: همت، عبدالنافع، ( ۱۳۹۰ ه ش) سیاسي عینکې، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه
۵۷: همت، عبدالنافع، ( ۱۳۹۵ ه ش) د نصرو لالا واده، کندهار: سورغر اوونیزه، ( ۴۱۲) پرله پسې ګڼه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**